# الجواهر النبوية

## (۳۱۹) احاديث

Ketabton.com

ليكوال

مولوي محمد غني فاروقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

خپرندویه ټولنه

د کتاب ځانګړنې :

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | :: | الجواهر النبوية (۳۱۹) احاديث |
| لیکوال | :: | مولوي محمد غني فاروقي |
| کمپوزر | :: | عبيدالله فاروقي |
| ډيزاين چارې | :: | مجيب الله غريب دوست |
| خپرندوی | :: | باور خپرندويه ټولنه |
| چاپ کال | :: | 1400 هـ ش 2022 م کال |
| د خپرونو لړ | :: | 98 |
| چاپ شمیر | :: | 1100 ټوکه |


د چاپ حقوق له خپرندويه ټولنې سره خوندي دي

باور کتاب پلورنځی، لاندیني پوړ، اسحق زی مارکېټ، بزازی څلورلارې، جلال اباد

اړیکه: 079-5353610 , 078-7730005 , 077-2702004

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

د انسانیت په کان کې، هغو دوو حسینو مرغلرو ته! چې د ځمکې تل ته رانه تللي دي.

هوکی، د مینې او مهربانۍ هغې جوړې ته چې د وحیې په روڼ قاموس کې د (اَلْوَالِدَیْن) پر خواږه نوم نومول شوي دي.

په ټول ادب

فاروقي

(c) ketabton.com: The Digital Library

# طلايي هار

د عقيدې په قاموس کې هر لومړی مضمون قرآن کريم او دويم د محمد رسول الله صلی الله عليه وسلم احاديث دي، همدا دواړه د وحيې د چينې شات او خواږه شېده دي، همدا د رڼا نوراني څراغونه دي، د هدايت، رحمت او استقامت مضمونونه دي، ددې دواړو په علم او عمل کې رڼا ده، حکمت دی، زېری دی، هدايت دی، هر اړخيز عزت او شرافت دی، همدا دواړه د زړه د سکون، ارام او ډاډ اصل لاملونه دي په دې دواړو کې د فکر عقل زړه روح او بدن جامع شفاء او سپېڅلتيا ده، د انسان پټو او ښکاره و لپاره ښکلا ده، د قرآن او نبوئ احاديثو په زده کړه او عمل کې د حوض کوثر گبيني اوبه او د بني لاس عملنامه ده، که خبره را لنډه کړو، نو د قرآن او سنت په زده کړه عمل او مينه کې د الله عزوجل او رسول الله صلی الله عليه وسلم مينه او د جنّاتِ عدن په چاپېريال کې د ستر او اعلی جنت، جنت الفردوس مېلمستيا ده، الله عزوجل دې مور او تاسې ټول له دې همېشنۍ مېلمستيا نه برخمن کړي.

مور هم ددې مېلمستيا په هيله د رسول الله صلی الله عليه وسلم د احاديثو کان ته د فقير په بڼه ورغلو او د خپلې فقيرۍ په کچکول کې مو ترې د جواهراتو او مرغلرو څو بېلگې د الله عزوجل په توفيق او فضل را واخيستې، د رسول الله صلی الله عليه وسلم له دې مرغلرو مو د جنتي بدريانو په شمېر (۳۱۹) مرغلرې د (الجواهر النبوية) په طلايي هار کې وپيېلې، څو مور او نور مسلمانان وروڼه او خويندې مو ترې د علم او عمل رڼا او خواږه ترلاسه کړي، د الجواهر النبوية په طلايي پاڼو کې د ايمان، قرآن، اسلام، عقيدې، عبادت، عمل، ښايسته اخلاقو، قدسي احاديثو، د جنت گاڼه، د رزق کونجياني، د ژغورنې سندونه، د مشکو خوشبويي، د

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت ګاڼه، ورېښيمن باد او طلايي دعا او داسې نور عنوانونه دي، په دې هيله چې الله عزوجل يې قبول او د امت د ښې رغېدا لپاره ګټور وګرځوي.
د اسلامي او نبوي خويونو پر بنسټ د حقوقو او سياسي علومو د ماسټر سيد عزت الله سيدي صيب نه مننه کوم، چې تل يې راته د احاديثو د معتبرو کتابونو په ډالۍ کولو د ايماني مرستې لاس راکړی، رب عزوجل دې يې د ايمان له خوږو برخمن ولري، د ځوان عالم موسی قانت صيب د دنيا او اخرت کورونه دې ښايسته شي چې د الجواهر النبوية په بيا ـ بيا ايډيټ او کمپوز کې ټول اخلاص کارولی، د سيمې په کچه ځلېدلی ډېزاينر ثاقب الرحمن حسين زی دې ښاد، آباد په دنيا او اخرت کې په ښه نوم ياد شي، چې د کتاب پښتی يې ډېزاين او جوړه کړې، د قرآن کريم حافظ او داعي د باور ګران حاجي قاري قدرت الله تائب ته دې رب عزوجل د ايمان خواږه او په اعلی جنت کې اخروي استوګنه په نصيب کړي، چې د کتاب چاپ يې په اخلاص او مينه وکړ په ژوند، مال او اولاد يې برکتونه؛ رب عزوجل دې عبيدالله فاروقي هم په عزت او خوشحاليو ونازوي، چې د کتاب لومړی کمپوز يې کړی، د زلمي ليکوال مجيب الله غريب دوست دې د خير کونجي وګرځي، چې د کتاب تخنيکي سټينګ يې په مينه وکړ په ټوله کې له هغوی ټولو مننه کوم، چې د کتاب په چارو کې يې را سره همکاري کړې له تاسې هم مننه کوم چې الجواهر النبوية د مينې، ثواب او عمل په نيت لولئ.
الله عزوجل نه سوال کوم، چې دا چاره مو د خپلې رضا لپاره خالص وګرځوي.

**درناوی**

**محمد غني فاروقي**

**۱۴۴۳/۵/۱۱**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لیکلړ

## عنوانونه


اما بعد!....................................1
توحيد د ژغورنې سند دی!..........۲
روحي تړون!.................................۲
ټولې چارې په نيت څرخېږي!.......۳
د اسلام وداني!..............................۴
لوړه ملګرتيا!...............................۴
دوه غوره خويونه!..........................۵
د ايمان خواږه!................................۵
د عقيدې وداني!..............................٦
د ايمان معيار.................................۷
غوره چارې!...................................۷
ناشکره مېرمنې به څېرې وي؟.......۸
ايمان له قرآن مخکې دی!............۸
روژه د بښنې سند دی!...............۹
د عبادت سند!...............................۹
د مشکو خوشبويي!................. ۱۰
د قدر شپه!...................................۱۰
د خرما ونه!...................................۱۱
بدلون هرو مرو راځي انتظار....!...۱۲
د خرما غوندې ګټور شه!...........۱۲
خواخوږي شئ، اساني وکړئ....!.. ۱۳
شېده، علم دی!...........................۱۳
علم خور کړئ!.............................۱۴
جنتي سړی!.................................۱٦
د ايمان خوند!..........................۱۷
د ايمان غوره ځانګه!...................۱۸
څوک چې ايمان لري؟!................۱۹
محمدي قافلې نه مه وځئ!..........۲۰
د جوماتونو په چوپړ کې ايمان...!.۲۰
نبوي منبر او جنتي باغچه!............۲۱
ګرانبيه قدمونه!............................۲۱
د پولې هاخوا کفر دی!..................۲۲
درخصتېدونکي لمونځ!.................۲۳
د جمعې سحر!...........................۲۳
علم مه پټوئ!................................۲۴
بې علمه فتوا!...............................۲۵
دعوتګر شه، چې د سرو اوښانو...!.۲۵
سهارنۍ شپې مو پر علم....!...... ۲٦
طالب العلم ته ستر زېری؟!.........۲٦
د حکمت خبره!...........................۲٦
ايماني پولې او رنګين وښتان!.....۲۷
خوشبويي به نه مومي!..................۲۷
سپينه ونه!...................................۲۸
نوراني وښتان!...............................۲۸
سپېڅلی زړه!...............................۲۹
۷۰ ځلې معافي؟!.........................۲۹
خدمتګار مو په مينه او ښښنه....!...۳۰
ګاونډی دې څه وايي!؟................۳۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


دوه شرعي سندونه: سلام او......!..۳۳
د تسبیح او استغفار جوړه!..........۳۳
دتسبیح او استغفار دویمه جوړه!...۳۴
د رزق کونجیانې!....................۳۵
د عملنامې سینګار!..................۳۵
تقوا او ښایسته اخلاق!...............۳٦
خوشحالوونکې عملنامه!.............۳٦
توکل: له زړه نه پر الله تعالی......!. ۳٦
د جنت باغ!..........................۳۷
علم د ژغورنې سند دی!.............۳۷
حج و عمره!..........................۳۸
خپلوي پالل:..........................۳۹
دخپلوۍ پاللو سترې ګټې!.........۴۰
د الله تعالی په لاره کې د دین...!..۴۰
ملائک چاته دعا او چاته ښېرا....!.۴۱
سپینو وریځو کې یادیږي!..........۴۱
یوه نېکي دې تر جنته رسوي؟!...۴۳
شین سترګی پېژنئ؟................۴۴
نبوي احادیث ورسوئ!..............۴۴
دوزخ کې کور!......................۴۵
د جنت خوشبویي به نه مومي!....۴۵
علم په لیکلو وساتئ!...............۴۵
عالمان د پېغمبرانو ځای....!.......۴٦
زلمیان زده کړو ته وهڅوئ!.........۴۷
ځواني د عمر ګاڼه ده!..............۴۷
خبرېدل دلیدلو په څېر نه دي!....۴۸
د وینا کولو هنر!.....................۵۱
علمي سفر!...........................۵۲
د هدایت شمعې!.....................۵۳
د قدر وړ شخصیتونه!...............۵۵
مشر په خبرو کې مخکې کړئ!.....۵٦
د الله تعالی مېلمه!.................۵٦
اوبو څکلو کې ښي طرف مخکې...! ۵۸
سپېڅلې پاڼې!......................۵۹
پېڅې مو پورته ساتئ!...............٦۱
شیطان کوم کور ته نه ننوځي؟!....٦۲
د قران سینګار!.....................٦۲
شات او قران!.......................٦۲
د درېیو کسانو دعا نه قبلیږي!.....٦۳
د وخت ګاڼه!.......................٦۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د قدسي احاديثو غونچه


عبادت ته ځان وزګار کړه!...........۶۷
شتمن زړه او ډک لاسونه!...........۶۷
طلايي شېبې!...........۶۸
زه دې ځنګ ته راځم!...........۶۸
دالله تعالی د رحمت او بښنې....!...۶۹
وَلوَر!...........۷۰
اونيز؛ طلايي چانسونه!...........۷۱
د الله تعالی مينه کوونکي شئ!......۷۲
زمانه مه کنځئ!...........۷۲
د مينې ودانې له بره جوړېږي!......۷۳
مينه دملاقات لېوالتيا زياتوي!......۷۴
غوره کور!...........۷۵
يوه خرما دوه زړونه!...........۷۶
بې خرما کور!...........۷۷
اووه مرغلرې!...........۷۸
مشري!...........۷۸
د (۳۶۰) بندونو دنده او د...؟!......۷۹
د خاوند له اجازې پرته نفلي روژه!.۸۰
نبوي زېرې!...........۸۰
ورېځې خاندي!...........۸۱
د رعد دنده!...........۸۱
زه د خپل بنده له ګومان سره يم!..۸۱
قيلوله کوئ!...........۸۲
په ديدن يې الله تعالی يادېږي!....۸۲
ستر زېرې!...........۸۳
يوه ناسته او څلور ډالۍ؟...........۸۴
نبوي فتوی!...........۸۵
جنب لپاره اسانه چاره!...........۸۵
د رحمت بر لاسي!...........۸۶
قلم!...........۸۷
د فرعون خوله!...........۸۷
د ښو اخلاقو لنډيز!...........۸۸
ښايسته اخلاق!...........۹۰
طلا يې دعا!...........۹۰
په اسم اعظم يې ترېنه وغواړئ!....۹۱
روڼ سحر کې يې ترې وغواړئ!.....۹۲
لمونځ پرې پيل کړئ!...........۹۳
مرغلرينه دعا!...........۹۵
د عرفې د ماښامي او ورځې دعا!...۹۶
فضل او رحمت ترې غواړه!...........۹۶
شراب په شاتو بدل شو!...........۹۷
نبوي ښار کې شهيد شو!...........۹۷
له څلورو تل پناه غواړه!...........۹۸
بد مرغي!...........۹۸
نوی مسلمان!...........۹۹
مه نا هيلی کېږه، ميزان د ......!..۹۹
زه بادشاه يم!...........۹۹
غوره سړی او غوره چارې!...........۱۰۰
غوره مېرمن!...........۱۰۰
غوره نکاح!...........۱۰۱

لومړی ولوله چانس دی!...........۱۰۱

اووه حرامي کړی شوي چارې!.....۱۰۲

لوړه ستاینه!......................۱۰۲

د هډوکو تسبیح!...................۱۰۲

ارمان!..............................۱۰۳

دینار و درهم!.....................۱۰۳

د کارګر شکایت!..................۱۰۳

راحت موندونکی شه!.............۱۰۴

خدمتګار مه وهه!................۱۰۵

د تسبیحاتو تاج!.................۱۰۵

سره مرغۍ څنګه پوه شوه؟!.....۱۰۶

جهاد!...............................۱۰۷

د ژبې جهاد!.......................۱۰۸

الله تعالی ته محبوب صف!.......۱۰۸

د نجات کره سندونه!............۱۰۹

له شېدو نه سپین حجر اسود!...۱۰۹

دخیر کلیګانې شئ!...............۱۰۹

غوره خلک!........................۱۱۰

خوشبویه ملګری!.................۱۱۱

ښکلې هېنداره کې تور داغ؟!.....۱۱۲

درې ستر زیري!...................۱۱۲

د دوشنبې د ورځې ځانګړنې!...۱۱۳

نبوي ترافیکي اصول!.............۱۱۴

د شهید مرغلرین تاج!...........۱۱۴

څاروي پر مخ مه وهئ او مه....!۱۱۵

برکتي ژوي!.......................۱۱۵

د ایمان ذره!.......................۱۱۶

څلوېښت ورځې يې لمونځ نه....!۱۱۷

دوزخ!..............................۱۱۷

زه بادشاه یم!.....................۱۱۸

د قرآن قاري ته پنځه ستر زیري!۱۱۸

ورېښمین بادا!.....................۱۱۹

غوره وزیر!........................۱۱۹

منندوی اوسه!.....................۱۲۰

د تورې تېکی او درې جملې!......۱۲۱

پیاوړی هوډ له پیاوړي مؤمن سره!۱۲۲

کشمالي!...........................۱۲۳

بېړنی زېری!.......................۱۲۴

درې څېزونه مه رد کوه!..........۱۲۴

د ښځینو خوشبويي!..............۱۲۵

ادب!...............................۱۲۵

د جاهلیت خویونه!...............۱۲۶

الله تعالی ته څلور ناخوښه......!۱۲۷

اخرت يې په دنیا وپلوره!.........۱۲۷

مړه شې، مه يې ځوروه!..........۱۲۷

ماشاءالله!..........................۱۲۸

د طوبی ونه او د جنتیانو جامې!..۱۲۸

د جومات مینه وال ته څلور...!....۱۲۹

دوه چارې چې د اخرت یاد.....!.. ۱۲۹

رانجه او بانه!.....................۱۳۰

د ځمکې ګانه!....................۱۳۰

طلایي چانس!.....................۱۳۱

اویا زره کسیزه ډله!..............۱۳۲

فقیرانو ته زېری!.................۱۳۳


(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library


اسم اعظم!............................١٣۴
د ښښنې لپاره درې غوره چارې!...١٣۵
ژبه!....................................١٣٦
طلايي ملخان!.........................١٣٧
سل مېرمنې!...........................١٣٨
د زبور تلاوت!.........................١٣٩
هره ناروغي درمل لري!............١٣٩
نبوي وقايه!.............................١۴٠
تبه، بدن صفا کوي!..................١۴١
عجوه خرما، شفاء ده!...............١۴٢
توره دانه!..............................١۴٣
بې علمه طبيب!......................١۴٣
الله تعالی ته گران خلک!...........١۴۴
گوته او سمندر؟!....................١۴۵
د مرستې ادرس!......................١۴۵
وصيت ليکل!...........................١۴۵
وارث ته وصيت کول نه شته!.......١۴٦
ځلور پر حقيقی مانا وېږنئ!......١۴٦
د مؤمن زندان!........................١۴٧
د شکر لاره!...........................١۴٨
ډالی!...................................١۴٨
ډالی قبوله کړه!.......................١۴٨
د ډالی بدله!...........................١۴٩
اسانه نبوي ډالی!.....................١۴٩
د قرآن درېيمه برخه!.................١۵٠
د سترگو جنت!.......................١۵٠
يهودي زلمی!.........................١۵٠
ښايسته خوی، لوړه شتمني ده!...١۵١
د ژونديو کورونه!.....................١۵٢
د استخارې لمونځ!...................١۵٣

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د ليکوال آثار:

۱) جنت
۲) سل دعاګانې
۳) عمره
۴) الشهيد
۵) د قبر شپه
٦) الشفاء (په قرآن او احاديثو د ناروغيو درملنه)
۷) د ايمان جوړه
۸) د معراج شپه
۹) عملنامه
۱۰) قرآني دعاګانې
۱۱) اسم اعظم
۱۲) د بسم الله ګټې او فضايل
۱۳) څلور کلمې
۱۴) لږ عمل ډېر ثواب
۱۵) اسانه لمونځ
١٦) اسانه ديني ښوونه
۱۷) اوه شپې ـ اته ورځې
۱۸) سل حديثونه (د بخاري او مسلم له جوړې څخه)
۱۹) د مسلمانو مېرمنو لپاره سل احاديث
۲۰) زاد الطالبين (پښتو ژباړه)
۲۱) جوامع الکلم
۲۲) جواهر الکلم
۲۳) غونچه (د ماشومانو لپاره سل احاديث)

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۴) د معجزو پیغمبر

۲۵) جواهرات (د صحابو ويناوې)

۲٦) د سرو زرو خبرې

۲۷) د سرو زرو كرښې (د حسن بصري رحمه الله ويناوې)

۲۸) د سپینو زرو خبرې (عبدالله بن مبارک رحمه الله ويناوې)

۲۹) طلايي خبرې

۳۰) مرغلرې

۳۱) زړه د چا دی؟

۳۲) له ژوند سره مینه وکړئ!

۳۳) وخت له تا مینه غواړي!

۳۴) المأثورات (مستند ذكرونه او دعاګانې)

۳۵) موسكا

۳٦) د لمر وړانګې (دينې پوښتنې او ځوابونه)

۳۷) اقرأ قاعده

۳۸) دغه ګل دی دغه خار (د عبدالرحمن بابا خو شعرونه)

۳۹) شنه پاڼه

۴۰) الجواهر النبوية (۳۱۹) احاديث (همدا اثر)

۴۱) منهاج المسلم (پښتو ژباړه)

۴۲) مختصر الفوائد (پښتو ژباړه)

۴۳) رڼا درسره واخله!

۴۴) ممتاز شخصيت

۴۵) حج

۴٦) زړه په احاديثو كې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

الحَمْدُلله حَمْداً كَثيراً طَيِّبًا مُبَارَكاً فيه وَالصَّلواةُ وَالسَّلامُ عَلى مُحمدٍ بن عَبدالله رسول الله صلى الله عليه وسلم وَ عَلى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَأَتْبَاعِهِ وَمَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلَى يَومِ الدِّيْنِ.

**امابعد!**

**مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاءُ عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاءُ بَيْنَهُمْ**.(سورت الفتح (٢٩))

وايضا قال تبارك وتعالى:

**قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللهُ**.(ال عمران، ٣١)

وفي الحديث عن النبي صلى الله عليه وسلم، قال: نَضَّرَ اللَّهُ امْرَأً سَمِعَ مَقَالَتِي، فَوَعَاهَا، ثُمَّ أَدَّاهَا إِلَى مَنْ لَمْ يَسْمَعْهَا، فَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ لَا فِقْهَ لَهُ، وَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ إِلَى مَنْ هُوَ أَفْقَهُ مِنْهُ.(مسند أحمد مخرجا (٣٠١/٢٧))

**ژباړه:** رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: هغه کس دې الله تعالى تر و تازه کړي، چې زما خبره واوري او ښه سمه يې ياده کړي، بيا يې هغه چاته ورسوي، چې هغه نه وي اورېدلې، ډېر ځل به له يو چا سره علم وي، خو بشپړه پوهه به پرې نلري او ډېر ځل به يو علم لرونکی د علم خبره هغه چاته رسوي، چې هغه ترې ډېر پوه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## توحيد د ژغورنې سند دی!

﴿۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَقُولُوا: لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، فَإِذَا قَالُوهَا، عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ، إِلَّا بِحَقِّهَا، وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ.(سنن ابن ماجه (۲/ ۱۲۹۵))

**ژباړه:** ابو هريره رضي الله عنه د حديث راوی دی:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: په دې راته امر شوی چې له خلکو سره وجنګېږم، تر هغې چې (لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ) ووايي؛ نو کله يې چې دا کلمه وويله، وينې او مالونه يې له مانه وساتلی شو؛ مګر د دې په حق سره او پاتې حساب يې پر الله عزوجل دی.

## روحي تړون!

﴿۲﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَخَذَ اللَّهُ الْمِيثَاقَ مِنْ ظَهْرِ آدَمَ بِنَعْمَانَ - يَعْنِي عَرَفَةَ - فَأَخْرَجَ مِنْ صُلْبِهِ كُلَّ ذُرِّيَّةٍ ذَرَأَهَا، فَنَثَرَهُمْ بَيْنَ يَدَيْهِ كَالذَّرِّ، ثُمَّ كَلَّمَهُمْ قِبَلًا» قَالَ: «أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ قَالُوا بَلَى شَهِدْنَا أَنْ تَقُولُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَذَا غَافِلِينَ أَوْ تَقُولُوا إِنَّمَا أَشْرَكَ آبَاؤُنَا مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِنْ بَعْدِهِمْ أَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُونَ».(سورت الأعراف: ۱۷۳) (مسند أحمد مخرجا (۴/ ۲۶۷))

**ژباړه:** ابن عباس رضى الله عنهما د حديث راوي دی:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: الله تعالى په (نعمان) يانې عرفات کې د ادم عليه السلام له اولادې نه لوظ اخيستی، د ادم عليه السلام راتلونکی ټول اولاد يې د ادم عليه السلام له شانه د سرو مېږيانو په څېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



پیدا او راوایسته، ټول یې خپلې مخې ته خواره او بیا ودرول او له ټولو سره یې مخامخ خبرې وکړې او ترې یې وپوښتل: ایا زه ستاسو رب یم؟

ټولو وویل: هو؛ زموږ رب یې.

شَهِدْنَا أَنْ تَقُولُوا يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِنَّا كُنَّا عَنْ هَذَا غَافِلِينَ * أَوْ تَقُولُوا إِنَّمَا أَشْرَكَ آبَاؤُنَا مِنْ قَبْلُ وَكُنَّا ذُرِّيَّةً مِنْ بَعْدِهِمْ أَفَتُهْلِكُنَا بِمَا فَعَلَ الْمُبْطِلُونَ.

**ژباړه:** موږ پردې شاهدي وایو، دا موږ ددې لپاره وکړل چې تاسې د قیامت په ورځ دا ونه وایې: چې موږ له دې خبرې ناخبره وو، یا دا ونه وایې چې شرك خو زموږ پلار نیکه له موږ نه مخکې پېل کړی و او موږ وروسته د هغو له ځوځات څخه پیدا شوو، نو ایا ته موږ په هغه قصور نیسې چې منحرفو خلکو کړی و.

## ټولې چارې په نیت څرخېږي!

﴿٣﴾ عَنْ عُمَرَ بْنَ الخَطَّابِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّةِ، وَإِنَّمَا لِامْرِئٍ مَا نَوَى، فَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، فَهِجْرَتُهُ إِلَى اللَّهِ وَرَسُولِهِ، وَمَنْ كَانَتْ هِجْرَتُهُ إِلَى دُنْيَا يُصِيبُهَا أَوِ امْرَأَةٍ يَتَزَوَّجُهَا، فَهِجْرَتُهُ إِلَى مَا هَاجَرَ إِلَيْهِ.(صحيح البخاري (٨/ ١٤٠))

**ژباړه:** عمر بن الخطاب رضی الله عنه وایي:

له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې اورېدلي، ویل یې: بې شکه ټولې چارې په نیتونو حسابېږي، بې شکه هر چا ته د نیت بدله ورکول کېږي، د چا هجرت چې دنیا لپاره وي، دنیا به ترلاسه کړي او یا یې له کومې ښځې سره واده کولو لپاره وي، واده به ورسره وکړي؛ نو هجرت یې هماغه څه لپاره دی، څه لپاره یې چې نیت او هجرت کړی وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اسلام وداني!

﴿٤﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ "بُنِيَ الإِسْلاَمُ عَلَى خَمْسٍ: شَهَادَةِ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَإِقَامِ الصَّلاَةِ، وَإِيتَاءِ الزَّكَاةِ، وَالحَجِّ، وَصَوْمِ رَمَضَانَ. (صحيح البخاري (١/ ١١))

**ژباړه:** ابن عمر رضی الله عنه د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د اسلام وداني پر پنځو ستنو ولاړه ده، گواهي کول، چې له الله نه پرته بل د بنده گۍ لایق نه شته او محمد صلی الله علیه وسلم يې استازی دی، د لمانځه پاملرنه، زکات ورکول، حج کول او د رمضان روژې نیول.

## لوړه ملگرتیا!

﴿٥﴾ عَنْ عَمْرِو بْنِ مُرَّةَ الْجُهَنِيِّ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، شَهِدْتُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّكَ رَسُولُ اللَّهِ، وَصَلَّيْتُ الْخَمْسَ، وَأَدَّيْتُ زَكَاةَ مَالِي، وَصُمْتُ شَهْرَ رَمَضَانَ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ مَاتَ عَلَى هَذَا، كَانَ مَعَ النَّبِيِّينَ وَالصِّدِّيقِينَ وَالشُّهَدَاءِ.(صحيح البخاري (١/ ١١))

**ژباړه:** عمرو بن مرة رضي الله عنه وايي:

يو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ويي ويل: ای د الله استازيه! ددې خبرې اقرار کوم چې د الله نه پرته بل د بنده گۍ لایق نه شته او ته د الله تعالی رسول يې، پنځه وخته لمونځ کوم، دخپل مال زکات ورکوم او د رمضان روژې نیسم، رسول الله صلی الله علیه وسلم

(c) ketabton.com: The Digital Library



وویل: څوک چې (په دې حال، عقیدی او عمل) مړ شي (په قیامت کې به) له پیغمبرانو، رښتینو او شهیدانو سره وي.

**یادونه:** حدیث نه معلومېږي چې یادې اسلامي چارې سرته رسول نېکمرغي ده او د دې چارو بدل کې په اخرت کې د پیغمبرانو رښتینو او شهیدانو ملګرتیا نغښتې ده، د درجو او مرتبو په لحاظ دا ستر مقام دی.

## دوه غوره خویونه!

﴿٦﴾ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّ رَجُلًا سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ الإِسْلاَمِ خَيْرٌ؟ قَالَ: تُطْعِمُ الطَّعَامَ، وَتَقْرَأُ السَّلاَمَ عَلَى مَنْ عَرَفْتَ وَمَنْ لَمْ تَعْرِفْ.(صحيح البخاري (١/ ١٢))

**ژباړه:** عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما وايي:

یو سړي له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړه، چې کوم اسلام غوره دی؟

یانې اسلامي خویونو او چارو کې کوم خوی ډېر غوره دی؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: خلکو ته خواړه ورکوه او سلام پر هر چا کوه، که یې پېژنې او که یې نه پېژنې.

## د ایمان خواږه!

﴿٧﴾ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ثَلاَثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ وَجَدَ حَلاَوَةَ الإِيمَانِ: أَنْ يَكُونَ اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا، وَأَنْ يُحِبَّ المَرْءَ لاَ يُحِبُّهُ إِلَّا لِلَّهِ، وَأَنْ يَكْرَهَ أَنْ يَعُودَ فِي الكُفْرِ كَمَا يَكْرَهُ أَنْ يُقْذَفَ فِي النَّارِ.(صحيح البخاري (١/ ١٢))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** انس رضی الله عنه د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: درې خویونه چې په چا کې وي، هغه د ایمان خوږوالی موندلی دی.

**لومړی،** چې الله او د هغه استازی محمد صلی الله علیه وسلم ورته له هر څه نه ډېر ګران وي.

**دویم،** له نورو سره مینه یې یوازې د الله د رضا لپاره وي.

**دریم،** کفر ته ورګرځېدل داسې بد ګڼي لکه څنګه چې اور ته غورزېدل بد ګڼي.

دا حدیث په دې دلیل دی:

چې له الله تعالی او محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم سره مینه د ټولو نېکمرغیو بنسټ دی او د ایمان خواږه همدا دي، چې الله او محمد صلی الله علیه وسلم ورته له هر څه او هر چا نه ډېر ګران وي.

دا ستر خوی د دې لامل کېږي چې مؤمن له هر چا سره د الله د رضا لپاره مینه کوي او پر خپل دین تل ثابت قدم وي.

## د عقیدې ودانی!

﴿٨﴾ عَنْ أَبِي مُوسَى، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ الْمُؤْمِنَ لِلْمُؤْمِنِ كَالْبُنْيَانِ يَشُدُّ بَعْضُهُ بَعْضًا» وَشَبَّكَ أَصَابِعَهُ.(صحيح البخاري (١/ ١٠٣))

**ژباړه:** ابو موسی رضی الله عنه د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: یو مؤمن د بل مؤمن لپاره د ودانۍ په څېر دی، ځینې برخه یې په ځینو نورو برخو کلکېږي او رسول الله صلی الله علیه وسلم د لاسونو ګوتې یو په بل کې ورکړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ایمان معیار

﴿۹﴾ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ قَالَ: قَالَ رَجُلٌ: يَا رَسُولَ اللهِ مَا الْإِيمَانُ؟ قَالَ: إِذَا سَرَّتْكَ حَسَنَتُكَ وَسَاءَتْكَ سَيِّئَتُكَ فَأَنْتَ مُؤْمِنٌ.(مسند أحمد ط الرسالة (۳٦/ ٥۳۷))

**ژباړه:** ابو امامه رضي الله عنه وايي:

يو سړي له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وپوښتل: ايمان څه شی دی؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وويل: کله چې خپلې نېکۍ خوشحاله کړي او خپلې گناه خفه کړي، نو ته مؤمن يې.

**يادونه:** دا حديث د خپل ايمان د ازموينې لپاره ښايسته معيار دی، که غواړې د خپل ايمان کچه معلومه کړې، د دې حديث په مانيزه تله څان وتله، دغه حديث دليل دی چې په نېکۍ خوښي او په گناه خفگان د ايمان نښه ده.

## غوره چارې!

﴿۱۰﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ: أَيُّ الْعَمَلِ أَفْضَلُ؟ فَقَالَ: إِيمَانٌ بِاللَّهِ وَرَسُولِهِ، قِيلَ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: الْجِهَادُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، قِيلَ: ثُمَّ مَاذَا؟ قَالَ: حَجٌّ مَبْرُورٌ.(صحيح البخاري (۱/ ۱۴))

**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی، وايي:

له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وپوښتل شو، کومه چاره ډېره غوره ده؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وويل: پر الله او استازي يې ايمان لرل.

ترې وپوښتل شو، له دې وروسته بيا کومه چاره غوره ده؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وويل: د الله تعالی په لاره کې جهاد کول،

بيا ترې وپوښتل شو، له جهاد نه وروسته څه غوره دي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وويل: هغه حج چې گناه پکې نه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ناشکره مېرمنې به څېرې وي؟

﴿۱۱﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أُرِيتُ النَّارَ فَإِذَا أَكْثَرُ أَهْلِهَا النِّسَاءُ، يَكْفُرْنَ، قِيلَ: أَيَكْفُرْنَ بِاللَّهِ؟ قَالَ: يَكْفُرْنَ العَشِيرَ، وَيَكْفُرْنَ الإِحْسَانَ، لَوْ أَحْسَنْتَ إِلَى إِحْدَاهُنَّ الدَّهْرَ، ثُمَّ رَأَتْ مِنْكَ شَيْئًا، قَالَتْ: مَا رَأَيْتُ مِنْكَ خَيْرًا قَطُّ.(صحيح البخاري (۱/ ۱۵))

**ژباړه:** ابن عباس رضی الله عنهما د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: خوب کې راته دوزخ وښودلی شو، د اوسېدونکو ډېره برخه یې هغه ښځمنې وې، چې ناشکري یې کوله، ترې وپوښتل شو، ایا د الله ناشکري کوي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: د خاوندانو ناشکري کوي او هم د هغوی د احسان ناشکري کوي، که ته ټوله زمانه له یوې ښځې سره ښه چال چلن وکړې او بیا در څخه لږ څه وګوري، نو وایي: ما ستا هیڅ ښېګڼه لیدلې نه ده.

## ایمان له قرآن مخکې دی!

﴿۱۲﴾ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنِّي أَقْرَأُ الْقُرْآنَ، فَلَا أَجِدُ قَلْبِي يَعْقِلُ عَلَيْهِ؟ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ قَلْبَكَ حُشِيَ الْإِيمَانَ، وَإِنَّ الْإِيمَانَ يُعْطَى الْعَبْدَ قَبْلَ الْقُرْآنِ».(مسند أحمد مخرجا (۱۱/ ۱۷۷))

**ژباړه:** عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه د حدیث راوي دی، دا وایي: یو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او ویې ویل: ای د الله استازیه! قرآن لولم مګر د زړه غفلت مې ترېنه احساسوم، یانې نه پوهېږم پرې؛ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ستا زړه له

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایمان څخه ډک شوی او ببشکه ایمان بنده ته له قرآن نه مخکې ورکول کېږي.

## روژه د ببښنې سند دی!

﴿۱۳﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ صَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ.(مسند أحمد ط الرسالة (۱۲/ ۹۱))

**ژباړه:** ابو هریره رضی الله عنه د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې له ایمان سره د ثواب په نیت د رمضان روژې ونیسي، مخکیني (کوچني) گناهونه به یې وبښلی شي.

## د عبادت سند!

﴿۱۴﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ قَامَ رَمَضَانَ إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ.(مسند أحمد ط الرسالة (۱۳/ ۱۹۸))

**ژباړه:** ابو هریره رضی الله عنه د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې له ایمان سره د ثواب په نیت، رمضان کې ولاړه (عبادت) وکړي، مخکیني (کوچني) گناهونه به یې وبښلی شي.

**یادونه:** ۱۳ او ۱۴ حدیثونو کې له ایمان سره د احتساب کلمه راغلي دا خبره ترې څرگنده ده، چې ایمانیاتو کې له هرې نېکې چارې او عبادت سره د ثواب نیت کول اړین او لازم دي.(فاروقي)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د مشکو خوشبويي!

﴿۱۵﴾ عَنِ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ، يَقُولُ: عَزَّ وَجَلَّ إِنَّمَا يَذَرُ شَهْوَتَهُ وَطَعَامَهُ وَشَرَابَهُ مِنْ أَجْلِي، فَالصَّوْمُ لِي، وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، كُلُّ حَسَنَةٍ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ، إِلَّا الصِّيَامَ فَهُوَ لِي، وَأَنَا أَجْزِي بِهِ.(مسند أحمد ط الرسالة (۱٦/ ٥۹))

**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: زما دې پر هغه ذات سوګند وي چې مې روح د هغه په لاس کې دی، د روژه تي د خولې بدل شوی بوی د الله تعالی په نزد د مشکو له خوشبويۍ نه غوره او ښايسته دی، ښېشکه روژه تي زما له خاطره نفسي خوندونه او غوښتنې، خوراک او څکاک پرېږدي، دا زما لپاره روژه نيسي او زه به يې بدله ورکوم، د هرې نېکۍ بدله به يې يو پر لسو آن يو پر اووه سوه چندونو ورکوم، مګر يوازې روژه، چې زما لپاره ده، د دې بدله به زه پخپله ورکوم.

**يادونه:** دې حديث کې روژه تي لپاره درې زېري دي، لومړی د خولې بوی يې د مشکو له خوشبويۍ څخه غوره دی، دويم، نېکي يې يو پر لسو او يو پر اووه سوه بدلېږي او تر ټولو ستر زېری دا دی چې الله تعالی روژه تي ته د روژې بدله پخپله ورکوي.

## د قدر شپه!

﴿۱٦﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ يَقُمْ لَيْلَةَ الْقَدْرِ، إِيمَانًا وَاحْتِسَابًا، غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ.(صحيح البخاري (۱/ ۱٦))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** ابو هریره رضی الله عنه د حدیث راوي دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې د قدر په شپه له ایمان سره د ثواب په نیت د الله تعالی بنده ګۍ ته ودرېږي، مخکیني ګناهونه به یې وبښلی شي.

## د خرما ونه!

﴿۱۷﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ مِنَ الشَّجَرِ شَجَرَةً لاَ يَسْقُطُ وَرَقُهَا، وَإِنَّهَا مَثَلُ المُسْلِمِ، فَحَدِّثُونِي مَا هِيَ فَوَقَعَ النَّاسُ فِي شَجَرِ البَوَادِي قَالَ عَبْدُ اللَّهِ: وَوَقَعَ فِي نَفْسِي أَنَّهَا النَّخْلَةُ، فَاسْتَحْيَيْتُ، ثُمَّ قَالُوا: حَدِّثْنَا مَا هِيَ يَا رَسُولَ اللَّهِ قَالَ: هِيَ النَّخْلَةُ.(صحيح البخاري (۱/ ۲۲))

**ژباړه:** ابن عمر رضی الله عنه د حدیث راوي دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: بېشکه په ونو کې یوه ونه داسې ده چې پاڼې یې نه غورزېږي او بېشکه دا ونه د مسلمان په څېر ده، تاسې راته ووایئ: دا کومه ونه ده؟
عبدالله بن عمر رضی الله عنه وایي: ماته په زړه کې واچول شو، چې دا د خرما ونه ده، مګر حیا مې وکړه او څه مې ونه ویل.
ناستو صحابه و وویل: ای د الله رسوله! تاسې یې راته ووایئ، دا کومه ونه ده؟
رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: دا د خرما ونه ده.
دې حدیث کې د مسلمان تشبیې د خرما له ونې سره ورکړل شوې، چې غور سره د دواړو پرتله وشي ځانګړنې یې څرګندېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بدلون هرو مرو راځي انتظار کوه!

﴿۱۸﴾ عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَثَلُ الْمُؤْمِنِ مَثَلُ السُّنْبُلَةِ، تَسْتَقِيمُ مَرَّةً، وَتَخِرُّ مَرَّةً، وَمَثَلُ الْكَافِرِ مَثَلُ الْأَرْزَةِ، لَا تَزَالُ مُسْتَقِيمَةً حَتَّى تَخِرَّ، وَلَا تَشْعُرُ.[1]

**ژباړه:** جابر رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د مؤمن مثال د غنمو د وږي په څېر دی، کله سم، سیده درېږي او کله غورزېږي، چپه کېږي او د کافر مثال د شولو، (وریجو) د وږي په څېر دی، پر خپل ځای سم ولاړ وي (هواګانې) یې داسې وغورزوي، چې بیا یې هېڅ معلومات نه کېږي.

**یادونه:** حدیث دلیل دی، چې پر مؤمن ډول - ډول حالتونه راځي، ازمویل کېږي، کله پرې خوشحالي او کله پرې غم وي؛ مګر مؤمن به ثابت قدم اوسیږي بریمن بدلون د ده په برخه دی، ان شاء الله!

## د خرما غوندې ګټور شه!

﴿۱۹﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَثَلُ الْمُؤْمِنِ مَثَلُ النَّخْلَةِ، مَا أَخَذْتَ مِنْهَا مِنْ شَيْءٍ نَفَعَكَ. (المعجم الكبير للطبراني (۱۲/ ۴۱۱))

**ژباړه:** د مؤمن مثال د خرما په څېر دی، څه چې ترې ترلاسه کړې، ګټه درته رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خواخوږي شئ، اساني وکړئ او زېري خواره کړئ!

﴿۲۰﴾ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: يَسِّرُوا وَلاَ تُعَسِّرُوا، وَبَشِّرُوا، وَلاَ تُنَفِّرُوا.(صحيح البخاري (۱/ ۲۵))

**ژباړه:** انس بن مالك رضي الله عنه د حديث راوي دی:

چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلې: اساني کوئ او سختي مه کوئ، زېري ورکړئ او کرکه مه خوروئ.

اسلام د اسانۍ دين دی، الله تعالی خپلو بنده ګانو ته هره چاره کې اساني ايښې، قران کريم يې داسې رايادوي: (يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ)[البقرة: ۱۸۵]، الله تعالی پر تاسې اسانتيا راوستل غواړي او سختي راوستل نه غواړي.

محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم په هره چاره کې د اسانۍ، مينې او زېري خورولو او کولو سپارښتنه کړې.

د رحمت نبي و، د رحيم څښتن له لورې پرې د رحمت کتاب نازل شوی و، د دې ټولو موخه د مؤمنانو په ژوند کې د اسانۍ فرهنګ دودول، خپلمنځي مينه، خواخوږي او د کافرانو په وړاندې سختي کول دي.

## شېده، علم دی!

﴿۲۱﴾ عَنْ حَمْزَةَ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، أَنَّ ابْنَ عُمَرَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: بَيْنَا أَنَا نَائِمٌ، أُتِيتُ بِقَدَحِ لَبَنٍ، فَشَرِبتُ حَتَّى إِنِّي لَأَرَى الرِّيَّ يَخْرُجُ فِي أَظْفَارِي، ثُمَّ أَعْطَيْتُ فَضْلِي عُمَرَ بْنَ الخَطَّابِ، قَالُوا: فَمَا أَوَّلْتَهُ يَا رَسُولَ اللَّهِ؟ قَالَ: العِلْمَ.(صحيح البخاري (۱/ ۲۸))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** حمزة د عبدالله بن عمر رضی الله عنه ځوی د ابن عمر رضی الله عنه نه روایت کوي، ابن عمر رضی الله عنه وايي: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې واورېدل، ویل یې، زه ویده وم، په خوب کې راته د شېدو ډک لوښی راوړل شو، ما شېدې وڅکلې، تردې چې ښه پرې موړ شوم، بیا مې پا تي شېدې عمر بن الخطاب رضی الله عنه ته ورکړې، صحابه و ترې وپوښتل: د الله تعالی رسوله! شېده مو څنګه تعبیر کړل؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: په علم مې تعبیر کړل.

﴿۲۲﴾ إِنَّ اللَّهَ رَضِيَ لِهَذِهِ الْأُمَّةِ الْيُسْرَ وَ كَرِهَ لَهُمُ الْعُسْرَ، (قَالَهَا ثَلَاثَ مَرَّاتٍ) وَإِنَّ هَذَا أَخَذَ بِالْعُسْرِ وَتَرَكَ الْيُسْرَ.(سلسلة الأحاديث الصحيحة (۴/ ۱۶۳۵)

**ژباړه:** بې شکه الله تعالی دې امت لپاره اساني خوښه کړې او سختي یې ورته بده ګڼلې، (دا یې درې ځلې وویل) او ده سختي نیولې او اساني یې پرېښې ده.

## علم خور کړئ!

﴿۲۳﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: عَلِّمُوا، وَيَسِّرُوا، وَلَا تُعَسِّرُوا، وَإِذَا غَضِبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَسْكُتْ.

(مسند أحمد ط الرسالة (۴/ ۳۹))

**ژباړه:** ابن عباس رضی الله عنه د حدیث راوي دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: خلکو ته د علم ښودنه وکړئ، اساني کوئ او سختي مه کوئ، کله چې ستاسې یو کس غوسه شي؛ نو چوپ دې شي.

﴿۲۴﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: بِتُّ فِي بَيْتِ خَالَتِي مَيْمُونَةَ، فَصَلَّى رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ العِشَاءَ، ثُمَّ جَاءَ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَصَلَّى أَرْبَعَ رَكَعَاتٍ، ثُمَّ نَامَ، ثُمَّ قَامَ، فَجِئْتُ، فَقُمْتُ عَنْ يَسَارِهِ فَجَعَلَنِي عَنْ يَمِينِهِ، فَصَلَّى خَمْسَ رَكَعَاتٍ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ، ثُمَّ نَامَ حَتَّى سَمِعْتُ غَطِيطَهُ - أَوْ قَالَ: خَطِيطَهُ - ثُمَّ خَرَجَ إِلَى الصَّلاَةِ.(صحيح البخاري (۱/ ۱۴۱))

**ژباړه:** ابن عباس رضي الله عنهما وايي: د خپلې حاله (توړی) میمونة رضي الله عنها په کور کې مې شپه وه، رسول الله صلى الله عليه وسلم د ماسخوتن لمونځ وکړ، بیا کور ته راغی او په کور کې یې څلور رکعاته لمونځ وکړ، بیا ویده شو، بیا پاځېده، زه هم ورغلم او چپ اړخ ته یې ودرېدم، رسول الله صلى الله عليه وسلم زه خپل ښي اړخ ته راوګرځولم، پنځه رکعاته لمونځ یې وکړ، بیا یې دوه ـ دوه رکعاته نور هم وکړل، بیا ویده شو، تر دې چې د هغه د خوب خګېروي مې واورېده، بیا د (سبا) لمانځه ته ووت.

﴿۲۵﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ آتَاهُ اللَّهُ مَالًا، فَلَمْ يُؤَدِّ زَكَاتَهُ، مُثِّلَ لَهُ مَالهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ شُجَاعًا أَقْرَعَ، لَهُ زَبِيبَتَانِ، يَأْخُذُ بِلِهْزِمَتِهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ، ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا مَالُكَ، أَنَا كَنْزُكَ ، ثُمَّ تَلَا هَذِهِ الْآيَةَ: (وَلَا يَحْسَبَنَّ الَّذِينَ يَبْخَلُونَ بِمَا آتَاهُمُ اللَّهُ مِنْ فَضْلِهِ) [آل عمران: ۱۸۰] إِلَى آخِرِ الْآيَةَ.(مسند أحمد مخرجا (۱۴/ ۲۹۸))

**ژباړه:** ابو هریره رضی الله عنه د حدیث راوي دی:

رسول الله علیه وسلم ویلي: چا ته چې الله تعالی مال ورکړی وي او دا یې زکات ورنه کړي، د قیامت په ورځ به یې له مال نه ګنجی مار جوړ کړی شي، چې پر تندي به یې دوه تور داغونه وي د (بخیل) پر وخکیو به خوله لګوي او ورته به وايي: زه دې مال او زه دې خزانه یم! بیا رسول صلی الله علیه وسلم دا ایت ولوست:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: کومو خلکو ته چې الله تعالی له خپل فضل نه ورکړه کړېده او بیا هغوی له بخیلی نه کار واخلي هغوی دې دا نه گڼي، چې دا بخیلي د هغو لپاره گټوره ده، نه، دا د هغو لپاره ډېره بده ده، څه شی چې هغوی په خپله شومتیا راغونډوي هماغه به د قیامت په ورځ د هغو د غاړې طوق شي د اسمانونو او ځمکې میراث یوازې د الله دی او تاسې چې څه کوئ الله پرې خبر دی.

## جنتي سړی!

﴿٢٦﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ أَعْرَابِيًّا جَاءَ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللهِ، دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ إِذَا عَمِلْتُهُ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ، قَالَ: تَعْبُدُ اللهَ لَا تُشْرِكُ بِهِ شَيْئًا، وَتُقِيمُ الصَّلَاةَ الْمَكْتُوبَةَ، وَتُؤَدِّي الزَّكَاةَ الْمَفْرُوضَةَ، وَتَصُومُ رَمَضَانَ، قَالَ: وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَا أَزِيدُ عَلَى هَذَا شَيْئًا أَبَدًا، وَلَا أَنْقُصُ مِنْهُ، فَلَمَّا وَلَّى قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ سَرَّهُ أَنْ يَنْظُرَ إِلَى رَجُلٍ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ، فَلْيَنْظُرْ إِلَى هَذَا.(صحیح مسلم (١/ ٤٤))

ژباړه: ابو هریره رضی الله عنه وايي: یو بانډېڅي سړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی، ورته یې وویل: ای د الله استازیه! داسې یوه چاره راته وښایه چې پرکولو یې جنتي شم؟!

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: د الله تعالی بنده گي کوه او هېڅ بل شی ورسره مه شریکوه، د فرض لمانځه پاملرنه کوه، فرضي زکات ورکوه او د رمضان روژې نیسه، هغه بانډېڅي وویل: پر هغه ذات سوگند کوم چې روح مې د هغه په لاس کې دی، په دې به تل لپاره بل کوم څیز نه زیاتوم او نه به پکې کمی کوم، کله چې سړی روان شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: که د چا زړه غواړي چې جنتي سړی وګوري نو دې سړي ته دې وګوري.

﴿٢٧﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ، وَيُقِيمُوا الصَّلاَةَ، وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ، فَإِذَا فَعَلُوا ذَلِكَ عَصَمُوا مِنِّي دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلَّا بِحَقِّ الإِسْلاَمِ، وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللَّهِ.(صحيح البخاري (١/ ١٤))

**ژباړه:** عبدالله بن عمر رضی الله عنهما د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: ماته له خلکو سره د جنګېدلو حکم شوی، تر هغې چې د (لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ، وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللَّهِ) ګواهي ورکړي، د لمانځه پاملرنه وکړي او زکات ورکړي، کله چې دوی دا چارې ترسره کړي، وینې او مالونه یې له ما وساتل، مګر د دې کلمې په حق سره او حساب یې پر الله تعالی دی.

## د ایمان خوند!

﴿٢٨﴾ عَنْ عَامِرِ بْنِ سَعْدٍ، عَنْ عَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ الْمُطَّلِبِ، أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: ذَاقَ طَعْمَ الْإِيمَانِ مَنْ رَضِيَ بِاللَّهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا.(مسند أحمد مخرجا (٣/ ٢٩٩))

**ژباړه:** هغه چا د ایمان خوند څکلی دی چې د الله په ربوبیت، د اسلام په دین او د محمد صلی الله علیه وسلم په پیغمبرۍ راضي شوی دی.

دې حدیث کې توحید د ربوبیت، د اسلام دین او محمدي رسالت درې هغه ستر ارزښتونه دي چې د ایمان خوند پرې معلومېدلی شي، هغوی ته دې مبارک وي چې دې درې واړو ته ژمن دي او په ایمان کې د حقیقت دې پولې ته رسېدلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿۲۹﴾ عَنْ أَبَا سَعِيدٍ الْخُدْرِيَّ قَالَ، قَالَ: رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ قَالَ: رَضِيتُ بِاللَّهِ رَبًّا، وَبِالْإِسْلَامِ دِينًا، وَبِمُحَمَّدٍ رَسُولًا، وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ.(سنن أبي داود (۲/ ۸۸))

**ژباړه:** ابو سعيد الخدري رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلي: «څوک چې ووايي: په دې خوښ يم چې الله مې رب دی، اسلام مې دين دی او محمد صلی الله علیه وسلم مې پېغمبر دی» هغه لپاره جنت واجب شو.

## د ايمان غوره څانګه!

﴿۳۰﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ - أَوْ بِضْعٌ وَسِتُّونَ - شُعْبَةً، فَأَفْضَلُهَا قَوْلُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ، وَأَدْنَاهَا إِمَاطَةُ الْأَذَى عَنِ الطَّرِيقِ، وَالْحَيَاءُ شُعْبَةٌ مِنَ الْإِيمَانِ. (صحيح مسلم (۱/۶۳))

**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلي: ايمان څه دپاسه اويا او يا څه دپاسه شپيته څانګې لري، تر ټولو غوره څانګه يې (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) ده او کوچنۍ څانګه يې له لارې څخه د ضرري ځيزونو لرې کول دي او حياء د ايمان يو څانګه ده.

**يادونه:** ايمان ونه ده او بېلابېل ايمانيات يې د څانګو بڼه لري، (لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ) يې غوره څانګه ده، دې کې توحيد د الوهيت ذکر دی او داسې توري دي چې نور يې له مخې ودانه ده، يو لک څلورويشت زره پېغمبران هم ددې مضمون دخپرولو لپاره رالېږل شوي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې تورو اقرار، باور او عمل، ايمان دی او انکار ترېنه څرګند کفر دی، د لارې نه ضرر لرې کول ټولنيز خير او هم ايمان دی او حياء بيا د ايمان سينګار دی.

## څوک چې ايمان لري؟!

﴿٢١﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، فَلَا يُؤْذِ جَارَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَسْكُتْ.(مسند أحمد مخرجا (١٦/ ٤٥))

**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: «څوک چې پر الله تعالی او وروستۍ ورځ ايمان لري، ګاونډي ته دې ضرر نه رسوي، څوک چې پر الله تعالی او وروستۍ ورځ ايمان لري، د خپل مېلمه درناوی دې وکړي او څوک چې پر الله تعالی او وروستۍ ورځ ايمان لري، نېکه وينا دې کوي، يا دې چوپ شي».

**يادونه:** ددې درېوو ايماني خويونو يوه ستره ځانګړنه دا ده، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم پر الله عزوجل او د اخرت پر ورځ له ايمان سره تړلی دي، دغه راز دې حديث نه دا ګټه معلومېږي چې ګاونډي ته ضرر رسول د ايمان خلاف چاره ده، د مېلمه درناوی، ايماني صفت دی او د پيغمبرانو پلار «ابراهيم عليه السلام» د دې ستر خوی بنسټګر دی، محمد مصطفی صلی الله عليه وسلم هم له مېلمنو سره مينه کوله او هغوی سره د ښه چال چلند امر يې کړی، ښې خبرې سترې صدقې دي او چوپتيا کې ژغورنه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- ❖ له بې ګټو خبرو چوپتیا غوره ده، لقمان حکیم رحمه الله زوی ته نصیحت کې ویلي و: «زویه! په چوپتیا هېڅکله نه یم پښېمانه شوی».
- ❖ وایي چې د امام ابو حنیفه (نعمان بن ثابت رحمه الله) په ګوتمه کې داسې لیکلي و: (قُلِ الْخَيْرَ أَوِ اسْكُتْ) خیر وایه، یا چوپ اوسه.

## محمدي قافلې نه مه وځئ!

﴿۳۲﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ حَمَلَ عَلَيْنَا السِّلَاحَ فَلَيْسَ مِنَّا، وَمَنْ غَشَّنَا فَلَيْسَ مِنَّا.(مسند أحمد ط الرسالة (١٥/ ٢٣٢))

**ژباړه:** ابو هریره رضی الله عنه د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې پر موږ وسله پورته کړي، له موږه نه دی او څوک چې له موږ سره خیانت وکړي له موږ څخه نه دی.

**یادونه:** د محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم، پر مسلمان امتي وسله پورته کول او یا له مسلمان سره خیانت کول، د نبوي اخلاقو خلاف چاره ده او په دې کې دا وېره شته چې انسان پرې د محمدي کاروان څخه ووځي.

## د جوماتونو په چوپړ کې ایمان دی!

﴿۳۳﴾ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا رَأَيْتُمُ الرَّجُلَ يَتَعَاهَدُ المَسْجِدَ فَاشْهَدُوا لَهُ بِالإِيمَانِ، فَإِنَّ اللَّهَ تَعَالَى يَقُولُ: إِنَّمَا يَعْمُرُ مَسَاجِدَ اللَّهِ مَنْ آمَنَ بِاللَّهِ وَاليَوْمِ الآخِرِ وَأَقَامَ الصَّلَاةَ وَآتَى الزَّكَاةَ.(سنن الترمذي ت شاكر (٥/ ١٢))

**ژباړه:** ابو سعید رضی الله عنه د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: کله مو چې یو سړی ولید چې د جومات خدمت کوي، نو د هغه پر ایمان ګواهي ورکړئ، ځکه الله تعالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي: «بې شکه د الله جوماتونه هغوی ودانوي، چې پر الله تعالی او د اخرت په ورځ ایمان لري، د لمانځه لحاظ ساتي او زکات ورکوي او یوازې له الله تعالی نه په زړه کې وېره لري.

## نبوي منبر او جنتي باغچه!

﴿۳۴﴾ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ زَيْدٍ المَازِنِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَا بَيْنَ بَيْتِي وَمِنْبَرِي رَوْضَةٌ مِنْ رِيَاضِ الجَنَّةِ.(صحيح البخاري (۲/ ۶۱))

**ژباړه:** عبدالله بن زید المازني رضی الله عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: زما د کور او منبر په منځ کې، له جنتي باغونو څخه یوه باغچه ده.

﴿۳۵﴾ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ قَوَائِمَ مِنْبَرِي هَذَا رَوَاتِبُ فِي الْجَنَّةِ.(السنن الكبرى للنسائي (۱/ ۳۸۶))

**ژباړه:** بې شکه زماددې منبر ستنې په جنت کې ځانګړې درجې دي.

## ګرانبیه قدمونه!

﴿۳۶﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: حِينَ يَخْرُجُ الرَّجُلُ مِنْ بَيْتِهِ إِلَى مَسْجِدِهِ، فَرِجْلٌ تُكْتَبُ حَسَنَةً وَرِجْلٌ تَمْحُو سَيِّئَةً.(سنن النسائي (۲/ ۴۲))

**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه له نبي صلی الله علیه وسلم نه روایت کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څه وخت چې سړی له کوره د (لمانځه په نیت) جومات لور ته روان شي، په یو قدم ورته نېکي لیکل کېږي او په بل قدم یې ګناه لرې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿٣٧﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: المَلَائِكَةُ تُصَلِّي عَلَى أَحَدِكُمْ مَا دَامَ فِي مُصَلَّاهُ الَّذِي صَلَّى فِيهِ، مَا لَمْ يُحْدِثْ، تَقُولُ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ لَهُ، اللَّهُمَّ ارْحَمْهُ.

(صحيح البخاري، ٤٤٥، مسند أحمد ط الرسالة (١٦/ ٢٠٨))

**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: بې شکه پرښتې ستاسې يو کس ته تر هغې دعا کوي، څو پورې چې دا کس پر خپل جانماز ناست وي، چېرې يې چې لمونځ کړی وي، تر هغې چې بې اودسه شوی نه وي، پرښتې ورته داسې دعا کوي: ای الله! بښنه ورته وکړې! ای الله رحم پرې وکړې.

## د پولې هاخوا کفر دی!

﴿٣٨﴾ عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: بَيْنَ الكُفْرِ وَالإِيمَانِ تَرْكُ الصَّلَاةِ.(سنن الترمذي تبشار (٤/ ٣٠٩))

**ژباړه:** جابر رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: د کفر او ايمان په منځ کې (پوله) يوازې د لمانځه پرېښودل دي.

﴿٣٩﴾ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ بُرَيْدَةَ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْعَهْدُ الَّذِي بَيْنَنَا وَبَيْنَهُمُ الصَّلَاةُ، فَمَنْ تَرَكَهَا فَقَدْ كَفَرَ.(المستدرك على الصحيحين للحاكم (١/ ٤٨))

**ژباړه:** عبدالله بن بريدة رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: زموږ او د کافرانو په منځ کې (حد فاصل) لمونځ دی، څوک چې لمونځ پرېږدي، کافر کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د رخصتېدونکي لمونځ!

﴿٤٠﴾ عَنْ أَبِي أَيُّوبَ الْأَنْصَارِيِّ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: عِظْنِي وَأَوْجِزْ، فَقَالَ: إِذَا قُمْتَ فِي صَلَاتِكَ فَصَلِّ صَلَاةَ مُوَدِّعٍ، وَلَا تَكَلَّمْ بِكَلَامٍ تَعْتَذِرُ مِنْهُ غَدًا، وَاجْمَعِ الْإِيَاسَ مِمَّا فِي يَدَيِ النَّاسِ.(مسند أحمد مخرجا (٣٨/ ٤٨٤))

**ژباړه:** ابو ايوب انصاري رضي الله عنه وايي:

يو سړی نبي صلی الله عليه وسلم ته راغی، ويې ويل: نصيحت راته وکړه او لنډ يې کړه.

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: کله چې لمانځه ته درېږې؛ نو د رخصت اخيستونکي په څېر لمونځ کوه او داسې خبرې مه کوه چې سبا يې په اړه عذر او بښنه غواړې او له هغه څه نه دې هيلې راټولې کړه چې د خلکو په لاس کې دي.

## د جمعې سحر!

﴿٤١﴾ أَفْضَلُ الصَّلَوَاتِ عِنْدَ اللهِ صَلَاةُ الصُّبْحِ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فِي جَمَاعَةٍ.(حلية الأولياء وطبقات الأصفياء (٧/ ٢٠٧، سلسلة الأحاديث الصحيحة، ٤/ ١٥٦٤)

**ژباړه:** د الله تعالی په نزد تر ټولو غوره لمونځ د جُمعې د سحر لمونځ دی په جمعې سره.

**يادونه:** دا حديث په دې دليل دی چې د جمعې په ورځ د سحر لمونځ له جمعې سره ډېر غوره عمل دی.

دغه راز دې حديث کې درې ستر ارزښتونه راجمع شوي:

لومړی د سبا لمونځ چې دا غوره لمونځ دی او وخت يې هم غوره او برکتي وخت دی، د صحيح حديث په بنسټ پرښتې هم د سبا د لمانځه وخت کې حاضرېږي، نبوي احاديثو کې يې هم ډېر فضليت بيان شوی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دویم ارزښت د جُمعې ورځ ده چې دې ته نبوي احادیثو کې سید الایاه (د ورځو سرداره) ویل شوې دا ورځ ډېر ستر فضلیتونه او ځانګړنې لري، دریم ارزښت پکې د جمعې د لمانځه ښودل شوی، د جمعې لمونځ هم ستر فضلیت لري، یو ستر فضلیت یې دا دی چې د ځانته لمانځه نه د بېلابېلو احادیثو پر بنسټ په ۲۵/ ۲۷ او ۵۰ درجو زیات غوره والی لري. نو همدې ارزښتونو ته په پام د جُمعې د سبا لمونځ په جمع سره ستره ایماني چاره ده.

## علم مه پټوئ!

﴿۴۲﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ سُئِلَ عَنْ عِلْمٍ عَلِمَهُ ثُمَّ كَتَمَهُ أُلْجِمَ يَوْمَ القِيَامَةِ بِلِجَامٍ مِنْ نَارٍ.(سنن الترمذي ت بشار (۴/ ۳۲٦))

**ژباړه:** ابو هریره رضی الله عنه د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: له چا نه چې د څه مسئلې په اړه پوښتنه وشي او ده ته معلومه وي، بیا یې پټه کړي او ځواب ونه وايي، د قیامت په ورځ به ورته د اور واګې په خوله کې واچول شي.

﴿۴۳﴾ عَنْ زَيْدِ بْنِ ثَابِتٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: نَضَّرَ اللَّهُ امْرَأً سَمِعَ مِنَّا حَدِيثًا، فَحَفِظَهُ حَتَّى يُبَلِّغَهُ، فَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ إِلَى مَنْ هُوَ أَفْقَهُ مِنْهُ، وَرُبَّ حَامِلِ فِقْهٍ لَيْسَ بِفَقِيهٍ.(سنن أبي داود (۳/ ۳۲۲))

**ژباړه:** زید بن ثابت رضي الله عنه د حدیث راوي دی وايي:

له رسول الله صلی الله علیه وسلم وسلم څخه مې اورېدلي، چې ویل یې: الله عزوجل دې هغه کس تر وتازه ولري، چې زموږ حدیث اوري او یاد یې کړي او نورو ته یې ورسوي ډېر څلې د علم باروونکی، علم داسې چاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسوي چې هغه له ده څخه ډېر پوه وي او ډېر ځلې د علم بارونکی عالم نه وي.

## بې علمه فتوا!

﴿۴۴﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ أُفْتِيَ بِغَيْرِ عِلْمٍ كَانَ إِثْمُهُ عَلَى مَنْ أَفْتَاهُ، زَادَ سُلَيْمَانُ الْمَهْرِيُّ فِي حَدِيثِهِ، وَمَنْ أَشَارَ عَلَى أَخِيهِ بِأَمْرٍ يَعْلَمُ أَنَّ الرُّشْدَ فِي غَيْرِهِ فَقَدْ خَانَهُ، وَهَذَا لَفْظُ سُلَيْمَانَ.(سنن أبي داود (۳/ ۳۲۱))

**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: «چاته چې له پوهې پرته د يوې مسئلې په اړه فتوا ورکړی شوه، گناه يې پر مفتي ده»، (د سليمان المهري حديث کې دا برخه زياته شوې) « او څوک چې خپل مسلمان ورور ته د يو داسې کار په اړه مشوره ورکړي او دا پوهېږي چې ښېگڼه په بل کې ده (ياني ناسمه مشوره ورکړي) نو بې شکه ده له هغه سره خيانت وکړ، د سليمان د روايت الفاظ دي».

## دعوتگر شه، چې د سرو اوښانو مالک شې!

﴿۴۵﴾ عَنْ سَهْلٍ يَعْنِي ابْنَ سَعْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: وَاللَّهِ لَأَنْ يَهْدِيَ اللَّهُ بِهُدَاكَ رَجُلًا وَاحِدًا خَيْرٌ لَكَ مِنْ حُمْرِ النَّعَمِ.(سنن أبي داود (۳/ ۳۲۲))

**ژباړه:** سهل بن سعد رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: سوگند پر الله! چې الله عزوجل ستا په لارښوونه يو کس ته هدايت وکړي، تالپاره د سرو اوښانو نه غوره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سهارنۍ شپې مو پر علم سینګارۍ کړئ!

﴿۳٦﴾ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ غَدَا إِلَى الْمَسْجِدِ لَا يُرِيدُ إِلَّا أَنْ يَتَعَلَّمَ خَيْرًا أَوْ يَعْلَمَهُ، كَانَ لَهُ كَأَجْرِ حَاجٍّ تَامًّا حِجَّتُهُ.(المعجم الكبير للطبراني (۸/ ۹۴))

**ژباړه:** ابو امامة رضی الله عنه، له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه روایت کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې سبا وختي جومات ته لاړ شي، یوازینۍ اراده یې دا وي چې څه خیر زده کړي، یا یې بل چا ته ورزده کړي، ده لپاره د هغه حج کوونکي برابر ثواب دی چې پوره حج یې کړی وي.

## طالب العلم ته ستر زیری؟!

﴿۳۷﴾ عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ طَلَبَ عِلْمًا فَأَدْرَكَهُ كَتَبَ اللهُ لَهُ كِفْلَيْنِ مِنَ الْأَجْرِ، وَمَنْ طَلَبَ عِلْمًا فَلَمْ يُدْرِكْهُ كَتَبَ اللهُ كِفْلًا مِنَ الْأَجْرِ.(المعجم الكبير للطبراني (۲۲/ ٦۸))

**ژباړه:** واثله بن الاسقع رضی الله عنه د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې علم ولټوي او ویې مومي، الله تعالی ورته دوه برخې بدله لیکي او څوک یې چې ولټوي او ویې نه مومي، هغه لپاره یوه برخه اجر او بدله ده.

## د حکمت خبره!

﴿۳۸﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْكَلِمَةُ الْحِكْمَةُ ضَالَّةُ الْمُؤْمِنِ، فَحَيْثُ وَجَدَهَا فَهُوَ أَحَقُّ بِهَا.(سنن الترمذي ت بشار (۴/ ۳۴۸))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: د حکمت خبره د مؤمن ورکه ده، چېرې يې چې ومومي، د ده حق دی.

## ايماني پولې او رنګين وېښتان!

﴿۴۹﴾ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ،عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نَهَى عَنْ نَتْفِ الشَّيْبِ.(سنن النسائي (۸/ ۱۳٦))

**ژباړه:** عمرو بن شعيب رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم د سپينو وېښتانو له ايستلو څخه منع کړې ده.

- سنن ابن ماجه کې د عمرو بن شعيب رضی الله عنه په روايت هم دا حديث راغلی، مګر دا الفاظ پکې زيات دي: (هُوَ نُورُ الْمُؤْمِنِ) او دا سپين وېښتان د مؤمن لپاره نور او رڼا ده.

﴿۵۰﴾ عَنْ ابْنِ عُمَرَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: غَيِّرُوا الشَّيْبَ، وَلَا تَشَبَّهُوا بِالْيَهُودِ.(سنن النسائي (۸/ ۱۳۷))

**ژباړه:** ابن عمر رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: د سپينو وېښتانو رنګ بدل کړئ او له يهوديانو سره ورته والی مه کوئ.

## خوشبويي به نه مومي!

﴿۵۱﴾ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ، رَفَعَهُ أَنَّهُ قَالَ: قَوْمٌ يَخْضِبُونَ بِهَذَا السَّوَادِ آخِرَ الزَّمَانِ كَحَوَاصِلِ الْحَمَامِ، لَا يَرِيحُونَ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ.(سنن النسائي (۸/ ۱۳۸))

**ژباړه:** له ابن عباس رضی الله عنهما څخه مرفوع حديث روايت دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: په وروستی زمانه کې به ځينې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلک د کوترو د ججورو په څېر په تور رنگ وېښتان رنگوي، دوی به د جنت خوشبویي نه مومي.

## سپینه ونه!

﴿۵۲﴾ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، قَالَ: أُتِيَ بِأَبِي قُحَافَةَ يَوْمَ فَتْحِ مَكَّةَ وَرَأْسُهُ وَلِحْيَتُهُ كَالثَّغَامَةِ بَيَاضًا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: غَيِّرُوا هَذَا بِشَيْءٍ، وَاجْتَنِبُوا السَّوَادَ.(صحيح مسلم (۳/ ۱۶۶۳))

**ژباړه:** جابربن عبدالله رضی الله عنهما وايي: د مکې د فتحې په ورځ ابو قحافه د ابوبکر صديق رضي الله عنه پلار، رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راوستلی شو، سره ږيره يې د سپينې ونې په څېر سپينه گرځېدلې وه.

رسول الله صلی الله عليه وسم ورته وويل: د ده د وېښتانو سپينوالی يې په څه شي سره بدل کړئ او له تور رنگ نه ځان وساتئ.

## نوراني وېښتان!

﴿۵۳﴾ عَنْ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: الشيب نُورُ الْمُؤْمِنِ، لَا يشيب رجل شيبة في الإسلام إلا كانت له بكل شيبة حسنة و رفع بها درجة.(سلسلة الأحاديث الصحيحة (۳/ ۲۴۷))

**ژباړه:** عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: سپين وېښتان د مؤمن لپاره رڼا ده، هېڅ يو سړی په اسلام کې نه سپين ږيری کېږي، مگر هغه لپاره د هر سپين وېښته بدله کې يوه نېکي ده او هم يې پرې يوه درجه لوړولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سپېڅلی زړه!

﴿۵۴﴾ عَنْ سَعِيدِ بْنِ الْمُسَيِّبِ، قَالَ: قَالَ أَنَسُ بْنُ مَالِكٍ، قَالَ لِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا بُنَيَّ، إِنْ قَدَرْتَ أَنْ تُصْبِحَ وَتُمْسِيَ لَيْسَ فِي قَلْبِكَ غِشٌّ لِأَحَدٍ فَافْعَلْ، ثُمَّ قَالَ لِي: يَا بُنَيَّ وَذَلِكَ مِنْ سُنَّتِي، وَمَنْ أَحْيَا سُنَّتِي فَقَدْ أَحَبَّنِي، وَمَنْ أَحَبَّنِي كَانَ مَعِي فِي الْجَنَّةِ.(سنن الترمذي ت شاكر (۵/ ۴٦))

**ژباړه:** سعيد بن المسيب له انس بن مالک رضی الله عنه نه روايت کړی، انس رضی الله عنه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم راته وويل: «زوی ګوټيه! که دې وس وي چې په داسې حال کې سبا و بېګاه کړې چې زړه کې دې هېچا ته هم څه بدنيتي نه وي، نو دا کار کوه» بيا يې راته وويل: «زوی ګوټيه! دا کار زما له سنتو څخه دی، څوک چې زما سنت ژوندي کړي، له ما سره يې مينه وکړه او څوک چې له ما سره مينه وکړي، په جنت کې به راسره ملګری وي».

## ۷۰ ځلې معافي؟!

﴿۵۵﴾ عَنْ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عُمَرَ يَقُولُ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، كَمْ نَعْفُو عَنِ الْخَادِمِ؟ فَصَمَتَ، ثُمَّ أَعَادَ عَلَيْهِ الْكَلَامَ، فَصَمَتَ، فَلَمَّا كَانَ فِي الثَّالِثَةِ، قَالَ: اعْفُوا عَنْهُ فِي كُلِّ يَوْمٍ سَبْعِينَ مَرَّةً.(سنن أبي داود (۴/ ۳۴۱))

**ژباړه:** عبدالله بن عمرو رضی الله عنهما وايي:

يو سړی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی، ويې ويل: ای د الله رسوله! خپل خدمتګار ته څومره معافي وکړم؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم چوپ شو، بيا يې خبره راوګرځوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلى الله عليه وسلم بيا چوپ شو، دريم ځل کې يې ورته وويل: خدمتگار ته دې په ورځ کې اويا ځلې معافي کوه.
دې ته ورته حديث مسند احمد کې هم راغلی.

## خدمتگار مو په مينه او ښښنه ونازوئ!

﴿۵۶﴾ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، أَنَّ رَجُلًا أَتَى رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّ لِي خَادِمًا يُسِيءُ وَيَظْلِمُ أَفَأَضْرِبُهُ، قَالَ: تَعْفُو عَنْهُ كُلَّ يَوْمٍ سَبْعِينَ مَرَّةً.(مسند أحمد مخرجا (۹/ ۴۵۳))

**ژباړه:** عبدالله بن عمر بن الخطاب رضی الله عنهما وايي: يو سړی نبي صلى الله عليه وسلم ته راغی، ويې ويل: ای د الله رسوله! زما يو خدمتگار دی، تل راسره ظلم او ناوړه چلند کوي، ايا وهلی يې شم؟
رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: په هره ورځ کې ورته اويا ځلې معافي کوه.

﴿۵۷﴾ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا جَاءَ أَحَدَكُمْ بِطَعَامِهِ، فَلْيُقْعِدْهُ مَعَهُ، أَوْ لِيُنَاوِلْهُ مِنْهُ، فَإِنَّهُ هُوَ الَّذِي وَلِيَ حَرَّهُ، وَدُخَانَهُ.(مسند أحمد مخرجا (۷/ ۳۰۰))

**ژباړه:** عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د حديث راوي دی:
رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: کله چې ستاسې کوم کس ته خپل خدمتگار خواړه راوړي، نو هغه دې له ځانه سره کښنوي يا دې د خوړو څه برخه ورکړي، ځکه دا هغه کس دی چې پر ځان يې د اور تپ او لوگی قبول کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ګاونډي دې څه وايي!؟

﴿٥٨﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ، قَالَ: قَالَ رَجُلٌ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: كَيْفَ لِي أَنْ أَعْلَمَ إِذَا أَحْسَنْتُ، وَإِذَا أَسَأْتُ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا سَمِعْتَ جِيرَانَكَ يَقُولُونَ: قَدْ أَحْسَنْتَ، فَقَدْ أَحْسَنْتَ، وَإِذَا سَمِعْتَهُمْ يَقُولُونَ: قَدْ أَسَأْتَ، فَقَدْ أَسَأْتَ. (مسند أحمد مخرجا (٦/ ٣٥٧))

**ژباړه:** عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د حديث راوي دی، وايي: يو سړی رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی او ترې يې وپوښتل: څنګه ځان ته معلوم کړم، چې زه نېکو کار يم؛ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: کله دې چې له ګاونډيانو څخه واورېدل، چې ته نېکو کار يې بيا نو په ريښتيا، ته نېکو کار يې او کله دې، چې له خپلو ګاونډيانو څخه واورېدل چې ته بد او ناکاره انسان يې بيا نو ته ناکاره انسان يې.

## د تېر حديث لپاره دويم حديث يې د شاهد په ډول راوړی:

﴿٥٩﴾ «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ إِذَا أَنَا عَمِلْتُ بِهِ دَخَلْتُ الْجَنَّةَ. قَالَ: كُنْ مُحْسِنًا، قَالَ: كَيْفَ أَعْلَمُ أَنِّي مُحْسِنٌ؟ قَالَ: سَلْ جِيرَانَكَ، فَإِنْ قَالُوا: إِنَّكَ مُحْسِنٌ فَأَنْتَ مُحْسِنٌ، وَإِنْ قَالُوا: إِنَّكَ مُسِيءٌ فَأَنْتَ مُسِيءٌ». «هَذَا حَدِيثٌ صَحِيحٌ عَلَى شَرْطِ الشَّيْخَيْنِ، وَلَمْ يُخَرِّجَاهُ». (المستدرك على الصحيحين للحاكم (١/ ٥٣٤))

**ژباړه:** ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی وايي: يو سړي رسول الله صلی الله عليه وسلم ته راغی ويې ويل: ای د الله پېغمبره!

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې يوه چاره راته وښايه، چې پر کولو يې جنتي شمه؛ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: نېکو کار شه! سړي وويل: څنگه دا معلومه کړم، چې زه نېکو کار يم؟ رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: له گاونډيانو دې پوښتنه وکړه، که هغوی وويل: چې ته نېکو کار يې، بيا نو ته نېکو کار يې او که هغوی وويل: چې ته بد کار يې بيا نو ته بد کار يې، دا حديث د شيخينو پر شرط سم دی.

**يادونه:** دواړو حديثونو کې دا خبره روښانه ده چې د يو مؤمن انسان، احسان او ښه سړيتوب په معامله او کاروبار کې معلومېږي او بدوالی يې هم په معامله کې معلومېږي، پر همدې بنسټ اړينه ده چې له نورو سره ټولنيز ژوند او کاروباري معاملو کې له اخلاص، رښتنيولی او احسان څخه کار واخلو.

## حديث جبريل کې احسان داسې تعريف شوی:

﴿۶۰﴾ أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ.(صحيح مسلم (۱/ ۳۷))

**ژباړه:** په داسې طريقه د الله تعالی بنده گي کوه، گوا چې هغه گورې، که ته هغه نه شې ليدلی؛ نو هغه (الله تعالی) خو دې گوري.

**يادونه:** په عباداتو کې احسان ستره مرتبه ده، دا هغه مرتبه ده چې د بنده زړه پکې له الله سره يو ځای کېږي، هغه مناجات گټور او خوندور وي چې بنده د احسان رسی نيولې وي او د همدې غزېدلې رسی په وسيله د کائناتو له خالق سره وصل وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوه شرعي سندونه: سلام او ښکلی کلام!

﴿٦١﴾ عَنِ الْمِقْدَامِ بْنِ شُرَيْحٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ، دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ يُدْخِلُنِي الْجَنَّةَ قَالَ: إِنَّ مِنْ مُوجِبَاتِ الْمَغْفِرَةِ بَذْلَ السَّلَامِ، وَحُسْنُ الْكَلَامِ.(المعجم الكبير للطبراني (٢٢/ ١٨٠))

**ژباړه:** مقدام بن شريح له خپل نيکه نه روايت کړی، وايي:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ته مې وويل: ای د الله رسوله! داسې يو عمل راته وښايه چې جنتي شم؟

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: بې شکه، د سلام د ځواب ورکړه او ښې خبرې کول، د ښښنې واجبوونکي دي.

## د تسبيح او استغفار جوړه!

﴿٦٢﴾ عَنْ عَائِشَةَ قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُكْثِرُ مِنْ قَوْلِ: (سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ أَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ) قَالَتْ: فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ، أَرَاكَ تُكْثِرُ مِنْ قَوْلِ: (سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ أَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ؟) فَقَالَ: خَبَّرَنِي رَبِّي أَنِّي سَأَرَى عَلَامَةً فِي أُمَّتِي، فَإِذَا رَأَيْتُهَا أَكْثَرْتُ مِنْ قَوْلِ: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ أَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ، فَقَدْ رَأَيْتُهَا، إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللهِ وَالْفَتْحُ، وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللهِ أَفْوَاجًا، فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا.«النصر: ٣»

**ژباړه:** أم المؤمنين عائشه رضي الله عنها وايي:

رسول الله صلى الله عليه وسلم به (سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ أَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ) کلمې ډېرې ويلې، عائشه رضی الله عنها وايي: ما ورته وويل: ای د الله رسوله! تاسې گورم چې دا کلمات ډېر ډېر وايئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: عائشې! رب مې راته خبر راکړی چې اُمت کې به یوه علامه او نښه ګورم.

له کله راهیسې مې چې هغه نښه لیدلې د (سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ أَسْتَغْفِرُ اللهَ وَأَتُوبُ إِلَيْهِ) کلمو ویل مې ډېر کړي او هغه نښه مې ولیده چې (کله د الله تعالی مرسته راشي او برۍ در په برخه شي او (ای پېغمبره!) ته به ووینې چې خلک ډلې - ډلې د الله تعالی په دین کې داخلیږي، نو د خپل رب له ثنا او ستاینې سره د هغه پاکي بیان کړه او له هغه څخه بښنه غواړه، بې شکه هغه ستر توبه قبلوونکی دی.

**یادونه:** دې حدیث کې د تسبېح سره د استغفار یاد جوړه راغلی او دا دلیل دی چې تسبېح ځانته عمل دی او استغفار ځانته عمل دی، یو د بل پر ځای نه حسابېږي، پر همدې بنسټ مؤمن نارینه او ښځینه ته په کار دي چې د هر یو په خپل ځای کې پاملرنه وکړي.

## دتسبیح او استغفار دویمه جوړه!

﴿۶۳﴾ عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَانَ يُكْثِرُ أَنْ يَقُولَ فِي رُكُوعِهِ وَسُجُودِهِ: سُبْحَانَكَ اللهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اللهُمَّ اغْفِرْ لِي.(مسند أحمد ط الرسالة (۴۱/ ۲۱۸))

**ژباړه:** أم المؤمنین عائشه رضی الله عنها وایي:

رسول الله صلی الله علیه وسلم به په رکوع او سجده کې دا کلمات ډېر ډېر ویل:

(سُبْحَانَكَ اللهُمَّ رَبَّنَا وَبِحَمْدِكَ، اللهُمَّ اغْفِرْ لِي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د رزق کونجیاني!

**استغفار:**

﴿٦٤﴾ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنِ أَكْثَرَ مِنَ الاسْتِغْفَارِ، جَعَلَ اللَّهُ لَهُ مِنْ كُلِّ هَمٍّ فَرَجًا، وَمِنْ كُلِّ ضِيقٍ مَخْرَجًا، وَرَزَقَهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ.(مسند أحمد مخرجا (۴/ ۱۰۴))

**ژباړه:** عبدالله بن عباس رضی الله عنهما د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې ډېر استغفار وايي، الله تعالی به ورته له هر غم او هرې تنگسې نه خلاصی ورکړي او له داسې لوري به روزي ورکړی شي چې د ده په گومان کې به هم نه وي.

## د عملنامې سینگار!

﴿٦٥﴾ عَنْ مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عِرْقٍ قَالَ، سَمِعْتُ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ بُسْرٍ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: طُوبَى لِمَنْ وَجَدَ فِي كِتَابِهِ اسْتِغْفَارًا كَثِيرًا.(السنن الكبرى للنسائي (۹/ ۱۷۱))

**ژباړه:** محمد بن عبدالرحمن بن عرق وايي د عبد الله بن بسر رضي الله عنه نه مې اورېدلي ويل يې، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: هغه چا لپاره خوشحالي ده، چې په عملنامه کې یې ډېر استغفار ومومندل شي.

**يادونه:** استغفار شرعي سند دی او د هرې ستونزې حل په استغفار ويلو کې دی.

استغفار او توبه د گناهونو لپاره پاکوالی او د رزق زیاتوالی دی، استغفار د رزق د خزانو کیلي ده، له هر ډول مالي، روحي او مانيزو ستونزو څخه د خلاصون لپاره دا کیلي وکاروئ، الله تعالی به هرو مرو درته د ژغورنې لارې چارې برابرې کړي، د قرآني اياتونو په استناد ډېرى پيغمبرانو خپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



قومونو ته د استغفار ويلو امر کړی و، او دا يې د الله تعالی د رحمت ښايسته ژوند او هر اړخيز قوت لپاره نسخه ښودلې.

## تقوا او ښايسته اخلاق!

﴿٦٦﴾ عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اتَّقِ اللهِ حَيْثُمَا كُنْتَ، وَأَتْبِعِ السَّيِّئَةَ الحَسَنَةَ تَمْحُهَا، وَخَالِقِ النَّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ.(سنن الترمذي ت بشار (۳/ ۴۲۳))

**ژباړه:** ابو ذر رضی الله عنه د حديث راوي دی:

وايي رسول الله صلی الله عليه وسلم راته ويلي: چېرې چې يې، د الله تعالی نه وېرېږه! نېکي له ګناه پسې کړه چې له منځه يې يوسي او له خلکو سره په ښو خويونو چال چلن کوه.

## خوشحالوونکې عملنامه!

﴿٦٧﴾ عَنِ الزُّبَيْرِ بْنِ الْعَوَّامِ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ أَحَبَّ أَنْ تَسُرَّهُ صَحِيفَتُهُ فَلْيُكْثِرْ فِيهَا مِنَ الِاسْتِغْفَارِ.(صحيح الجامع الصغير وزيادته (۲/ ۱۰۳۳))

**ژباړه:** زبير بن عوام رضی الله عنه نه روايت دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: د چا چې دا خوښېږي چې د خپلې عملنامې په ليدلو خوشحاله شي؛ نو استغفار دې پکې ډېر کړي.

## توکل: له زړه نه پر الله تعالی اعتماد او باور کول!

﴿٦٨﴾ عَنْ عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، قَالَ، قَالَ: رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، لَوْ تَوَكَّلُونَ عَلَى اللَّهِ حَقَّ تَوَكُّلِهِ، لَرَزَقَكُمُ اللَّهُ كَمَا يَرْزُقُ الطَّيْرَ، تَغْدُو خِمَاصًا، وَتَعُودُ بِطَانًا.(صحيح ابن حبان - مخرجا (۲/ ۵۰۹))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** عمر بن الخطاب رضی الله عنه د حدیث راوي دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: که چېرې له زړه نه تاسې، پر الله تعالی حق اعتماد او باور وکړئ، نو الله به داسې روزي درکړي، څنګه روزي چې مرغانو ته ورکوي، سهار مهال تشې ګېډې وځي او ماښام مهال ډکې ګېډې ځالو ته راګرځي.

## د جنت باغ!

﴿۶۹﴾ عَنْ ثَوْبَانَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «إِنَّ الْمُسْلِمَ إِذَا عَادَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ لَمْ يَزَلْ فِي خُرْفَةِ الْجَنَّةِ حَتَّى يَرْجِعَ».(صحیح مسلم، ۲۵۶۸)

**ژباړه:** ثوبان رضي الله عنه د حدیث راوي دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: بې شکه مسلمان چې کله د خپل مسلمان ورور د ناروغۍ پوښتنې ته لاړ شي، تر بېرته را ګرځېدلو پورې د جنت په باغ کې وي.

## علم د ژغورنې سند دی!

﴿۷۰﴾ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ أَبِي بَكْرَةَ، عَنْ أَبِيهِ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: اغْدُ عَالِمًا، أَوْ مُتَعَلِّمًا، أَوْ مُسْتَمِعًا، أَوْ مُحِبًّا، وَلَا تَكُنِ الْخَامِسَةَ فَتَهْلِكَ.(المعجم الأوسط (۵/ ۲۳۱))

**ژباړه:** عبد الرحمن بن ابي بکرة رضی الله عنه له خپل پلار نه روایت کړی، وایي: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اورېدلي ویل یې: عالم شه، یا زده کوونکی شه، یا اورېدونکی شه، یا له دوی سره مینه کوونکی شه او پنځم مه جوړېږه چې هلاکېږې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حج و عمره!

﴿۴۱﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَابِعُوا بَيْنَ الحَجِّ وَالعُمْرَةِ، فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الفَقْرَ وَالذُّنُوبَ كَمَا يَنْفِي الكِيرُ خَبَثَ الحَدِيدِ، وَالذَّهَبِ، وَالفِضَّةِ، وَلَيْسَ لِلْحَجَّةِ الْمَبْرُورَةِ ثَوَابٌ إِلاَّ الجَنَّةُ.(سنن الترمذي ت بشار (۲/ ۱٦٧))

**ژباړه:** عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: حج او عمره يو بل پسې وکړئ، بې شکه دا دواړه فقر او ګناهونه داسې له منځه وړي څنګه چې د پښ بټۍ د اوسپنې، سروزرو او سپين زرو خيرې له منځه وړي او د مبرور حج بدله يوازې جنت دی.

﴿۴۲﴾ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَابِعُوا بَيْنَ الْحَجِّ وَالْعُمْرَةِ فَإِنَّهُمَا يَنْفِيَانِ الذُّنُوبَ كَمَا يَنْفِي الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ.(السنن الكبرى للنسائي (۴/ ۹))

**ژباړه:** ابن عباس رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: حج او عمره يو بل پسې وکړئ بې شکه دا دواړه، ګناهونه داسې له منځه وړي څنګه چې د پښ بټۍ د اوسپنې خيرې له منځه وړي.

❖ د ګران پيغمبر صلی الله عليه وسلم، دا دواړه حديثونه په دې دليل دي چې حج و عمره رزق زياتوي، فقر او بې وزلي له منځه وړي، دواړو حديثونو کې نبوي تشبيې نه معلومېږي، چې د حج و عمرې منځ کې پرلپسې والی د روزۍ کيلي ده، بلکې د فقر د له منځه وړلو سربېره بله ستره ځانګړنه يې دا ده، چې ګناهونه هم له منځه وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خپلوي پالل:

﴿٤٣﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ، وَأَنْ يُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ، فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ.(صحيح البخاري (٨/ ٥))

**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی، وايي:
له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه مې اورېدلي دي ويل يې: د چا چې دا خوښېږي، چې روزي يې پراخه شي او عمر يې برکتي شي؛ نو خپلوي دې پالي.

﴿٤٤﴾ عَنْ أَنَسِ بْنُ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ، وَيُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِهِ، فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ.(صحيح البخاري (٨/ ٥))

**ژباړه:** انس بن مالک رضی الله عنه د حديث راوي دی:
رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: څوک چې د روزۍ له پراخۍ سره مينه لري او دا يې خوښېږي چې عمر يې اوږد شي نو خپلوي دې پالي.

﴿٤٥﴾ إِنَّ اللَّهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَبْتَلِي عَبْدَهُ بِمَا أَعْطَاهُ، فَمَنْ رَضِيَ بِمَا قَسَمَ اللهُ عَزَّ وَجل لَهُ بَارَكَ اللهُ لَهُ فِيهِ ووسعه، وَمَن لَمْ يَرضَ لَمْ يُبَارِكْ لَهُ فِيهِ.[1]

**ژباړه:** بې شکه الله تبارک و تعالی د خپل بنده ازموينه اخلي، په هغه څه کې چې ده ته يې ورکړي وي، که څوک پر خپله ټاکلې برخه راضي شي او قناعت وکړي، الله تعالی پکې برکت اچوي او نوره يې هم پراخوي او

١ سلسلة الأحاديث الصحيحة (٤/ ٢١٥) أخرجه أحمد (٥ / ٢٤) عن أبي العلاء بن الشخير حدثني أحد بني سليم - ولا أحسبه إلا قد رأى رسول الله صلى الله عليه وسلم - فذكره. وهذا إسناد صحيح على شرط مسلم، وجهالة الصحابي لا تضر.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چې د الله تعالی له لورې پر خپله برخه راضي نه شي، الله تعالی يې بې برکته پرېږدي، يانې برکت پکې ورته نه اچوي.

## دخپلوی پاللو سترې ګټې!

﴿٤٦﴾ عَنْ عَلِيٍّ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ سَرَّهُ أَنْ يُمَدَّ لَهُ فِي عُمْرِهِ، وَيُوَسَّعَ لَهُ فِي رِزْقِهِ، وَيُدْفَعَ عَنْهُ مِيتَةُ السُّوءِ، فَلْيَتَّقِ اللَّهَ وَلْيَصِلْ رَحِمَهُ.( مسند أحمد مخرجا (٢/ ٣٨٧))

**ژباړه:** علي بن ابي طالب رضی الله عنه د حديث راوي دی:
رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: څوک چې د عمر په اوږدېدلو، د رزق په پراخېدلو او د ناکاره مرګ نه په خلاصېدلو خوشحالېږي له الله تعالی دې وېرېږي او خپلوي دې پالي.
دا حديث په دې دليل دی، چې تقوا او خپلوي پالل، عمر کې برکت اچوي، روزي پراخوي او د ناکاره مرګ مخنيوی کوي.

﴿٤٧﴾ بُلُّوا أَرْحَامَكُمْ وَلَو بِالسَّلَامِ.[1]

**ژباړه:** سويد بن عامر انصاري رضي الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: خپلوی مو تازه وساتئ، که څه هم په سلام سره وي.

## د الله تعالی په لاره کې د دين د تاييد، مرستې، يا پر اړمنو او بې وزلو مال لګول:

﴿٤٨﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنْفِقْ يَا بِلَالُ، وَلَا تَخْشَ مِنْ ذِي الْعَرْشِ إِقْلَالًا.(المعجم الكبير للطبراني (١/ ٣٤١))

---

١ صحيح الجامع الصغير وزيادته (١/ ٥٤٦)/ سند يې صحيح مرسل دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی، وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم، بلال رضی الله عنه ته وويل: بلاله! د ښېګڼې چارو کې مال لګوه او د عرش له څښتنه د کمښت وېره مه لره.

## ملائک چاته دعا او چاته ښېرا کوي؟!

﴿۷۹﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ العِبَادُ فِيهِ، إِلَّا مَلَكَانِ يَنْزِلَانِ، فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا، وَيَقُولُ الآخَرُ: اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا.(صحيح البخاري (۲/ ۱۱۵))

**ژباړه:** ابـو هريـره رضی الله عـنه د حـديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: هره ورځ چې د الله بنده ګان سبا کوي، دوه ملائک راکوزېږي، يو وايي: «ای الله! مال لګوونکي ته يې عوض (بدله) ورکړې» او بل يې وايي: «ای الله! د مال بندوونکي (بخيل) مال هلاک کړې».

دې حديث کې د الله لاره کې مال لګوونکي ته د بدل د ورکړې دعا ياده شوې او څوک چې په حسي يا معنوي ډول مال بندوي او نه يې لګوي، هغه ته ښېرا شوې ده.

## سپينو وريځو کې يادېږي!

﴿۸۰﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: بَيْنَا رَجُلٌ بِفَلَاةٍ مِنَ الْأَرْضِ، فَسَمِعَ صَوْتًا فِي سَحَابَةٍ: اسْقِ حَدِيقَةَ فُلَانٍ، فَتَنَحَّى ذَلِكَ السَّحَابُ، فَأَفْرَغَ مَاءَهُ فِي حَرَّةٍ، فَإِذَا شَرْجَةٌ مِنْ تِلْكَ الشِّرَاجِ قَدِ اسْتَوْعَبَتْ ذَلِكَ الْمَاءَ كُلَّهُ، فَتَتَبَّعَ الْمَاءَ، فَإِذَا رَجُلٌ قَائِمٌ فِي حَدِيقَتِهِ يُحَوِّلُ الْمَاءَ بِمِسْحَاتِهِ، فَقَالَ لَهُ: يَا عَبْدَ اللهِ مَا اسْمُكَ؟ قَالَ: فُلَانٌ –

(c) ketabton.com: The Digital Library



لِلاسْمِ الَّذِي سَمِعَ فِي السَّحَابَةِ - فَقَالَ لَهُ: يَا عَبْدَ اللهِ لِمَ تَسْأَلُنِي عَنِ اسْمِي؟ فَقَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ صَوْتًا فِي السَّحَابِ الَّذِي هَذَا مَاؤُهُ يَقُولُ: اسْقِ حَدِيقَةَ فُلَانٍ، لِاسْمِكَ، فَمَا تَصْنَعُ فِيهَا؟ قَالَ: أَمَّا إِذْ قُلْتَ هَذَا، فَإِنِّي أَنْظُرُ إِلَى مَا يَخْرُجُ مِنْهَا، فَأَتَصَدَّقُ بِثُلُثِهِ، وَآ كُلُ أَنَا وَعِيَالِي ثُلُثًا، وَأَرُدُّ فِيهَا ثُلُثَهُ.(صحيح مسلم (۴/ ۲۲۸۸))

**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي:

دی رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلي: يو ځل يو سړی په يوه وچه دښته کې روان و، له وريځو نه يې يو غږ واورېده، د غږ مضمون دا و: د فلانکي باغ خړوب کړه!

دا وريځ يوې څنډې ته شوه او خپلې اوبه يې پر يوې شګلنې ځمکې تويې کړې، چې له دې خوړونو څخه يو خوړ دا اوبه را يو ځای کړې دا سړی اوبو پسې روان شو، ګوري چې يو سړی په خپل باغ کې ولاړ دی او اوبه پخپل بېل اړوي را اړوي، ده ورته وويل: ای د الله بنده! ستا نوم څه دی؟

باغ کې ولاړ سړي وويل: فلانکی.

هغه نوم يې ياد کړ چې ده په وريځو کې اورېدلی و.

باغ کې ولاړ سړي وويل: ای د الله بنده! د څه لپاره دې راڅخه د نوم پوښتنه وکړه؟

ده ورته وويل: ما په هاغې وريځو کې چې دا يې اوبه دي واورېده، ويل يې: د فلانکي باغ خړوب کړه او ستا نوم يې واخيست.

نو ته د دغه باغ په حاصل څه کوې؟

هغه ورته وويل: اوس دې چې دا خبره وکړه، (درته به ووايم) زه دباغ حاصل ته ګورم چې څومره حاصل ترې اخيستل کېږي، زه يې درېيمه برخه صدقه کوم، يوه برخه يې زه او زما اولاد خورو او درېيمه برخه يې بېرته په باغ لګوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## يوه نېکي دې تر جنته رسوي؟!

﴿٨١﴾ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ أَخْرَجَ مِنْ طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ شَيْئاً يُؤْذِيهِمْ كَتَبَ الله لَهُ بِهِ حَسَنَةً وَمَنْ كَتَبَ لَهُ عِنْدَهُ حَسَنَةً أَدْخَلَهُ بِهَا الْجَنَّةَ.(الجامع الصغير وزيادته (ص: ١٠٩٢٩))

**ژباړه:** ابو درداء رضی الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: څوک چې د مسلمانانو له لارې نه يو داسې څيز لرې کړي، چې مسلمانانو ته ضرر رسوي، الله تعالی پرې ده ته يوه نېکي ليکي او چا ته چې يوه نېکي وليکلی شوه، الله تعالی به يې د دې نېکۍ په وسيله جنت ته ننباسي.

﴿٨٢﴾ وَعَنْ أَبِي شَيْبَةَ الْمَهْرِيِّ قَالَ: كَانَ مُعَاذٌ يَمْشِي وَرَجُلٌ مَعَهُ، فَرَفَعَ حَجَرًا مِنَ الطَّرِيقِ، فَقَالَ: مَا هَذَا؟ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - يَقُولُ: مَنْ رَفَعَ حَجَرًا مِنَ الطَّرِيقِ كُتِبَتْ لَهُ حَسَنَةٌ، وَمَنْ كَانَتْ لَهُ حَسَنَةٌ دَخَلَ الْجَنَّةَ.(مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (٥/ ١٣٥))

رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيرِ، وَرِجَالُهُ ثِقَاتٌ.

**ژباړه:** ابو شيبة المهري وايي: معاذ رضی الله عنه په لاره روان و، يو سړی ورسره ملګری و، معاذ رضي الله عنه يوه تيږه له لارې پورته او لرې کړه، ملګري ورته وويل: دا کار مو څه لپاره وکړ؟

معاذ رضی الله عنه وويل: له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه مې اورېدلي دي، ويل يې څوک چې يوه تيږه له لارې نه پورته او لرې کړي، هغه لپاره يوه نېکي ليکل کېږي او څوک چې يوه نېکي لري، جنت ته ننوځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿۸۳﴾ مَنْ أَمَاطَ أَذًى عَنْ طَرِيقِ الْمُسْلِمِينَ كُتِبَ لَهُ حَسَنَةٌ، وَمَنْ تُقِبِّلَتْ مِنْهُ حَسَنَةٌ دَخَلَ الْجَنَّةَ.(مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (۳/ ۱۳٦))

**ژباړه:** معقل بن يسار رضی الله عنه وايي:

له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې اورېدلي، ويل يې: څوک چې د مسلمانانو له لارې څخه ضرري څيز لرې کړي، يوه نېکي ورته ليکل کېږي او د چا چې يوه نېکي قبوله شي، جنت ته ننوځي.

## شين سترګی پېژنئ؟

د جال حقيقت دی، د فتنې پر شتون يې عقيده واجب ده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم په احاديثو کې يې صفتونه بيان شوي، يو صفت او ځانګړنه يې دې حديث کې وګورئ!

﴿۸۴﴾ عَيْنُهُ خَضْرَاءُ كَالزُّجَاجَةِ، فَتَعَوَّذُوا بِاللهِ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ.[۱]

**ژباړه:** د دجال يوه سترګه د شيشې په څېر شنه ده او پر الله تعالی د قبر له عذابه پناه وغواړئ.

## نبوي احاديث ورسوئ!

﴿۸۵﴾ وَعَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ يَقُولُ: إِنِّي مُحَدِّثُكُمُ الْحَدِيثَ، فَلْيُحَدِّثِ الْحَاضِرُ مِنْكُمُ الْغَائِبَ.[۲]

**ژباړه:** عباده بن صامت رضی الله عنه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم به ويل: زه تاسې ته حديث بيانوم، ستاسې حاضر دې يې غائب ته بيان کړي.

۱ مسند أحمد ط الرسالة (۳۵/ ۸۳) سند يې صحيح دی.

۲ مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (۱/ ۱۳۹) رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيرِ، وَرِجَالُهُ مُوَثَّقُونَ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دوزخ کې کور!

﴿۸٦﴾ وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ رَسُولَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: إِنَّ الَّذِي يَكْذِبُ عَلَيَّ يُبْنَى لَهُ بَيْتٌ فِي النَّارِ.(مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (۱/ ۱٤۳))

**ژباړه:** ابن عمر رضی الله عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: بې شکه هغه کس چې پر ما دروغ وايي، هغه لپاره په دوزخ کې کور جوړولی شي.

## د جنت خوشبويي به نه مومي!

﴿۸۷﴾ وَعَنْ أَوْسِ بْنِ أَوْسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ كَذَبَ عَلَى نَبِيِّهِ أَوْ عَلَى عَيْنَيْهِ أَوْ عَلَى وَالِدَيْهِ لَمْ يَرُحْ رَائِحَةَ الْجَنَّةِ.(مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (۱/ ۱٤۸))

**ژباړه:** اوس بن اوس رضي الله عنه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې پر خپل پیغمبر دروغ ووايي، یا یې پر خپلو سترګو ووايي او یا یې پر خپل مور و پلار ووايي، د جنت خوشبويي به ونه مومي.

## علم په لیکلو وساتئ!

﴿۸۸﴾ عَنْ عَبْدِ اللّٰهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَيِّدِ الْعِلْمَ، قُلْتُ: وَمَا تَقْيِيدُهُ؟ قَالَ: الْكِتَابُ.(المعجم الأوسط (۱/ ۲۵۹))

**ژباړه:** عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنهما د حدیث راوي دی، دا وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وویل: علم له ځان سره قید کړه.

ما وویل: په څه قیدېږي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وویل: په لیکلو.

﴿۸۹﴾ عَنْ ثُمَامَةُ قَالَ: قَالَ لَنَا أَنَسٌ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: «قَيِّدُوا الْعِلْمَ بِالْكِتَابِ».(المعجم الكبير للطبراني (٢٤٦/١))

**ژباړه:** ثمامة وايي: انس رضی الله عنه موږ ته وويل: علم مو په ليكلو سره قيد وساتئ.

﴿۹۰﴾ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: شَكَى رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُوءَ الْحِفْظِ، فَقَالَ: اسْتَعِنْ بِيَمِينِكَ.[1]

**ژباړه:** انس رضی الله عنه وايي: يو سړي رسول الله صلى الله عليه وسلم ته د خپلې حافظې د كمزورۍ او خرابۍ شكايت وكړ.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: له ښي لاس څخه مرسته وغواړه (يانې ليكل كوه).

## عالمان د پېغمبرانو ځای ناستي دي!

﴿۹۱﴾ وَعَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " (الْعُلَمَاءُ خُلَفَاءُ الْأَنْبِيَاءِ.

قُلْتُ: لَهُ فِي السُّنَنِ: «الْعُلَمَاءُ وَرَثَةُ الْأَنْبِيَاءِ».(مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (١/ ١٢٦))

رَوَاهُ الْبَزَّارُ، وَرِجَالُهُ مُوَثَّقُونَ.

**ژباړه:** ابو درداء رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: «عالمان د پېغمبرانو ځای ناستي دي».

امام هيثمي رحمه الله وايي: په سنن كې داسې راغلي: «عالمان د پېغمبرانو وارثان دي».

بزار روايت كړی او راويان يې كره دي.

---

[1] المعجم الأوسـ... ١٦٩) مجمع الزوائد (٦٨٢/١).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## زلمیان زده کړو ته وهڅوئ!

﴿۹۲﴾ عَنْ أَبِي الدَّرْدَاءِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَثَلُ الَّذِي يَتَعَلَّمُ الْعِلْمَ فِي صِغَرِهِ كَالنَّقْشِ عَلَى الْحَجَرِ، وَمَثَلُ الَّذِي يَتَعَلَّمُ الْعِلْمَ فِي كِبَرِهِ كَالَّذِي يَكْتُبُ عَلَى الْمَاءِ.(مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (۱/ ۱۲۵))

**ژباړه:** ابو درداء رضی الله عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د هغه چا مثال چې کوچنیتوب کې زده کړه کوي، داسې دی لکه پر تیږه چې نقش کاږي او لیکل کوي او د هغه چا مثال چې په زړښت کې زده کړه کوي، لکه پر اوبو چې لیکل کوي.

## ځواني د عمر ګانه ده!

﴿۹۳﴾ وَعَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: مَا بَعَثَ اللَّهُ نَبِيًّا إِلَّا وَهُوَ شَابٌّ، وَلَا أُوتِيَ عَالِمٌ عِلْمًا إِلَّا وَهُوَ شَابٌّ.(مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (۱/ ۱۲۵))

**ژباړه:** ابن عباس رضی الله عنهما وایي: الله عزوجل هېڅ نبي نه دی رالېږلی مګر د ځوانۍ په عمر کې او هېڅ عالم ته علم نه دی ورکړل شوی مګر د ځوانۍ په عمر کې.

**یادونه:** دې حدیث کې د عمر د یوې ارزښتمنې او ګرانبیه دورې یادونه شوې چې ځواني ده، د ځوانۍ دوره د انسان عمر لپاره د ښایستونو او تاریخونو باب پرانیزي، انسان کولی شي په دې زرینه دوره کې هر راز پرمختیاوې ترلاسه کړي، ځوان کهول دې د عمر دا ځانګه د معنویاتو په مېوو او خوږو تازه وساتي چې د حال اتلان او د راتلونکې ستوري شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خبربدل دلیدلو په څېر نه دي!

﴿۹۴﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَيْسَ الْخَبَرُ كَالْمُعَايَنَةِ، إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ أَخْبَرَ مُوسَى بِمَا صَنَعَ قَوْمُهُ فِي الْعِجْلِ، فَلَمْ يُلْقِ الْأَلْوَاحَ، فَلَمَّا عَايَنَ مَا صَنَعُوا، أَلْقَى الْأَلْوَاحَ فَانْكَسَرَتْ.(مسند أحمد مخرجا (۴/ ۲٦٠))

**ژباړه:** ابن عباس رضی الله عنهما د حدیث راوي دی، وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: خبرېدل د سترګو د لیدلو په څېر نه وي، بې شکه الله عزوجل چې کله موسی علیه السلام خبر کړ، چې قوم دې د خوسکي بنده ګي پیل کړې ده، نو موسی علیه السلام د تورات تختې ونه غورځولې مګر کله يې چې پر خپلو سترګو د هغوی حال ولیده نو تختې يې وغورځولې او ماتې شوې.

**یادونه:** دې حدیث کې دا خبره روښانه ده چې خبر او د سترګو لیدلی حال توپیر لري، خبر هومره اغېز د انسان په روح، فکر او بدن نه لري څومره چې حقیقي بڼه او عملي چاره اغېز لري.

﴿۹۵﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ: أَنَّ فَتًى مِنْ قُرَيْشٍ أَتَى النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ائْذَنْ لِي فِي الزِّنَا، فَأَقْبَلَ الْقَوْمُ عَلَيْهِ وَزَجَرُوهُ، فَقَالُوا: مَهْ مَهْ، فَقَالَ: ادْنُهْ، فَدَنَا مِنْهُ قَرِيبًا، فَقَالَ: أَتُحِبُّهُ لِأُمِّكَ؟ قَالَ: لَا وَاللَّهِ، جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاكَ. قَالَ: وَلَا النَّاسُ يُحِبُّونَهُ لِأُمَّهَاتِهِمْ. قَالَ: أَفَتُحِبُّهُ لِابْنَتِكَ؟ قَالَ: لَا وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاكَ. قَالَ: وَلَا النَّاسُ يُحِبُّونَهُ لِبَنَاتِهِمْ. قَالَ: أَفَتُحِبُّهُ لِأُخْتِكَ؟ قَالَ: لَا وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاكَ. قَالَ: وَلَا النَّاسُ يُحِبُّونَهُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



لِأَخَوَاتِهِمْ. قَالَ: أَتُحِبُّهُ لِعَمَّتِكَ؟ قَالَ: لَا وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ، جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاكَ. قَالَ: وَلَا النَّاسُ يُحِبُّونَهُ لِعَمَّاتِهِمْ. قَالَ: أَتُحِبُّهُ لِخَالَتِكَ؟ قَالَ: لَا وَاللَّهِ يَا رَسُولَ اللَّهِ جَعَلَنِي اللَّهُ فِدَاكَ. قَالَ: وَلَا النَّاسُ يُحِبُّونَهُ لِخَالَاتِهِمْ. قَالَ: فَوَضَعَ يَدَهُ عَلَيْهِ، وَقَالَ: اللَّهُمَّ اغْفِرْ ذَنْبَهُ، وَطَهِّرْ قَلْبَهُ، وَحَصِّنْ فَرْجَهُ. قَالَ: فَلَمْ يَكُنْ بَعْدَ ذَلِكَ الْفَتَى يَلْتَفِتُ إِلَى شَيْءٍ.»[1]

**ژباړه: ابو امامة رضي الله عنه وايي:**

يو قريشي ځوان، نبي صلى الله عليه وسلم ته راغی او ويې ويل: ای د الله رسوله! د زنا کولو اجازه راکړئ؟!

صحابه کرامو د هغه لور ته مخونه وګرځول او ډېر يې ورټه.

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: مه کوئ، مه يې رټئ!

بيا يې ځوان ته وويل: ماته رانږدې شه!

ځوان د رسول الله صلى الله عليه وسلم څنګ ته ورنږدې شو، رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته د يو خوږ او مهربان مُرَبي په څېر وويل: ته دا خوښوې چې ستا له مور سره دې زنا وکړی شي؟

ځوان وويل: نه؛ ای د الله رسوله! له تا ځار شم، دا هېڅکله نه خوښوم.

رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته وويل: خلک هم دا نه خوښوي چې د هغوی له میندو سره دې زنا وکړی شي.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: ته دا خوښوې چې ستا له لور سره دې زنا وکړی شي؟

قريشي ځوان وويل: نه؛ په الله سوګند کوم، دا هېڅکله نه خوښوم.

مهربان او ځيرک مُرَبي صلى الله عليه وسلم ورته وويل: خلک هم دا خوښوي چې له لوڼګانو سره دې يې زنا وکړی شي.

---

١ مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (١/ ١٢٩) (رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيرِ، وَرِجَالُهُ رِجَالُ الصَّحِيحِ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: دا خوښوې چې ستا له خور سره دې زنا وکړی شي؟

قریشي ځوان وویل: نه؛ ای د الله رسوله! له تا ځار شم، دا هم نه خوښوم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: خلک هم دا نه خوښوي چې له خویندو سره دې یې زنا وکړی شي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: ایا دا خوښوې چې له عمه (توړی) سره دې زنا وکړی شي؟

ځوان وویل: نه؛ په الله سوگند! دا هېڅکله نه خوښوم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: نو خلک هم نه خوښوي چې له عمه گانو سره دې یې زنا وشي.

بیا یې ورته وویل: ځوانه! دا دې خوښېږي چې ستا له خاله (ترور) سره دې څوک زنا وکړي؟

قریشي ځوان وویل: نه؛ والله! ای د الله رسوله! له تا دې ځار شم، دا هېڅکله نه خوښوم.

د رحمت او ښو اخلاقو ښوونکي نبي صلی الله علیه وسلم ورته وویل: ځوانه! خلک هم دا نه خوښوي چې له خاله گانو سره دې یې زنا وشي.

- راوي وايي: مهربان مُرَبِّيٌ محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم پرې لاس کېښوده او په معصومه نبوي مبارکه ژبه یې ورته داسې دعاء وکړه: اللَّهُمَّ اغْفِرْ ذَنْبَهُ وَطَهِّرْ قَلْبَهُ، وَحَصِّنْ فَرْجَهُ.(مسند أحمد مخرجا (۳٦/ ۵۴۵))

**ژباړه:** ای الله! گناه یې معاف کړې، زړه یې پاک کړې او عورت یې له (گناه) نه وساتې.

- ❖ راوي وايي: په قریشي ځوان، نبوي تربیې او دعا داسې اغېز وکړ چې له دې وروسته یې بیا هېڅ ته په بد نظر ونه کتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د وینا کولو هنر!

﴿۹۶﴾ وَعَنْ أَبِي أُمَامَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - كَانَ إِذَا تَكَلَّمَ تَكَلَّمَ ثَلَاثًا، لِكَيْ يُفْهَمَ عَنْهُ.[1]

**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی، وايي:

نبي صلی الله عليه وسلم به چې کله خبرې کولې، نو خبره به يې درې ځلې تکراروله او تکرار به يې دې لپاره کاوه، چې خلک پرې ښه پوه شي.

**يادونه:** رسول الله صلی الله عليه وسلم به هله خبره تکراروله، چې خبره به ډېره اړينه او ګټوره وه او غوښتل به يې چې اورېدونکي پرې صحيح پوه شي، هره خبره يې درې ځلې نه تکراروله.

﴿۹۷﴾ عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: مَا كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَسْرُدُ سَرْدَكُمْ هَذَا، وَلَكِنَّهُ كَانَ يَتَكَلَّمُ بِكَلَامٍ يُبَيِّنُهُ، فَصْلٌ، يَحْفَظُهُ مَنْ جَلَسَ إِلَيْهِ.(رواه الترمذي)

**ژباړه:** عائشه رضی الله عنها ويلي: رسول الله صلی الله عليه وسلم به ستاسې په څېر په خبرو کولو کې بيړه نه کوله، بلکې رسول الله صلی الله عليه وسلم به روښانه او غوڅې - غوڅې خبرې کولې، څوک به چې ورته ناست و، (په اسانی) به يې ترې يادولی شوې.

﴿۹۸﴾ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعِيدُ الكَلِمَةَ ثَلَاثًا لِتُعْقَلَ عَنْهُ.(سنن الترمذی)

**ژباړه:** انس بن مالک رضی الله عنه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم به درې ځلې خبره تکراروله ددې لپاره چې خلک پرې پوه شي.

---

۱ مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (۱/ ۱۲۹) (رَوَاهُ أَحْمَدُ وَالطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيرِ، وَرِجَالُهُ رِجَالُ الصَّحِيحِ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## علمي سفر!

﴿۹۹﴾ مکحول وايي: عقبة بن عامر رضی الله عنه، مسلمة بن مخلد رضی الله عنه ته ورغی او مسلمة بن مخلد په مصر کې و، د کور دروازې ته يې چې ورسېده، د دروازې له څوکيدار سره يې څه لفظي شخړه راغله، مسلمة بن مخلد رضی الله عنه يې غږ واورېده، د دننه ورتللو اجازه يې ورکړه.

عقبة بن عامر رضی الله عنه ورته وويل: زه ستا ملاقات ته نه يم راغلی، زه يوه (علمي) اړتيا لرم، ايا تا ته هغه ورځ په ياد ده، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل:

مَنْ عَلِمَ مِنْ أَخِيهِ سَيِّئَةً فَسَتَرَهَا سَتَرَ اللَّهُ عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ.[1]

مسلمة رضی الله عنه ورته وويل: هو؛ په ياد مې ده.

عقبة بن عامر رضی الله عنه وويل: سمه ده، د همدې حديث کره کولو لپاره راغلی وم.

**يادونه:** جابر بن عبدالله رضی الله عنه د يو حديث پسې شام ته يوه مياشت سفر وکړ او عبدالله بن أنيس رضی الله عنه نه يې يو حديث واورېده او بېرته راوګرځېده.

﴿۱۰۰﴾ ابو ايوب رضی الله عنه يو حديث لپاره د پيغمبر له ښکلي ښاره، مصر ته سفر وکړ، حديث يې ځانته کره معلوم کړ او بېرته مديني منورې ته راغی.(مجمع الزوائد (۱/ ۱۷۸))

## بيلګه شه!

﴿۱۰۱﴾ مصعب بن سعد وايي: زما پلار به چې په جومات کې لمونځ کاوه، د لنډيز نه به يې کار اخيسته، رکوع او سجده به يې پوره کوله او کله به

۱ مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (۱/ ۱۳۴) (رواه الطبراني فی الکبير ورجاله الصحيحة)

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې چې په كور كې لمونځ كاوه، بيا به يې ركوع، سجده، قرأت او ټول لمونځ اوږداوه.

ما ورته وويل: اى پلار جانه! جومات كې لمونځ لنډوې او په كور كې يې اوږدوې؟

پلار مې راته وويل: زوى ګوټيه!

إِنَّا أَئِمَّةٌ يُقْتَدَى بِنَا.(مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (١/ ١٨٢))

موږ امامان يو، له موږ پسې اقتداء كېدلى شي.

**يادونه:** حديث دليل دى، چې د دين امام به په لمانځه او هم بهر د لمانځه نه د خلكو پام ساتي، ښايي اسلامي شحصيتونه د ژوند په هره چاره كې نورو لپاره بېلګه شي، څنګه چې سلف صالحين داسلامي امت لپاره د هدايت څلي دي.

## د هدايت شمعې!

﴿١٠٢﴾ وَعَنْ أُمِّ سُلَيْمٍ قَالَتْ: كُنْتُ مُجَاوِرَةً أُمَّ سَلَمَةَ زَوْجَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَرَأَيْتَ إِذَا رَأَتِ الْمَرْأَةُ أَنَّ زَوْجَهَا جَامَعَهَا فِي الْمَنَامِ، أَتَغْتَسِلُ؟ فَقَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ: تَرِبَتْ يَدَاكِ أُمَّ سُلَيْمٍ، فَضَحْتِ النِّسَاءَ عِنْدَ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَتْ أُمُّ سُلَيْمٍ: إِنَّ اللَّهَ لَا يَسْتَحِي مِنَ الْحَقِّ، وَلَنَا أَنْ نَسْأَلَ النَّبِيَّ - صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - عَمَّا أُشْكِلَ عَلَيْنَا خَيْرٌ مِنْ أَنْ نَكُونَ مِنْهُ عَلَى عَمْيَاءَ. فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَرِبَتْ يَدَاكِ يَا أُمَّ سُلَيْمٍ، عَلَيْهَا الْغُسْلُ إِذَا وَجَدَتِ الْمَاءَ فَقَالَتْ أُمُّ سَلَمَةَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَهَلْ لِلْمَرْأَةِ مَاءٌ؟ فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: فَأَنَّى يُشْبِهُهَا وَلَدُهَا؟ هُنَّ شَقَائِقُ الرِّجَالِ.(مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (١/ ١٦٥))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** أم سليم رضي الله عنها وايي: زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مېرمنې أم سلمة رضی الله عنها مجاوره (ګاونډۍ) وم.
أم سلیم رضی الله عنها له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه وپوښتل: ای د الله رسوله! په دې مسئله مې پوهه کړې، کله چې ښځه خوب کې وګوري چې خاوند یې ورسره جماع کړې وي، نو دا ښځه به غسل کوي؟
أم سلمة رضی الله عنها ورته وویل: أم سلیم لاس دې په خاورو کې سپېره شه!
د رسول الله صلی الله علیه وسلم په وړاندې دې ښځې وشرمولې.
أم سلیم رضی الله عنها وویل: الله تعالی له حق څخه حیأ نه کوي، مور ته پکار دي چې د ستونزمنو مسئلو په اړه له نبي صلی الله علیه وسلم نه پوښتنه وکړو، دا له دې نه غوره ده چې له دیني مسائلو دې همداسې پټې سترګې پاتې شو.
نبي صلی الله علیه وسلم أم سلیم رضی الله عنها ته وویل: «أم سلیم! لاس دې په خاورو کې سپېره شه، په دې ښځه هغه مهال غسل کول لازم دي چې څه اوبه پر جامه وګوري».
أم سلمة رضی الله عنها وویل: ای د الله رسوله! ښځه هم اوبه لري؟!
رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: «نو د څه له امله یې بچی مور ته ورته وي، ښځې د نارینه و سکنی خویندې دي».
**یادونه:** دې حدیث کې هم ډېر حکمتونه او ګټې دي، بیا بیا لوستلو سره یې په ګټو انسان پوهېدلی شي، ستره خبره پکې دا ده چې علم په پوښتنه لاس ته راځي، که أم سلیم رضی الله عنها پوښتنه نه وی کړې، نو أم سلمة رضی الله عنها به څه خبره شوې وه، چې ښځینه هم نطفه یا ځانګړې اوبه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا حدیث دلیل دی، چې نارینه او ښځینه دواړه به د دیني مسائلو په اړه پوښتنې کوي او ځان به ناخبره نه پرېږدي، حدیث کې د أم سلیم رضی الله عنها وینا نه ښه زده کړه کېږي.

## د قدر وړ شخصیتونه!

﴿۱۰۳﴾ عَنْ أَبِي مُوسَى الْأَشْعَرِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ مِنْ إِجْلَالِ اللَّهِ إِكْرَامَ ذِي الشَّيْبَةِ الْمُسْلِمِ، وَحَامِلِ الْقُرْآنِ غَيْرِ الْغَالِي فِيهِ وَالْجَافِي عَنْهُ، وَإِكْرَامَ ذِي السُّلْطَانِ الْمُقْسِطِ.(سنن أبي داود (۴/ ۲۶۱))

**ژباړه:** أبي موسی الأشعري رضی الله عنه دحدیث رواي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د مسلمان سپین ږیري عزت کول، د قرآن کریم د حافظ عزت کول، چې له حد نه تېرېدونکی او له قرآن نه لرې کېدونکی نه وي او دانصاف کوونکي باچا عزت کول، د الله تعالی له عظمت او لویي څخه دي.

﴿۱۰۴﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «الْبَرَكَةُ مَعَ أَكَابِرِكُمْ».(صحیح ابن حبان - مخرجا (۲/ ۳۱۹))

**ژباړه:** ابن عباس رضی الله عنه د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: برکت مو له مشرانو سره دی.

**یادونه:** دا حدیث دلیل دی، چې د مسلمانو او مؤمنو مشرانو درناوی د ژوند په ټولو چارو کې د برکت سبب ګرځي، بناءً د نېکو مشرانو درناوی وکړئ، مینه ورسره وکړئ، د ژوند په چارو کې یې خپل سرلاري وټاکئ چې له برکتونو برخمن شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مشر په خبرو کې مخکې کړئ!

﴿۱۰۵﴾ عن ابن عمر رضي الله عنهما قَالَ، قَالَ: رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَمَرَنِي جِبْرِيْلُ أَنْ أُقَدِّمَ الْأَكَابِرَ.(سلسلة الأحاديث الصحيحة (۴/ ۷۴))

**ژباړه:** ابن عمر رضي الله عنهما دحدیث روای دی:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ویلي: جبریل علیه السلام راته د مشرانو د مخکې کولو حکم کړی.

## د الله تعالی مېلمه!

﴿۱۰۶﴾ وَعَنْ سَلْمَانَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَنْ تَوَضَّأَ فِي بَيْتِهِ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ ثُمَّ أَتَى الْمَسْجِدَ فَهُوَ زَائِرُ اللَّهِ، وَحَقٌّ عَلَى الْمَزُورِ أَنْ يُكْرِمَ الزَّائِرَ.[1]

**ژباړه:** سلمان فارسي رضي الله عنه، له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه روایت کړی، رسول الله صلى الله عليه وسلم ویلي: څوک چې پخپل کور کې اودس وکړي او ښه اودس وکړي، او بیا جومات ته راشي، نو دا دالله تعالی ملاقات ته راغلی او د چا ملاقات چې کېدی شي پرې حق دي، چې د ملاقات کوونکي عزت وکړي.

﴿۱۰۷﴾ عَنْ ابْنِ عُمَرَ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أَرَانِي أَتَسَوَّكُ بِسِوَاكٍ، فَجَاءَنِي رَجُلَانِ، أَحَدُهُمَا أَكْبَرُ مِنَ الآخَرِ، فَنَاوَلْتُ السِّوَاكَ الأَصْغَرَ مِنْهُمَا، فَقِيلَ لِي: كَبِّرْ، فَدَفَعْتُهُ إِلَى الأَكْبَرِ مِنْهُمَا.(صحيح البخاري (۱/ ۵۸))

**ژباړه:** ابن عمر رضی الله عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم وایي: خوب مې لیده چې مسواک کاروم، دوه کسان زما

---

۱ مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (۲/ ۳۱) (رَوَاهُ الطَّبَرَانِيُّ فِي الْكَبِيرِ وَأَحَدُ إِسْنَادَيْهِ رِجَالُهُ رِجَالُ الصَّحِيحِ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



څنگ ته راغلل، يو يې له هغه بل ته مشر و، ما مسواک کشر ته ورانديې کړ، راته وويل شو: مشر ته يې ورکړه، بيا مې مسواک دې دواړو کې مشر ته ورکړ.

﴿۱۰۸﴾ د لومړني روايت لپاره د عائشې رضى الله عنها حديث شاهد دى، چې په حسن سند سره ابوداود نقل کړى، عائشه رضى الله عنها وايي: «رسول الله صلى الله عليه وسلم مسواک کاروه او دوه کسان ورسره و، وحي ورته وشوه، چې مسواک مشر ته ورکړه.

- ابن بطال وايي: «دا حديث دليل دى چې مسواک به لومړى مشر ته ورکول کېږي، يانې مشر به پکې له نورو نه مخکې کولى شي او خوراک، څکاک، تگ او خبرې هم په دې حساب دي».
- مهلب وايي:

دا حکم هغه مهال د تطبيق وړ دى چې خلک بې ترتيبه او گډوډ ناست وي او که په ترتيب سره منظم ناست و، بيا نو سنت طريقه دا ده چې د ښي طرف نه به پيل کوي او دا صحيح قول دى.

- امام الباني رحمه الله د بحث په بهير کې ليکلي:

د ابو داود حديث زما په نزد صحيح الاسناد دى، همدارنگه هغه حديث هم د دې لپاره شاهد دى.

﴿۱۰۹﴾ او د بخاري په روايت کې دي:

«الْكُبْرَ الْكُبْرَ»(صحيح البخاري، ٦٨٩٨)

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: مشر دې لومړى په خبرو پيل وکړي.

چې شيخينو او نسائي يې د (القسامة) په حديث کې تخريج کړى چې د رافع بن خديج او سهل بن ابي حثمة رضى الله عنهما روايت دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړه وايي: عبدالرحمن بن سهل لاړ او دا تر ټولو کشر و، له خپل ملګري يې مخکې خبرې کولې.
رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وويل: «مشر دې خبرې وکړي، بيا دواړو خبرې وکړې» یانې رافع او سهل.

❖ امام الباني رحمه الله ليکلي: زه وايم: دا حديث په خبرو کې خاص دی او د ترجمې حديث یانې، بحث کې لومړی حديث او د دې په څېر نور، د مسواک په اړه دي او د څکاک یانې د اوبو و غیره څکلو برخه کې سنت طريقه دا ده چې ښي طرف دې مخکې کړی شي، یانې اوبه او د څکلو څيز به لومړی هغه چا ته ورکول کېږي، چې ښي طرف کې وي، که مشر وي او که کشر، لکه څنګه چې د مهلب قول کې تېر شو.(سلسلة الاحاديث الصحيحة (۴/ ۷۷))

## اوبو څکلو کې ښي طرف مخکې دی!

﴿۱۱۰﴾ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أُتِيَ بِلَبَنٍ قَدْ شِيبَ بِمَاءٍ، وَعَنْ يَمِينِهِ أَعْرَابِيٌّ، وَعَنْ شِمَالِهِ أَبُو بَكْرٍ، فَشَرِبَ ثُمَّ أَعْطَى الأَعْرَابِيَّ، وَقَالَ: الأَيْمَنَ فَالأَيْمَنَ.(صحيح البخاري (۷/ ۱۱۱))

**ژباړه:** انس بن مالک رضی الله عنه د حديث راوي دی، وايي:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ته څه شېده راوړلی شو، چې له اوبو سره ګډه شوي و، د رسول الله صلی الله علیه وسلم ښي اړخ کې یو کليوال ناست و او چپ اړخ ته يې ابوبکر رضی الله عنه ناست و.
رسول الله صلی الله علیه وسلم شېده وڅکل، بيا يې کليوال ته ورکړل او ويې ويل: لومړی حق د ښي طرف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په بله طريقه کې د حديث الفاظ داسې راغلي: لومړی حق د هغه خلکو دی چې ښي طرف کې وي، خبر شئ! ښي لوری وپالئ.

﴿۱۱۲﴾ أفضل الناس عند الله يوم القيامة المؤمن المعمر.(ضعيف الجامع الصغير وزيادته (ص: ۱۴۷))

ژباړه: جابر رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: د قيامت په ورځ به د الله په نزد له خلکو نه غوره، هر هغه مؤمن وي چې ډېر عمر يې خوړلی وي.

﴿۱۱۳﴾ أَفْضَلُ النَّاسِ فِي الْمَسْجِدِ الإِمَامُ ثُمَّ الْمُؤَذِّنُ ثُمَّ مَنْ عَلَى يَمِيْنِ الإِمَامِ.(ضعيف الجامع الصغير وزيادته (ص: ۱۴۷))

ژباړه: علي رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: په جومات کې له خلکو نه غوره کس امام دی، بيا اذان کوونکی دی او بيا هغه څوک چې د امام په ښي طرف کې وي.

﴿۱۱۴﴾ أفضلكم الذين إذا رءوا ذكر الله تعالى لرؤيتهم. (ضعيف الجامع الصغير وزيادته (ص: ۱۴۸))

ژباړه: جابر رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: تاسې کې غوره او د قدر وړ خلک هغوی دي چې په ديدن يې بنده ته الله تعالى وريادېږي.

**سپېڅلې پاڼې!**

﴿۱۱۵﴾ عَنْ وَاثِلَةَ بْنِ الْأَسْقَعِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أُنْزِلَتْ صُحُفُ إِبْرَاهِيمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ فِي أَوَّلِ لَيْلَةٍ مِنْ رَمَضَانَ، وَأُنْزِلَتِ التَّوْرَاةُ لِسِتٍّ مَضَيْنَ مِنْ رَمَضَانَ، وَالإِنْجِيلُ لِثَلَاثَ عَشْرَةَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خَلَتْ مِنْ رَمَضَانَ، وَأُنْزِلَ الْفُرْقَانُ لِأَرْبَعٍ وَعِشْرِينَ خَلَتْ مِنْ رَمَضَانَ.(مسند أحمد مخرجا (٢٨/ ١٩١))

**ژباړه:** واثلة بن الأسقع رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: د ابراهيم عليه السلام صحيفې د رمضان په لومړۍ شپه نازلې کړی شوې دي، د رمضان شپږ ورځې تېرې شوې وې چې تورات نازل شو او دیارلس ورځې يې تېرې شوې وې چې انجيل نازل شو او د رمضان (٢۴) ورځې تېرې شوې وې چې فرقان «قران» پر محمد صلى الله عليه وسلم نازل کړی شو.

﴿١١٦﴾ ابو يعلى الموصلي چې د جابر رضى الله عنه په روايت کوم حديث نقل کړی، هغه حديث کې راغلي: چې د رمضان يوولس شپې تېرې شوې وې چې زبور په داود عليه السلام نازل کړی شو.(مسند ابو يعلى (٢١٨٧))

- امام ناصر الدين الالباني رحمه الله د واثلة په روايت لومړی حديث مرفوع ښودلی او سلسلة الاحاديث الصحيحة (١/ ١٥٧٥) رقم کې يې راوړی، الفاظ يې کټ مټ برابر دي، يوازې دومره زياتوالی پکې دی چې (و انزل الزبور ثمان عشرة خلت من رمضان) او د رمضان ١٨ ورځې تېرې شوې وې چې زبور په داود عليه السلام نازل کړی شو.

له دې الفاظو وروسته بيا د قران د نزول يادونه شوې ده.

- امام الباني رحمه الله په ياد شوي حديث، چې موږ هم پيل کې راوړی، د حسن حکم کړی او رجال يې د دې کره ښودلي، يوازې ليکلي يې دي چې عمران القطان راوي کې لږ غوندې کلام شته او هغه لپاره هم د ابن عباس رضى الله عنه مرفوع حديث شاهد دی.

(سلسلة الاحاديث الصحيحة (۴/ ١٠۴))

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښې مو پورته ساتئ!

﴿۱۱۷﴾ إِنَّ اللَّهَ لاَ يَنْظُرُ إِلَى مُسْبِلِ الْإِزَارِ.(سلسلة الأحاديث الصحيحة (۴/ ۲۱۴))

**ژباړه:** ابن عباس رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: بې شکه الله تعالی د لنګ يا پرتوګ ښکته ساتونکي ته نه ګوري.

حديث دليل دی، چې له ښنګرو نه د لنګ او پرتوګ ښکته ساتل، انسان د الله تعالی له رحمتې ليدلو بې برخې کوي.

﴿۱۱۸﴾ عَنْ أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: الْإِزَارُ إِلَى نِصْفِ السَّاقِ، فَلَمَّا رَأَى شِدَّةَ ذَلِكَ عَلَى الْمُسْلِمِينَ، قَالَ: إِلَى الْكَعْبَيْنِ، لَا خَيْرَ فِيمَا أَسْفَلَ مِنْ ذَلِكَ.(مسند أحمد مخرجا (۲۱/ ۲۲۰) وصححه الالبانی)

**ژباړه:** انس رضی الله عنه نه مرفوع حديث روايت شوی، وايي:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: د لنګ (پرتوګ) د ساتلو حکم د پنډۍ تر نيمايي دی، کله يې چې له امله پر مسلمانانو د سختۍ احساس شو، بيا يې وويل: له ښنګرو يې پورته وساتئ او له ښنګرو نه ښکته ساتلو کې يې هېڅ خير نه شته.

﴿۱۱۹﴾ د حذيفه بن اليمان رضی الله عنه حديث هم دې لپاره شاهد دی، حذيقه رضی الله عنه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم مې وليد او راته يې وويل: دا د لنګ (پرتوګ) ترلو ځای دی، که دا نه کوې نو بيا يې له دې نه لږ ښکته ساته، که داسې دې هم ونه کړل، نو بيا تر ښنګرو لاندې د لنګ يا پرتوګ (پېڅو) پرېښودلو حق نه لرې.

دا حديث ابوداود نه پرته ټولو سننو کې راغلی.(ابن حبان /۴۴۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شیطان کوم کور ته نه ننوځي؟!

﴿۱۲۰﴾ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اقْرَءُوا سُورَةَ الْبَقَرَةِ فِي بُيُوتِكُمْ فَإِنَّ الشَّيْطَانَ لَا يَدْخُلُ بَيْتًا يُقْرَأُ فِيهِ سُورَةُ الْبَقَرَةِ.(المستدرك على الصحيحين للحاكم (۱/ ۷۴۹))

**ژباړه:** عبدالله بن مسعود رضی الله عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: په کورونو کې مو د بقرې سورت لولئ، ځکه شیطان هغه کور ته نه ننوځي په کوم کور کې چې د بقرې سورت لوستل کېږي.

## د قران سینګار!

﴿۱۲۱﴾ حُسْنُ الصَّوْتِ زِينَةُ الْقُرْآنِ.[1]

**ژباړه:** علقمه بن قیس وایي: زه داسې سړی وم، چې الله تعالی ښایسته غږ راکړی و او قران کریم به مې په ښایسته غږ لوسته، عبدالله بن مسعود رضی الله عنه به زه خپل څنګ ته وربللم، بیا به زه هغه ته ورتلم او قران کریم به مې ورته تلاوت کاوه، کله به چې زه د قران له تلاوت نه فارغ شوم، یانې تلاوت به مې بس کړ، هغه به راته ویل: نور راته هم ولولئ، بېشکه له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې اورېدلي، ویل به یې: (ښایسته غږ د قران سینګار دی).

## شات او قران!

﴿۱۲۲﴾ ابي الاحوض وایي: یو سړی عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ته راغی، ورته یې وویل: ورور مې ناروغ دی او له ګېډې نه په عذاب دی او

---

۱ المعجم الکبیر للطبرانی (۱۰/ ۸۲)/ [illegible]

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا ورته د شرابو صفت کړی چې شراب وڅکه، ګېډه به دې جوړه شي، اوس نو شراب پرې وڅکم؟

عبدالله بن مسعود رضی الله عنه ورته وویل: سبحان الله! الله تعالی په ګنده ګی کې شفاء نه ده اېښې، بې شکه شفاء په دوو شیانو کې ده، شات د خلکو لپاره شفاء او درمل دي او قران هغه ناروغیو لپاره شفاء ده چې په سینو (زړونو) کې دي.[1]

## د درېیو کسانو دعا نه قبلیږي!

﴿۱۲۳﴾ ثَلَاثَةٌ يَدْعُونَ اللَّهَ , فَلَا يُسْتَجَابُ لَهُمْ: رَجُلٌ كَانَتْ تَحْتَهُ امْرَأَةٌ سَيِّئَةُ الْخُلُقِ فَلَمْ يُطَلِّقْهَا , وَرَجُلٌ كَانَ لَهُ عَلَى رَجُلٍ مَالٌ فَلَمْ يُشْهِدْ عَلَيْهِ , وَرَجُلٌ آتَى سَفِيهًا مَالَهُ , وَقَدْ قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمْ.(سلسلة الأحاديث الصحيحة (۴/ ۴۲۰) السنن الكبرى للبيهقي)

**ژباړه:** ابو موسی اشعري رضی الله عنه ویلي: درې کسان داسې دي، چې دعاګانې کوي او قبلیږي نه.

یو هغه سړی چې بداخلاقه ښځه یې لاس لاندې وي او نه یې طلاقوي.

دویم هغه سړی چې پر یو بل کس یې مال (حق) وي او هغه پرې نه خبروي، دریم هغه سړی چې ناپوه ته د هغه مال ورکړي، په داسې حال کې چې الله تعالی ویلي: وَلَا تُؤْتُوا السُّفَهَاءَ أَمْوَالَكُمْ.(سورة النساء (۵) ایت)

**ژباړه:** او خپل هغه مالونه چې الله هغه ستاسې لپاره د ژوند د سمبالښت وسیله ګرځولې ده، ناپوهانو ته مه سپارئ.

---

[1] سلسلة الاحاديث الصحيحة (۴/ ۱۷۶) / الطبراني (۸۹۱۰) سند یې صحیح دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د وخت ګانه!

﴿۱۲۴﴾ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَا تَزُولُ قَدَمَا عَبْدٍ يَوْمَ الْقِيَامَةِ حَتَّى يُسْأَلَ عَنْ أَرْبَعِ خِصَالٍ: عَنْ عُمُرِهِ فِيمَا أَفْنَاهُ؟ وَعَنْ شَبَابِهِ فِيمَا أَبْلَاهُ؟ وَعَنْ مَالِهِ مِنْ أَيْنَ اكْتَسَبَهُ وَفِيمَا أَنْفَقَهُ؟ وَعَنْ عِلْمِهِ مَاذَا عَمِلَ فِيهِ؟.(المعجم الكبير للطبراني (۲۰/ ۶۰))

**ژباړه:** معاذ رضي الله عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د قیامت په ورځ به تر هغې د بنده قدمونه له خپل ځایه ونه خوځېږي چې د څلورو پوښتنه ترېنه ونه شي.

د عمر په اړه، چې په څه کې دې تېر کړ؟، د ځوانی په اړه، چې څه کې یې تېره کړې؟، د مال په اړه، چې له کومه ځایه یې ګټلی او په څه کې یې لګولی؟ او د علم په اړه چې څه عمل یې پکې کړی؟.

**یادونه:** دې حدیث کې د وخت اړوند د دوو سترو او ګرانبیه دورو یادونه شوې، چې پیل کې یې عمر یاد شوی، عمر انسان ته د یو ستر الهي نعمت په ډول ورکړل شوی، ښه عمر هغه دی، چې بنده پکې د ښو چارو ګټونکی شي او د وخت له دې سترې ګلورینې باغچې خوشبویه ګلونه او ورمې ترلاسه کړي، ځواني د عمر برخه ده، مګر ځواني داسې غوره برخه ده چې ګټه ترې واخیستل شي، پاملرنه یې وشي، د ټول وخت لپاره سینګار توکي او ګاڼه ده، ستر ارزښت یې همدا دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند او عمر وروسته دا په ځانګړې بڼه یاده کړې، که نه نو ځواني په عمر کې شامله ده، دا چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ځانګړې یاده کړې، لامل یې دا دی چې د انسان په عمر کې د دې زرینې دورې هېڅ ساری نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



❖ له دې وروسته حدیث کې د مال او علم یادونه شوې چې دواړه نعمتونه دي او د دواړو په وسیله ژوند ښایسته او رنگین کېږي، مگر ستر ارزښت يې په دې کې دی، چې د دواړو په اړه محاسبه او پوښتنه کېږي.
مال او شتمني چې د علم په رڼا کې پر ځای وکارول شي، سترې گټې لري، چې د مال او علم په سم کارولو دنیا او اخرت دواړه ښایسته کېږي.

❖ د دې نبوي حدیث توري په دې دلیل دي، چې عمل د علم ښایست دی او انفاق (د الله تعالی په لاره کې مال لگول) د مال او شتمنۍ ښایست دی.

﴿۱۲۵﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ: الصِّحَّةُ وَالفَرَاغُ.(صحيح البخاري (۸/ ۸۸))

**ژباړه:** ابن عباس رضي الله عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: دوه نعمتونه دي، چې ډېری خلکو پکې تاوان کړی، یو يې صحت (روغتیا) او بل يې وزگارتیا ده.

**یادونه:** د دې حدیث نه معلومېږي چې روغتیا ستر نعمت دی، د روغتیا په وسیله انسان هر لوړ منزل ته د مزل لاره پرېکولی شي او بریا ترلاسه کولی شي، د روغتیا په حالت کې انسان د خپل خالق هر ډول عبادت په اسانۍ سره کولی شي او هم د الله تعالی له مخلوق سره هر ډول احسان کولی شي، مگر ډېری خلک د دې نعمت په قدر نه پوهېږي.
دویم ستر نعمت فراغت او وزگارتیا ده، عقلمن خلک په خپل ژوند کې هېڅ تش وختونه نه لري، هغوی تل ځان په نېکو او گټورو چارو بوخت ساتي، د وخت لپاره ځانگړې مهالوېش لري، چې د مهالوېش په کتنه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل وخت چارې تنظیموي او د وخت هېڅ برخه تشه، وزګاره او بې کاره نه پرېدي.

❖ سلف علماء وايي: «وخت د تورې په څېر دی، که دې پرې نه کړ، تا پرېکوي».

❖ امیر المؤمنین عمر فاروق رضی الله عنه به ویل: «زما دا نه خوښېږي چې ستاسې یو کس وزګار وګورم، چې نه د دنیا کار کوي او نه د اخرت کار کوي».(قيمة الزمن (۲٦۰))

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د قدسي احاديثو غونچه

## عبادت ته ځان وزګار کړه!

﴿۱۲٦﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعْنِي: قَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: ابْنَ آدَمَ، تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِي، أَمْلَأْ صَدْرَكَ غِنًى، وَأَسُدَّ فَقْرَكَ، وَإِلَّا تَفْعَلْ، مَلَأْتُ صَدْرَكَ شُغْلًا، وَلَمْ أَسُدَّ فَقْرَكَ.(مسند أحمد ط الرسالة (۱۴/ ۳۲۱))

**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: الله تعالی وايي: ای بنيادمه! ته ځان زما عبادت لپاره وزګار کړه، زه به دې زړه له شتمنۍ نه ډک کړم او فقر به دې بند کړم او که ته داسې ونه کړې، لاسونه به دې له بوختياوو ډک کړم او فقر به دې هم بند نه کړم.

**يادونه:** دې حديث کې دوه جائزې يادې شوې، يوه د زړه شتمني، دويم د روزۍ پراخي او دا ځکه چې ده ځان د الله تعالی عبادت ته وزګار کړی.

## شتمن زړه او ډک لاسونه!

﴿۱۲۷﴾ عَنْ مَعْقِلِ بْنِ يَسَارٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَقُولُ رَبُّكُمْ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: يَا ابْنَ آدَمَ تَفَرَّغْ لِعِبَادَتِي أَمْلَأْ قَلْبَكَ غِنًى وَأَمْلَأْ يَدَيْكَ رِزْقًا، يَا ابْنَ آدَمَ لَا تَبَاعَدْ مِنِّي فَأَمْلَأْ قَلْبَكَ فَقْرًا وَأَمْلَأْ يَدَيْكَ شُغْلًا.(المستدرك على الصحيحين للحاكم (۴/ ۳٦۲))

**ژباړه:** «معقل بن يسار رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: ای بنيادمه! ته ځان زما د عبادت لپاره وزګار کړه، زه به دې زړه له شتمنۍ نه ډک کړم او لاسونه به دې له روزۍ نه ډک کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای بنیادمه! له مانه مه لرې کېږه! چې بیا به دې زړه له فقر او لاسونه ر
کار او بوختیاو نه ډک کړم».

**یادونه:** دا دواړه حدیثونه په دې دلالت کوي چې د الله بنده ګۍ ته ځان
وزګارول د روزۍ کیلي ده او د وزګارېدلو مطلب دا دی چې بنده به
عبادت پر مهال الله تعالی په زړه او بدن سره حاضر ګڼي، هغه سره به
زړه مناجات کوي، عاجزي به ورته کوي، عظمت به یې زړه کې راولي او د
د احسان مرتبه هم ده.

## طلایي شېبې!

﴿۱۲۸﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْ
وَسَلَّمَ قَالَ: يَتَنَزَّلُ رَبُّنَا تَبَارَكَ وَتَعَالَى كُلَّ لَيْلَةٍ إِلَى السَّمَاءِ الدُّنْيَا، حِينَ
يَبْقَى ثُلُثُ اللَّيْلِ الآخِرُ، يَقُولُ: مَنْ يَدْعُونِي فَأَسْتَجِيبَ لَهُ، مَنْ يَسْأَلُنِي
فَأُعْطِيَهُ، مَنْ يَسْتَغْفِرُنِي فَأَغْفِرَ لَهُ.(صحيح البخاري (۸/ ۷۱))

**ژباړه:** ابو هریره رضی الله عنه د حدیث راوي دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: الله تبارک و تعالی هره شپه د
شپې په وروستۍ برخه کې د دنیا اسمان ته راکوزېږي او وایي: «څوک
چې له مانه دعا وغواړي، دعا به یې قبوله کړم، څوک چې څه وغواړي ور
به یې کړم، څوک چې له مانه ښښنه وغواړي نو هغه ته به ښښنه وکړم.

## زه دې څنګ ته راځم!

﴿۱۲۹﴾ عَنْ شُرَيْحٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَجُلًا مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ
عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: يَا
ابْنَ آدَمَ، قُمْ إِلَيَّ أَمْشِ إِلَيْكَ، وَامْشِ إِلَيَّ أُهَرْوِلْ إِلَيْكَ.(مسند احمد مخرجا (۲۵/ ۲۷۳))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** شريح رحمه الله د حديث راوي دی، وايي:
د رسول الله صلی الله علیه وسلم د صحابه و له یو سړي مې اورېدلي، ويل يې: رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلي: الله تعالی وايي: بينادمه! ته زما لپاره ودرېږه، زه دې څنګ ته راځم، ته زما په لور را روان شه، زه درته په منډه راځم.

﴿۱۳۰﴾ عَنْ جُنْدُبٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ رَجُلٌ وَاللهِ لَا يَغْفِرُ اللهُ لِفُلَانٍ، فَقَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: مَنْ ذَا الَّذِي يَتَأَلَّى عَلَيَّ أَنْ لَا أَغْفِرَ لِفُلَانٍ فَإِنِّي قَدْ غَفَرْتُ لِفُلَانٍ وَأَحْبَطْتُ عَمَلَكَ.(المعجم الكبير للطبراني (۲/ ۱۶۵))

**ژباړه:** جُندب رضی الله عنه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته حديث بيانوه، چې يو سړي وويل: په الله سوګند کوم، چې الله تعالی به فلانکي سړي ته بښنه ونه کړي، الله تعالی وويل: هغه څوک دی چې زما پر نوم سوګند کوي، چې زه به فلانکي ته بښنه نه کوم، بې شکه ما فلانکي ته بښنه وکړه او ستا چارې مې بربادې کړې.
**يادونه:** دې حديث نه دا ګټه لاسته راځي چې پر خپلو نېکو چارو غرور نه دی او دا سوګندونه به هم نه کوي، چې الله تعالی فلانکی نه بښي.
دا چارې د الله تعالی په واک کې دي او يوازې هماغه ته يې سپارل پکار دي.

## دالله تعالی د رحمت او بښنې نندارہ وکړه!

﴿۱۳۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: أَسْرَفَ رَجُلٌ عَلَى نَفْسِهِ، فَلَمَّا حَضَرَهُ الْمَوْتُ أَوْصَى بَنِيهِ فَقَالَ: إِذَا أَنَا مُتُّ فَأَحْرِقُونِي، ثُمَّ اسْحَقُونِي، ثُمَّ اذْرُونِي فِي الرِّيحِ فِي الْبَحْرِ، فَوَاللهِ لَئِنْ قَدَرَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَلَيَّ رَبِّي لَيُعَذِّبَنِي عَذَابًا مَا عَذَّبَهُ بِهِ أَحَدًا، قَالَ فَفَعَلُوا ذَلِكَ بِهِ، فَقَالَ لِلْأَرْضِ: أَدِّي مَا أَخَذْتِ، فَإِذَا هُوَ قَائِمٌ، فَقَالَ لَهُ: مَا حَمَلَكَ عَلَى مَا صَنَعْتَ؟ فَقَالَ: خَشْيَتُكَ، يَا رَبِّ - أَوْ قَالَ مَخَافَتُكَ - فَغَفَرَ لَهُ بِذَلِكَ.(صحيح مسلم (۴/ ۲۱۱۰))

**ژباړه:** ابوهريره رضى الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: يو سړی چې د مرگ وخت يې نږدې شوی و، زامنو ته يې وصيت کې ووېل: زه چې مړ شوم په اور مې وسوزوئ، بيا مې ايره په سمندر کې واچوئ، په الله تعالى سوگند کوم، که الله تعالى راباندې برلاسی شي، داسې عذاب به راکړي چې هېچاته به يې نه وي ورکړی.

سړی چې مړ شو، زامنو يې له وصيت سره سم کار ورسره وکړ، الله تعالى زمکې ته ووېل: څه دې چې اخيستي ټول راکړه!

زمکې د الله تعالى له حکم سره سم د ياد شوي سړي هر څه ورکړل.

ناڅاپه روغ جوړ انسان د الله تعالى په مخ کې ودرېده.

الله تعالى ورته ووېل: دې کار ته څه اړ کړې؟

سړي ووېل: ای ربه! ستا له وېرې مې دا کار وکړ.

الله عزوجل دې سړي ته د همدې له امله بښنه وکړه.

## وَلور!

﴿۱۳۲﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: قَالَ اللَّهُ تَعَالَى: ثَلاَثَةٌ أَنَا خَصْمُهُمْ يَوْمَ القِيَامَةِ، رَجُلٌ أَعْطَى بِي ثُمَّ غَدَرَ، وَرَجُلٌ بَاعَ حُرًّا فَأَكَلَ ثَمَنَهُ، وَرَجُلٌ اسْتَأْجَرَ أَجِيرًا فَاسْتَوْفَى مِنْهُ وَلَمْ يُعْطِهِ أَجْرَهُ.(صحيح البخاري (۳/ ۹۰))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم د الله تعالی نه روايت کړی، الله تعالی وايي: له درېيو کسانو سره به د قيامت په ورځ زما ځانګړې جګړه وي، لومړی هغه کس چې زما پر نوم ژمنه (وعده) وکړي او بيا هر ژمنه کې تېګي وکړي يانې ماته يې کړي، دويم هغه سړی چې اصيل ازاد انسان وپلوري او پيسې يې وخوري او درېيم هغه سړی چې يو کس په مزدورۍ ونيسي، کار ترې پوره واخلي او هغه ته د مزدورۍ بدله ور نه کړي.
**يادونه:** حديث کې د درېيو کسانو قيد نه مراد ددې جنس او صفت لرونکي خلک مراد دي، چې هر څومره وي او حديث دليل دی، چې دا درې واړه چارې ستره ګناوې دي، يانې د الله پر نوم د وعدې ماتول اصل پلورل او مزدور ته مزد نه ورکول.

## اونيز؛ طلايي چانسونه!

﴿۱۳۲﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: تُفْتَحُ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ يَوْمَ الْإِثْنَيْنِ، وَيَوْمَ الْخَمِيسِ، فَيُغْفَرُ لِكُلِّ عَبْدٍ لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا، إِلَّا رَجُلًا كَانَتْ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَخِيهِ شَحْنَاءُ، فَيُقَالُ: أَنْظِرُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا، أَنْظِرُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا، أَنْظِرُوا هَذَيْنِ حَتَّى يَصْطَلِحَا.(صحيح مسلم (۴/ ۱۹۸۷))

**ژباړه:** ابوهريره رضی الله عنه د حديث راوي دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلي: د دوشنبې او پنجشنبې په ورځو کې جنتي دروازې پرانيستل کېږي، نو هر هغه بنده ته ببننه کېږي چې له الله تعالی سره يې څه شی شريک کړی نه وي، پرته له هغه سړي نه چې د ده او ورور په منځ کې يې څه شخړه او خوابدي وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی وايي: دې دواړو ته تر هغې وخت ورکړئ چې اصلاح او سم شي - دې دواړو ته تر هغې وخت ورکړئ چې اصلاح او سم شي - دې دواړو ته تر هغې وخت ورکړئ چې اصلاح او سم شي.

﴿۱۳۴﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: قَالَ اللَّهُ: أَنْفِقْ يَا ابْنَ آدَمَ أُنْفِقْ عَلَيْكَ.(صحيح البخاري (۷/ ٦٢))

**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه روايت کړی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: الله تعالی وايي: بنيادمه! ته پر خلکو لګښتونه کوه، پر تا به لګښت کېږي.

## د الله تعالی مينه کوونکي شئ!

﴿۱۳۵﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللَّهَ يَقُولُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ: أَيْنَ الْمُتَحَابُّونَ بِجَلَالِي، الْيَوْمَ أُظِلُّهُمْ فِي ظِلِّي يَوْمَ لَا ظِلَّ إِلَّا ظِلِّي.(صحيح مسلم (۴/ ۱۹۸۸))

**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: الله تعالی به د قيامت په ورځ وايي: هغه کسان چېرې دي چې زما د جلال او لويی. لپاره يې خپل منځ کې مينه کوله، نن ورځ به دوی ته د خپل عرش سيوري لاندې سيوری ورکړم، په داسې ورځ چې زما له سيوري پرته به بل سيوری نه وي.

## زمانه مه کنځئ!

﴿۱۳۶﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ:: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ اللَّهُ: يَسُبُّ بَنُو آدَمَ الدَّهْرَ، وَأَنَا الدَّهْرُ، بِيَدِي اللَّيْلُ وَالنَّهَارُ.(صحيح البخاري (۸/ ۴۱))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی، وايي:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: الله تعالی وايي: بنیادم زمانې ته کنځل کوي، زه زمانه يم، شپه، ورځ يوازې زما په لاس کې دي.

## د مينې وداني له بره جوړيږي!

﴿۱۳۷﴾ إِنَّ اللَّهَ إِذَا أَحَبَّ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ فَقَالَ: إِنِّي أُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبَّهُ، قَالَ: فَيُحِبُّهُ جِبْرِيلُ، ثُمَّ يُنَادِي فِي السَّمَاءِ فَيَقُولُ: إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ فُلَانًا فَأَحِبُّوهُ، فَيُحِبُّهُ أَهْلُ السَّمَاءِ، قَالَ ثُمَّ يُوضَعُ لَهُ الْقَبُولُ فِي الْأَرْضِ، وَإِذَا أَبْغَضَ عَبْدًا دَعَا جِبْرِيلَ فَيَقُولُ: إِنِّي أُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضْهُ، قَالَ فَيُبْغِضُهُ جِبْرِيلُ، ثُمَّ يُنَادِي فِي أَهْلِ السَّمَاءِ إِنَّ اللَّهَ يُبْغِضُ فُلَانًا فَأَبْغِضُوهُ، قَالَ: فَيُبْغِضُونَهُ، ثُمَّ تُوضَعُ لَهُ الْبَغْضَاءُ فِي الْأَرْضِ.«صحيح مسلم (۴/ ۲۰۳۰)»

**ژباړه:** رسول الله صلی الله علیه وسلم وايي: کله چې الله تعالی له کوم بنده سره مينه کوي، جبريل عليه السلام راوغواړي. ورته ووايي: زه له فلانکي سره مينه لرم، ته هم ورسره مينه کوه.

جبريل عليه السلام هم له دغه کس سره مينه کوي، بيا په اسمانونو کې اعلان وکړي، چې الله تعالی له فلانکي سره مينه کوي، تاسو هم ورسره مينه وکړئ.

په اسمانونو کې اوسېدونکی مخلوق هم له دغه کس سره مينه کوي، بيا د دغه کس لپاره قبوليت ځمکې ته رانښکته شي، ځمکوال ورسره هم مينه کوي او کله چې د الله تعالی کوم بنده نه خوښيږي، جبريل عليه السلام راغواړي، ورته وايي: فلانکی بنده زما نه خوښيږي، ته يې هم مه خوښوه.

دغه کس بيا د جبريل عليه السلام هم نه خوښيږي، جبريل عليه السلام اسمانوالو ته هم اعلان کوي، فلانکی انسان د الله تعالی نه خوښيږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسي يې هم پرېږدئ، اسمانوال ورسره اړيکې پرېکړي، بيا د کرکې دغه اثر ځمکې ته رابښکته شي. ځمکوال ورسره هم کرکه کوي.

دا هغه ستر الهي غيبي راز دی، چې ځينې مسلمان نارينه او مسلمانې مېرمنې پرې د خلکو له مينې برخمن کېږي، د مينې دا راز د زړېې په ډول د الله تعالی د رضا په بدرگه هغو مؤمنانو نارينه او ښځينه وو ته ورکول کېږي، چې د ايمان او نېک عمل له غبرگو نعمتونو څخه برخمن وي.

## مينه دملاقات لپوالتيا زياتوي!

﴿۱۳۸﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: قَالَ اللَّهُ: إِذَا أَحَبَّ عَبْدِي لِقَائِي أَحْبَبْتُ لِقَاءَهُ، وَإِذَا كَرِهَ لِقَائِي كَرِهْتُ لِقَاءَهُ.(صحيح البخاري (۹/ ۱۴۵))

**ژباړه:** ابوهريره رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: الله تعالی وايي: کله چې بنده زما ملاقات خوښوي، زه يې هم ملاقات خوښوم او کله چې بنده زما ملاقات نه خوښوي، زه يې هم ملاقات نه خوښوم.

د صحيح مسلم په حديث کې د دې حديث مانا روښانه شوې.

﴿۱۳۹﴾ عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ أَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ، أَحَبَّ اللهُ لِقَاءَهُ، وَمَنْ كَرِهَ لِقَاءَ اللهِ، كَرِهَ اللهُ لِقَاءَهُ، فَقُلْتُ: يَا نَبِيَّ اللهِ أَكَرَاهِيَةُ الْمَوْتِ؟ فَكُلُّنَا نَكْرَهُ الْمَوْتَ، فَقَالَ: لَيْسَ كَذَلِكِ، وَلَكِنَّ الْمُؤْمِنَ إِذَا بُشِّرَ بِرَحْمَةِ اللهِ وَرِضْوَانِهِ وَجَنَّتِهِ، أَحَبَّ لِقَاءَ اللهِ، فَأَحَبَّ اللهُ لِقَاءَهُ، وَإِنَّ الْكَافِرَ إِذَا بُشِّرَ بِعَذَابِ اللهِ وَسَخَطِهِ، كَرِهَ لِقَاءَ اللهِ، وَكَرِهَ اللهُ لِقَاءَهُ.(صحيح مسلم (۴/ ۲۰٦٥))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** عائشه رضی الله عنها وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: څوک چې د الله تعالی ملاقات خوښوي، الله تعالی د هغه ملاقات خوښوي او څوک چې د الله تعالی ملاقات نه خوښوي، الله تعالی د هغه ملاقات نه خوښوي.

ما وويل: ای د الله پېغمبره! دا به د مرگ بد گڼل وي، حال دا چې موږ ټول مرگ بد گڼو او نه يې خوښوو؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم راته وويل: عائشې! داسې خبره نه ده، بلکې مؤمن ته چې کله د الله په رحمت، رضامندۍ او جنت زېری ورکړل شي، نو دا بيا د الله ملاقات خوښوي او لېوالتيا بې زياتېږي، نو الله د ده ملاقات خوښوي او کافر ته چې کله د الله تعالی د غضب او عذاب زېری ورکړل شي، نو الله سره يو ځای کېدل بد گڼي او الله تعالی د ده ملاقات بد گڼي....؟

## غوره کور!

﴿١٤٠﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: خَيْرُ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُحْسَنُ إِلَيْهِ، وَشَرُّ بَيْتٍ فِي الْمُسْلِمِينَ بَيْتٌ فِيهِ يَتِيمٌ يُسَاءُ إِلَيْهِ، أَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ كَهَاتَيْنِ - يُشِيرُ بِإِصْبَعَيْهِ.(الأدب المفرد (ص: ٦١))

**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: په مسلمانانو کې غوره کور، هغه کور دی، چې يتيم پکې وي او ښه چال چلن ورسره کېږي او په مسلمانانو کې بد کور، هغه دی، چې له يتيم سره پکې ناوړه چال چلن کېږي، زه او د يتيم پالونکی به په جنت کې د دې دوو گوتو په څېر (نږدې) يو او په دواړو گوتو يې اشاره کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿۱۴۱﴾ عَنْ عَوْفِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: أَنَا وَامْرَأَةٌ سَفْعَاءُ الْخَدَّيْنِ، امْرَأَةٌ آمَتْ مِنْ زَوْجِهَا فَصَبَرَتْ عَلَى وَلَدِهَا، كَهَاتَيْنِ فِي الْجَنَّةِ.(الأدب المفرد (ص: ٦٢))

**ژباړه:** عوف بن مالک رضی الله عنه د حديث راوي دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: زه او هغه ښځه چې له خاوند نه کونډه پاتې شي او پر خپل اولاد صبر وکړي او پر هغوی مهرباني کوي په جنت کې به ددې دوو گوتو په څېر يو، یاني (نږدې به يو).

**يادونه:** سفعاء الخدين: د لغت په اعتبار هغې ښځې ته ويل کېږي، چې د مخ رنگ يې تور بخن غوندې وي او دا هم کېدلی شي، چې يوازې ددې کونډې د مخ رنگ د ستوتزمنو حالاتو له امله بدل شوی وي.
(النهاية في غريب الحديث والأثر، ۳۲۷/۲)

## يوه خرما دوه زړونه!

﴿۱۴۲﴾ عن عائشة - رضي الله عنه - قَالَتْ: جَاءَتْنِي امْرَأَةٌ مَعَهَا ابْنَتَانِ لَهَا فَسَأَلَتْنِي فَلَمْ تَجِدْ عِنْدِي إِلَّا تَمْرَةً وَاحِدَةً فَأَعْطَيْتُهَا فَقَسَمَتْهَا بَيْنَ ابْنَتَيْهَا ثُمَّ قَامَتْ فخرجتَ، فَدَخَلَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَحَدَّثْتُه فَقَالَ: «مَنْ يَلِي مِنْ هَذِهِ الْبَنَاتِ شَيْئًا فَأَحْسَنَ اليهنَّ كُنَّ لَهُ سِتْراً مِنَ النَّارِ».(الأدب المفرد (ص: ۷۱))

**ژباړه:** عائشه رضي الله عنها وايي: يوه ښځه زموږ کور ته راغله چې دوه لورگانې ورسره وې، دې ښځې سوال کاوه او له ما سره د يوې دانې خرما نه پرته بل څه شی نه و، ما خرما دانه هاغې مېرمنې ته ورکړه، هغې دوه برخې کړه، پخپله يې ترې هېڅ ونه خوړل، بيا پاڅېده او زموږ له کوره ووته، هغې نه وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم کور ته راغی، ما د ښځې په کيسه خبر کړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم وويل: څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د لورګانو په ورکړه وازمویل شي او دی له هغوی سره ښه چال چلن وکړي، هغوی به ده لپاره د دوزخ له اوره پرده وګرځي.

﴿۱۴۳﴾ امام بخاري د ابوبکر بن حفص په روایت حدیث نقل کړی، چې عبدالله بن مسعود رضی الله عنه به له یتیم پرته پر دسترخوان خوړوته نه کیناسته یانې یتیم به یې له ځان سره ملګری کاوه.(الادب المفرد (۱۳٦))

## بې خرما کور!

﴿۱۴۴﴾ عَنْ عُبَيْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِي رَافِعٍ، عَنْ جَدَّتِهِ سَلْمَى، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: بَيْتٌ لَا تَمْرَ فِيهِ، كَالْبَيْتِ لَا طَعَامَ فِيهِ.(سنن ابن ماجه (۲/ ۱۱۰۵))

**ژباړه:** عبيدالله بن ابي رافع له خپلې نيا سلمی رضی الله عنها نه روایت کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: «بې خرما کور داسې دی، لکه په کوم کور کې چې هېڅ خواړه نه وي».

**د دې حدیث لپاره د عائشې رضی الله عنها په روایت مرفوع حدیث شاهد او تائید دی:**

﴿۱۴۵﴾ عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: بَيْتٌ لَا تَمْرَ فِيهِ، جِيَاعٌ أَهْلُهُ.(سنن ابن ماجه (۲/ ۱۱۰۴))

**ژباړه:** عائشه رضی الله عنها وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: کوم کور کې چې خرما نه وي، اوسېدونکي یې وږي وي.

**يادونه:** خرما قراني مېوه او خواړه دي، قران کې په بېلا بېلو تعبيرونو د خرما د ونې او مېوې یاد راغلی، د خرما په هر ډول کې ځانګړې فضليت او ګټې شته، نبوي احادیثو کې هم د خرما ډېرې ګټې ښودل شوي، خرما کې شفاء ده، خرما مېوه او هم غذا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووه مرغلرې!

﴿۱۴٦﴾ عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: أَمَرَنِي خَلِيلِي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِسَبْعٍ أَمَرَنِي بِحُبِّ الْمَسَاكِينِ، وَالدُّنُوِّ مِنْهُمْ، وَأَمَرَنِي أَنْ أَنْظُرَ إِلَى مَنْ هُوَ دُونِي وَلَا أَنْظُرَ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقِي، وَأَمَرَنِي أَنْ أَصِلَ الرَّحِمَ وَإِنْ أَدْبَرَتْ، وَأَمَرَنِي أَنْ لَا أَسْأَلَ أَحَدًا شَيْئًا، وَأَمَرَنِي أَنْ أَقُولَ بِالْحَقِّ وَإِنْ كَانَ مُرًّا، وَأَمَرَنِي أَنْ لَا أَخَافَ فِي اللَّهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ، وَأَمَرَنِي أَنْ أُكْثِرَ مِنْ قَوْلِ: لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ، فَإِنَّهُنَّ مِنْ كَنْزٍ تَحْتَ الْعَرْشِ.(مسند أحمد مخرجا (۳۵/ ۳۲۷))

**ژباړه:** ابو ذر رضی الله عنه د حدیث راوي دی، وایي:

رسول الله صلی الله علیه وسلم راته په اوو چارو امر کړی: له مسکینانو سره د مینې او هغوی سره د نږدې کېدلو امر یې راته کړی، امر یې راته کړی، چې هغه چاته وګورم چې له ما نه یې «د ژوند کچه» ټیټه وي او هغه چا ته ونه ګورم، چې له ما نه پورته وي او امر یې راته کړی، چې خپلوي وپالم که څه هم مقابل لوری یې پرېکوي، امر یې راته کړی، چې له چا څخه به د هېڅ څېز سوال نه کوم، دحق ویلو امر یې راته کړی که څه هم چې حق ویل تریخ دي، امر یې راته کړی، چې د الله تعالی په لاره کې به د هیڅ ملامته کوونکي له ملامتیا څخه نه وېرېږم او دغه راز (لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ) د ویلو حکم یې راته کړی، ځکه دا له هغه خزانې څخه (ډالی) ده چې له عرش لاندې ده.

## مشرې!

﴿۱۴۷﴾ بزار او طبراني د عوف بن مالک رضی الله عنه په روایت حدیث نقل کړی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: که مو خوښه وي چې د امارت په اړه مو خبر کړم او په دې چې امارت یا مشري څه پایله لري؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا یې وویل:

أَوَّلُهَا مَلَامَةٌ، وَثَانِيهَا نَدَامَةٌ، وثَالِثُهَا عَذَابٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ إِلَّا مَنْ عَدَلَ، فكيف يعدل مع أقربيه؟.(سلسلة الأحاديث الصحيحة (۴/ ۸۴))

**ژباړه:** مشري په پیل کې ملامتیا ده، دویمه مرحله کې پښېمانتیا ده او درېیمه مرحله کې د قیامت د ورځې عذاب دی، پر ته له هغه چا نه چې عدل یې کړی وي او له خپلوانو سره به څنګه عدل وکړي؟!

## د (۳٦۰) بندونو دنده او د دوزخ له اوره خلاصون؟!

﴿۱۴۸﴾ عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّهُ خُلِقَ كُلُّ إِنْسَانٍ مِنْ بَنِي آدَمَ عَلَى سِتِّينَ وَثَلَاثِمِائَةِ مَفْصِلٍ، فَمَنْ كَبَّرَ اللَّهَ، وَحَمِدَ اللَّهَ، وَهَلَّلَ اللَّهَ، وَسَبَّحَ اللَّهَ، وَاسْتَغْفَرَ اللَّهَ، وَعَزَلَ حَجَرًا عَنْ طَرِيقِ النَّاسِ، أَوْ شَوْكَةً أَوْ عَظْمًا عَنْ طَرِيقِ النَّاسِ، وَأَمَرَ بِمَعْرُوفٍ أَوْ نَهَى عَنْ مُنْكَرٍ، عَدَدَ تِلْكَ السِّتِّينَ وَالثَّلَاثِمِائَةِ السُّلَامَى، فَإِنَّهُ يَمْشِي يَوْمَئِذٍ وَقَدْ زَحْزَحَ نَفْسَهُ عَنِ النَّارِ.(صحيح مسلم (۲/ ٦۹۸))

**ژباړه:** عائشه رضی الله عنها وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: بې شکه د هر انسان پیدایښت په ۳٦۰ بندونو شوی، یانې ۳٦۰ بندونه لري، څوک چې د الله تعالی لویي اداء کړي یانې (اَللّٰهُ اَکْبَرُ) ووایي، د الله تعالی حمد یانې (اَلْحَمْدُلِلَّهِ یا لَا إِلَه إِلَّا اللّٰهُ) ووایي، او یا د الله تعالی پاکي بیان کړي یانې (سُبْحَانَ اللّٰه) ووایي او یا د الله تعالی نه بښنه وغواړي یانې (اَسْتَغْفِرُاللّٰهَ) ووایي، د خلکو د تګ راتګ له لارې نه تیږه، اغزی او یا هډوکی لرې کړي، د نېکۍ امر او یا له بدۍ نه منع وکړي او دا چارې د دې درې سوه او شپېتو بندونو په اندازه او شمېر وي، نو دا کس

(c) ketabton.com: The Digital Library



به په داسې حال کې ببګاه کړي، چې ځان به يې د دوزخ له اوره ازاد کړی وي.

## د خاوند له اجازې پرته نفلی روژه...!

﴿۱۴۹﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَا تَصُومُ الْمَرْأَةُ يَوْمًا تَطَوُّعًا فِي غَيْرِ رَمَضَانَ وَزَوْجُهَا شَاهِدٌ إِلَّا بِإِذْنِهِ.(سنن الدارمي (۲/ ۷۳-۱۰))

**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليهِ وسلم ويلي: ښځه دې د رمضان له روژو پرته يوه ورځ نفلي روژه هم د خاوند بې اجازې نه نيسي، په داسې حال کې چې خاوند يې حاضر او په کور کې وي.

**يادونه:** دې حديث کې مسلمانې مېرمن ته په کلکه سپارښتنه شوې، چې د رمضان د فرضي روژو پرته، مېرمن نه شي کولی، چې د خاوند په شتون کې نفلي روژه ونيسي، حديث کې يوه لاره پرانيستې ده، هغه دا که خاوند اجازه ورکړي، چې زما په شتون کې نفلي روژې نيسه، يا يې خاوند په کور نه وي، بيا ښه خبره نشته او له نفلي روژو نه د ښځې په منع کولو کې حکمت دا دی، چې د اړتيا په مهال د خاوند حق اداء کړی شي او داسې نه چې د ښځې د نفلي روژو له امله خاوند کومه بله ګناه کې اخته نه شي.(فاروقي)

## نبوي زېرى!

﴿۱۵۰﴾ إِذَا مَرِضَ العَبْدُ، أَوْ سَافَرَ، كُتِبَ لَهُ مِثْلُ مَا كَانَ يَعْمَلُ مُقِيمًا صَحِيحًا.(صحيح البخاري، ۲۹۹۴)

**ژباړه:** کله چې يو بنده ناروغ يا مسافر شي، د هغې نېک عمل ثواب ورته ليکل کېږي، څنګه عمل به يې چې په کور کې، د روغتيا په مهال کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## وربخې خاندي!

﴿۱۵۱﴾ إِنَّ اللَّهَ يُنْشِئُ السَّحَابَ، فَيَنْطِقُ أَحْسَنَ الْمَنْطِقِ، وَيَضْحَكُ أَحْسَنَ الضَّحِكِ.(مسند امام أحمد۲۳۶۸۶)

**ژباړه:** بې شکه الله عزوجل وربځې پيدا کوي، بيا وربځې ډېرې ښايسته خبرې کوي او هم ډېره ښايسته خندا کوي.

## د رعد دنده!

﴿۱۵۲﴾ (الرعد ملك من الملائكة موكل بالسحاب، (بيديه أو في يده مخراق من نار يزجر به السحاب) والصوت الذي يسمع منه زجره السحاب إذا زجره حتى ينتهي إلى حيث أمره).[۱]

**ژباړه:** ابن عباس رضی الله عنهما د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: رعد له ملائکو څخه يو ملائک دی چې د وربځو په تنظيم او اړوندو چارو ګومارل شوی.

په دواړو لاسونو يا په يو لاس کې به يې د اور توره وي، چې وربځې پرې شړي، را شړي او کوم غږ چې تربنه اورېدل کېږي هغه د وربځو د شړلو، را شړلو غږ دی، تر دې چې هغه ځای ته يې ولېږدوي، کوم ځای ته چې د لېږلو امر ورته شوی وي.

## زه د خپل بنده له ګومان سره يم!

﴿۱۵۳﴾ عَنْ وَاثِلَةَ بْنَ الْأَسْقَعِ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: قَالَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ: أَنَا عِنْدَ ظَنِّ عَبْدِي بِي، إِنَّ ظَنَّ خَيْرًا فَخَيْرٌ، وَإِنَّ ظَنَّ شَرًّا فَشَرٌّ.(المعجم الأوسط (۱/ ۱۲۶))

---

۱ سلسلة الأحاديث الصحيحة وشيء من فقهها وفوائدها (۴/ ۴۹۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** واثله بن الاسقع رضی الله عنه د حديث راوي دی، وايي: له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه مې اورېدلي، ويل يې: الله تعالی وايي: زه د خپل بنده له ګومان سره يم، هغه چې پر ما يې کوي، که نېک ګومان کوي نو نېکي به مومي او که بد ګومان کوي، بدي به مومي.

## قيلوله کوئ!

﴿۱۵۴﴾ عَنْ اَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قِيلُوا فَإِنَّ الشَّيَاطِيْنَ لَا تَقِيلُ.(صحيح الجامع الصغير وزيادته (۲/ ۸۱۵))

**ژباړه:** انس رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: قيلوله (غرمنی خوب) کوئ، بې شکه شيطانان قيلوله (غرمنی خوب) نه کوي.

**يادونه:** قيلوله له نبوي سنتو څخه يو سنت دی او عمل پرې هم سنت دی، په دې خوب کې ډېرې ګټې دي او لويه ګټه يې دا ده چې د دې خوب په وسيله انسان کولی شي قيام الليل (تهجد) لمانځه ته په اسانی سره پاڅېږي.

## په ديدن يې الله تعالی يادېږي!

﴿۱۵۵﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فِي قَوْلِهِ: أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ.«يونس: ٦٢»

أولياء الله هم الذين يذكر الله لرؤيتهم.(۱)

ابن عباس رضی الله عنهما د الله تعالی په دې قول کې:

(أَلَا إِنَّ أَوْلِيَاءَ اللَّهِ لَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ)

**ژباړه:** واورئ! څوک چې د الله دوستان دي، پر هغو کومه وېره او کړاو نشته.

---

۱ ابو نعيم فی اخبار اصبهان (۱/ ۲۳۱) و رواه ابن المبارک فی الزهد (۲۱۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبوي حديث نقل کړی، چې اولياء الله هغوی دي، چې په ديدن يې انسان ته الله تعالى يادېږي.

**يادونه:** ياني د الله تعالى ربنتيني دوستان هغه خلک دي چې په ليدلو يې مؤمن بنده ته د الله ياد په زړه کېږي.

﴿۱۵۶﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: تَعَلَّمُوا مِنْ أَنْسَابِكُمْ مَا تَصِلُونَ بِهِ أَرْحَامَكُمْ فَإِنَّ صِلَةَ الرَّحِمِ مَحَبَّةٌ فِي الْأَهْلِ مَثْرَاةٌ فِي الْمَالِ مَنْسَأَةٌ فِي الْأَثَرِ.(المستدرك على الصحيحين للحاكم (۴/ ۱۷۸))

**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: له نسبونو مو دومره زده کړه وکړئ، چې خپلوی پرې وپالئ، بې شکه خپلوي پالل، په کورنۍ کې د مينې، دوستانې او خوشحالۍ سبب دی، د مال (شتمنۍ) د ډېروالي او د عمر د اوږدېدلو سبب دی.

## ستر زېری!

﴿۱۵۷﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ صَائِمًا؟» قَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَنَا، قَالَ: «فَمَنْ تَبِعَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ جَنَازَةً؟» قَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَنَا، قَالَ: «فَمَنْ أَطْعَمَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مِسْكِينًا» قَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَنَا، قَالَ: «فَمَنْ عَادَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مَرِيضًا» قَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَنَا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا اجْتَمَعْنَ فِي امْرِئٍ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ».(صحيح مسلم (۴/ ۱۸۵۷))

**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي دی، يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: په تاسې کې نن ورځ چا روژه نيولې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو بکر رضی الله عنه وویل: ما نیولې.

بیا یې وپوښتل: له تاسې څوک نن د مسلمان جنازې ته حاضر شوی؟

ابو بکر رضی الله عنه وویل: د الله رسوله! زه حاضر شوی یم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم بیا وپوښتل: چا نن ورځ مسکین ته خواړه ورکړي؟

ابو بکر رضی الله عنه وویل: ما ورکړي.

بیا یې وویل: په تاسې کې نن ورځ چا د ناروغ پوښتنه کړې؟

ابو بکر رضی الله عنه وویل: ما کړې.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: دا خویونه په یو سړي کې په یوه ورځ کې نه جمع کېږي، مګر «چا کې چې جمع شي جنت ته يې ننباسي».

## یوه ناسته او څلور ډالۍ؟

﴿۱۵۸﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَا اجْتَمَعَ قَوْمٌ فِي بَيْتٍ مِنْ بُيُوتِ اللَّهِ تَعَالَى، يَتْلُونَ كِتَابَ اللَّهِ وَيَتَدَارَسُونَهُ بَيْنَهُمْ، إِلَّا نَزَلَتْ عَلَيْهِمُ السَّكِينَةُ، وَغَشِيَتْهُمُ الرَّحْمَةُ، وَحَفَّتْهُمُ الْمَلَائِكَةُ، وَذَكَرَهُمُ اللَّهُ فِيمَنْ عِنْدَهُ.(سنن أبي داود (۲/ ۷۱))

**ژباړه:** ابو هریرة رضی الله عنه د حدیث راوي:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: کوم خلک چې د الله تعالی له کورونو څخه په یو کور کې را غونډ شي، دالله تعالی کتاب لولي او خپل منځ کې يې سره درس وتدریس کوي، د الله تعالی له لورې پرې ډاډګېرنه نازلیږي، الهي رحمت يې را پټوي او الله تعالی يې خپل ځان سره نږدې مخلوق کې یادوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نبوي فتوی!

په دريو طلاقو، طلاقه کړی شوې مېرمن د استوګنځي او نفقې حق نه لري:

﴿۱۵۹﴾ عَنْ فَاطِمَةَ بِنْتُ قَيْسٍ، قَالَتْ أَتَيْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: أَنَا بِنْتُ آلِ خَالِدٍ، وَإِنَّ زَوْجِي فُلَانًا مُرْسِلٌ إِلَيَّ بِطَلَاقِي، وَإِنِّي سَأَلْتُ أَهْلَهُ النَّفَقَةَ، وَالسُّكْنَى فَأَبَوْا عَلَيَّ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّهُ أَرْسَلَ إِلَيْهَا بِثَلَاثِ تَطْلِيقَاتٍ قَالَتْ: فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّمَا النَّفَقَةُ وَالسُّكْنَى لِلْمَرْأَةِ إِذَا كَانَ لِزَوْجِهَا عَلَيْهَا الرَّجْعَةُ.(السنن الكبرى للنسائي (۵/ ۲۵۳))

**ژباړه:** فاطمة بنت قيس رضی الله عنها وايي:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورغلم، ورته مې وويل: زه د خالد د خاندان يوه ښځه يم، فلانکی مې خاوند دی او ماته يې طلاق رالېږلی دی او زه ترې د نفقې او استوګنځي غوښتنه کوم، هغوی انکار کوي.

صحابه و رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وويل: خاوند يې دې ته درې طلاقه لېږلي دي.

فاطمه بنت قيس رضی الله عنها وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم وويل: بې شکه نفقه او استوګنځی د هغې ښځې حق دی، چې خاوند يې هغې ته د رجوع (ورګرځېدلو) اراده لري.

## جنب لپاره اسانه چاره!

﴿۱۶۰﴾ عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِذَا أَرَادَ أَنْ يَنَامَ وَهُوَ جُنُبٌ، تَوَضَّأَ، وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَأْكُلَ، وَهُوَ جُنُبٌ، غَسَلَ يَدَيْهِ.(سلسلة الاحاديث الصحيحة (۲/ ۳۹۰) سند يې صحيح دی)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** عائشه رضی الله عنها وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم به چې کله شپه مهال د جنابت په حالت کې ویدېده، اودس به یې وکړ او کله به یې چې د جنابت په حالت کې د خوراک اراده وکړه، نو لاسونه به یې مینځل.

**یادونه:** دې حدیث کې مؤمن بنده ته د جنابت په حالت کې د اسانی لاره پرانیستل شوې، چې خوب لپاره اودس کول دي او ډوډۍ خوړلو لپاره د لاسونو مینځل دي.

که چېرې څوک د څه ستونزې احساس نه کوي، شپه مهال غسل هم کولی شي، مګر که په سملاسي ډول غسل ونه کړي په اودس هم زړه ته څه نا څه د پاکوالي او سکون احساس کېږي.

## د رحمت بر لاسي!

﴿۱٦۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: إِنَّ اللَّهَ حِينَ خَلَقَ الخَلْقَ كَتَبَ بِيَدِهِ عَلَى نَفْسِهِ: إِنَّ رَحْمَتِي تَغْلِبُ غَضَبِي.[۱]

**ژباړه:** ابو هریره رضی الله عنه د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: الله تعالی چې کله مخلوقات پیدا کړل، په خپل لاس یې، پر خپل ځان دا پرېکړه (صادره) او ولیکله: بې شکه زما رحمت، زما پر غضب زورور دی.

---

۱ سنن الترمذي ت بشار (۵/ ۴۴۱) بسند حسن - سلسلة الاحاديث الصحيحة ۱۴٦۹/۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قلم!

﴿۱۶۲﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ، قَالَ: رَسُول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ أَوَّلَ مَا خَلَقَ اللَّهُ الْقَلَمُ، وَأَمَرَهُ أَنْ يَكْتُبَ كُلَّ شَيْءٍ يَكُونُ».(القضاء والقدر للبيهقي)

**ژباړه:** ابن عباس رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: بې شکه لومړنی څيز چې الله تعالی پيدا کړ، قلم دی او حکم يې ورته وکړ، چې د ټولو پيدا کېدونکو (کائناتو) شيانو نومونه وليکه.

د نبوي حديث په بنسټ قلم لومړنی مخلوق دی او حديث کې د قلم اصلي دنده او صفت هم ښودل شوی، چې ليکل دي.

## د فرعون خوله!

﴿۱۶۳﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ، قَالَ: رَسُول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: قَالَ لِي جِبْرِيلُ، لَوْ رَأَيْتَنِي، وَأَنَا آخِذٌ مِنْ حَالِ الْبَحْرِ فَأَدُسُّهُ فِي فِيمِ فِرْعَوْنَ، مَخَافَةَ أَنْ تُدْرِكَهُ الرَّحْمَةُ.[۱]

**ژباړه:** ابن عباس رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: جبريل عليه السلام راته وويل: که زه دې په هغه ورځ ليدلی وی، چې د سمندر نه مې خټې را اخيستلې او د فرعون په خوله کې مې ورننه ايستلې، له دې وېرې چې هسې نه د الله تعالی رحمت ورته ورسېږي.

---

۱ مسند الطاليسي (۲٦۱۸)/ سلسلة الاحاديث الصحيحة (۵/ ۱۵ ۲۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ښو اخلاقو لنډيز!

حافظ ابن رجب رحمه الله جامع العلوم والحکم کې ليکلي: د ټولو ښو اخلاقو ښېګڼې په دې څلورو حديثونو کې راجمع شوي:

﴿۱۶۴﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مِنْ حُسْنِ إِسْلَامِ الْمَرْءِ تَرْكُهُ مَا لَا يَعْنِيهِ».(سنن ابن ماجه (۲/ ۱۳۱۵))

**ژباړه:** ابو هريره رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: د سړي د اسلام له ښايست څخه دا دي، چې څه له ده سره مناسب نه وي هغه پرېږدي.

**يادونه:** حديث نه معلومېږي چې د اسلامي ښايست غوښتنه دا ده، چې کوم ډول چارې، ويناوې او خويونه له مسلمان سره مناسب نه وي، مسلمان به هغه پرېږدي.

﴿۱۶۵﴾ عَنْ أَنَسٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لاَ يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى يُحِبَّ لأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ.(سنن الترمذي ت بشار (۴/ ۲۴۸))

**ژباړه:** انس رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: ستاسې يو کس د پوره ايمان خاوند کېدلی نه شي، تر هغې چې څه د ځان لپاره خوښوي، دا د مسلمان ورور لپاره هم خوښ کړي.

**يادونه:** دې حديث کې پوره او حقيقي ايمان دا ښودل شوی، چې څه د ځان لپاره خوښوي، هغه به بل مسلمان لپاره هم خوښوي او د ايمان د حقيقت او پياوړتيا معلومولو لپاره دا ستره نسخه ده، په دې خوی سره سړی ځان ازمويلی شي چې ايمان يې په کوم حالت کې قرار لري؟

﴿۱۶۶﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ جَارَهُ، وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ.(صحيح مسلم (١/ ٦٨))

**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه د حديث راوي، دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې پر الله تعالی او د اخرت په ورځ ایمان لري، ښې خبرې دې کوي او یا دې چوپ اوسي، او څوک چې پر الله تعالی او د اخرت په ورځ ایمان لري، د ګاونډي عزت او درناوی دې کوي، او څوک چې پر الله تعالی او د اخرت په ورځ ایمان لري، د خپل مېلمه درناوی دې کوي.

**یادونه:** دې حدیث کې د ښو اخلاقو درې بنسټونه یاد شوي او دا داسې بنسټونه دي چې د ایمان د دوو سترو ارکانو سره تړاو لري، چې یو یې پر الله تعالی ایمان دی او دویم یې په اخرت ایمان لرل دي.

ښې خبرې د ژبې عبادت دی او له بې ګټې خبرو چوپتیا غوره کول د ژغورنې نبوي ضمانت دی، قران کریم هم د ښو خبرو کولو امر کړی:

وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا.[البقرة: ٨٣]

**ژباړه:** او خلکو ته ښې خبرې کوئ.

لقمان حکیم زوی ته ویلي و: «زویه! که خبرې د سپینو زرو دي، نو چوپتیا د سرو زرو ده».

د امام ابو حنیفه رحمه الله ګوتمه کې هم داسې لیکل شوي و:

«قُلْ لِلْخَيْرِ أَوْ لِيَسْكُتْ» د خیر خبرې کوه، یا چوپ اوسه.

﴿١٦٧﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، أَنَّ رَجُلًا قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَوْصِنِي، قَالَ: لاَ تَغْضَبْ، فَرَدَّدَ مِرَارًا، قَالَ: لاَ تَغْضَبْ.(صحيح البخاري (٨/ ٢٨)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** ابو هریره رضی الله عنه د حدیث راوي دی، وايي:
یو سړي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: وصیت راته وکړئ!
رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: مه غوسه کېږه!
هغه سړي بیا – بیا پوښتنه تکرار کړه او رسول الله صلی الله علیه وسلم به ورته هر ځل ویل: غوسه مه کوه!

## ښایسته اخلاق!

﴿۱۶۸﴾ عَن أَنَسٍ، قَالَ: قَالَ رَسُول اللهِ صَلَّى الله عَلَيه وَسَلَّم: «إِنَّ أَكْمَلَ النَّاسِ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا، وَإِنَّ حُسْنَ الْخُلُقِ لَيَبْلُغُ دَرَجَةَ الصَّوْمِ وَالصَّلَاةِ».(مسند البزار = البحر الزخار (۱۴/ ۳۱))

**ژباړه:** انس رضی الله عنه د حدیث راوي دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: په خلکو کې د ایمان په لحاظ بشپړ خلک هغوی دي چې اخلاق یې ښایسته وي او بې شکه د ښایسته اخلاقو په وسیله، انسان د روژې او لمانځه مرتبه ترلاسه کوي.

## طلا يي دعا!

﴿۱۶۹﴾ عَنْ شَدَّادِ بْنِ أَوْسٍ، قَالَ: قَالَ لِي رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَا شَدَّادُ بْنَ أَوْسٍ، إِذَا رَأَيْتَ النَّاسَ قَدِ اكْتَنَزُوا الذَّهَبَ وَالْفِضَّةَ، فَاكْنِزْ هَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ: اللهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الثَّبَاتَ فِي الْأَمْرِ، وَالْعَزِيمَةَ عَلَى الرُّشْدِ، وَأَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ، وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ شُكْرَ نِعْمَتِكَ، وَحُسْنَ عِبَادَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ قَلْبًا سَلِيمًا، وَلِسَانًا صَادِقًا، وَأَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا تَعْلَمُ، وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا تَعْلَمُ، إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ.(المعجم الكبير للطبراني (۷/ ۲۷۹))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** شداد بن اوس رضی الله عنه د حدیث راوي دی، وایي:
رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وویل: ای شداد د اوس زویه! کله چې خلکو سره زر او سپین زر ډېرول، ته دا کلمې ډېرې وایه:

اللهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الثَّبَاتَ فِي الْأَمْرِ، وَالْعَزِيمَةَ عَلَى الرُّشْدِ، وَأَسْأَلُكَ مُوجِبَاتِ رَحْمَتِكَ ، وَعَزَائِمَ مَغْفِرَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ شُكْرَ نِعْمَتِكَ، وَحُسْنَ عِبَادَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ قَلْبًا سَلِيمًا , وَلِسَانًا صَادِقًا، وَأَسْأَلُكَ مِنْ خَيْرِ مَا تَعْلَمُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا تَعْلَمُ، وَأَسْتَغْفِرُكَ لِمَا تَعْلَمُ، إِنَّكَ أَنْتَ عَلَّامُ الْغُيُوبِ.

## په اسم اعظم یې تربنه وغواړئ!

﴿۱۷۰﴾ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، قَالَتْ: قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ إِنَّ عَمِّي هِشَامَ بْنَ الْمُغِيرَةِ كَانَ يُطْعِمُ الطَّعَامَ، وَيَقْرِي الضَّيْفَ، وَيَصِلُ الرَّحِمَ، وَيَفُكُّ الْعَانِيَ، فَلَوْ أَدْرَكَكَ أَسْلَمَ، فَهَلْ لَهُ فِي ذَلِكَ أَجْرٌ؟، قَالَ: إِنَّهُ عَمُّكِ كَانَ يُعْطِي لِلدُّنْيَا وَذِكْرِهَا وَجَمَالِهَا، وَمَا قَالَ يَوْمًا قَطُّ، اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ.[1]

**ژباړه:** أم سلمة رضی الله عنها وایي:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مې وویل: ای د الله رسوله! تره مې هشام بن المغیره ډېر سخي او ډوډۍ مار سړی و، خپلوۍ یې پاللې او داسې داسې ښه کارونه یې کول، که تاسې یې موندلی وی، اسلام به یې قبول کړی وی، اوس هغه ته ددې نېکو چارو بدله شته؟

---

۱ المعجم الکبیر للطبرانی (۲۳/ ۳۹۱) مجمع الزوائد ۱/ ۴۶۵ ورجاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: أم سلمة! هو، ستا تره دی مګر هغه دا ټول کارونه او ورکړه د دنیا لپاره کول، چې ستاینه یې وشي او ښایسته یاد شي.

هغه په ټول عمر کې، یوه ورځ هم داسې نه دي ویلي:

اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِي خَطِيئَتِي يَوْمَ الدِّينِ.

**ژباړه:** ای الله! د قیامت په ورځ مې راته د ګناهونو بښنه وکړې.

**یادونه:** حدیث کې د دعا الفاظ که په یادو زده کړی شي او تل پرې مؤمن له الله تعالی نه د خپلو ګناهونو بښنه وغواړي ښه چاره ده.

## روڼ سحر کې یې ترې وغواړئ!

﴿۱۷۱﴾ عَنْ أُمِّ سَلَمَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَقُولُ إِذَا صَلَّى الصُّبْحَ حِينَ يُسَلِّمُ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا، وَرِزْقًا طَيِّبًا، وَعَمَلًا مُتَقَبَّلًا.(مسند أحمد مخرجا (۴۴/ ۲۲۱))

**ژباړه:** أم سلمة رضی الله عنها وایي:

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د سبا د لمانځه وروسته دا دعأ کوله.

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ عِلْمًا نَافِعًا...

**ژباړه:** ای الله! له تا څخه د ګټور علم، پاکې روزی او نېک عمل سوال کوم.

**یادونه:** محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم په دې دعأ کې خپل اُمت ته، د ورځې په پیل کې د درېیو سترو هدفونو د تړاکلو په اړه لارښوونه کړې، چې دا درې واړه یانې علم، روزي او عمل خپلمنځي تړاو لري او پیل یې په علم کېږي، څکه علم رڼا ده او ددې رڼا په شتون کې هر چاره په ښه او شرعي ډول سرته رسېږي، ښایي هر مؤمن نارینه او ښځینه دا نبوي دعا یاده کړي او ستر هدفونه ځانته وټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لمونځ پرې پیل کړئ!

﴿۱۴۲﴾ الحَمْدُ لِلَّهِ كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ.(صحیح البخاري (۷/ ۸۲))

**ژباړه:** یو سړي (د تکبیر تحریمې نه) وروسته لمونځ په دې کلمو پیل کړ، کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د لمانځه نه اوزګار شو، ویې ویل: دا کلمې چا وویلې؟

خلکو سترګې په هغه سړي کې خښې کړې.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: چا ویلې، څه خبره نشته.

هغه سړي وویل: ای د الله رسوله! زه چې راغلم ساه نیولې وم او همدا کلمې مې وویلې.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل:

لَقَدْ رَأَيْتُ اثْنَيْ عَشَرَ مَلَكًا يَبْتَدِرُونَهَا أَيُّهُمْ يَرْفَعُهَا.

**ژباړه:** دولس ملائک مې ولیدل، ټولو بیړه کوله، چې کوم یو به یې پورته وړي.

**یادونه:** دا سنت ژوندی کړئ او کله کله د (سبحانك اللهم وبحمدك ...) پر ځای دا کلمې ووایئ.

﴿۱۴۳﴾ رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ.(صحیح البخاري (۱/ ۱۵۹))

**ژباړه:** رفاعة رضی الله عنه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم پسې مې لمونځ کاوه، رسول الله صلی الله علیه وسلم چې (سمع الله لمن حمده) وویل، یو سړي وویل: رَبَّنَا وَلَكَ الحَمْدُ حَمْدًا كَثِيرًا طَيِّبًا مُبَارَكًا فِيهِ.

کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم سلام وګرځاوه، ویې ویل: دا کلمې چا وویلې؟

هغه سړي وویل: ای د الله رسوله! ما وویلې.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



رَأَيْتُ بِضْعَةً وَثَلاَثِينَ مَلَكًا يَبْتَدِرُونَهَا أَيُّهُمْ يَكْتُبُهَا أَوَّلُ.

**ژباړه:** څه دپاسه دېرش پرښتې مې وليدې، ټولو بيړه کوله، چې کوم يوه به يې لومړی ليکي.

﴿۱۷۴﴾ عَنْ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ: أَنَّهُ قَالَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: عَلِّمْنِي دُعَاءً أَدْعُو بِهِ فِي صَلاَتِي، قَالَ: قُلْ: اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا، وَلاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ، فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ، وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الغَفُورُ الرَّحِيمُ.(صحيح البخاري (۱/۱٦٦))

**ژباړه:** ابوبکر الصديق رضی الله عنه، رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ووېل: ای د الله رسوله! داسې يوه دعاء راته وښايئ چې لمانځه کې پرې دعاء کوم.

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته ووېل: دا دعاء وايه!

ای الله! بې شکه ما پر خپل ځان ډېر ظلم کړی او بې شکــه له تا پرته بـل څوک، ګناهونه نه شي ښښلی، نو خاص له خپل لوري راتـه بــښنه وکړه او رحم راباندې وکړه بې شکه ته ښښونکی او مهربان يې.

**يادونه:** دې دعا کې لومړی پر خپل حال اقرار شوی، بيا د الله تعالی نه د هغه په فضل او سخاوت سره وسيله نيول شوې او پرې غوښتنه شوې، دغه راز دا خبره پکې ياده شوې چې د ګناهونو ښښونکی يوازې الله تعالی دی، له دې وروسته بايد بيا د خپل حاجت غوښتنه وشي چې هغه دوه خبرې دي يو د ګناهونو ښښنه او دويم رحم.

❖ همدا د دعاء او عبادت اداب دي.( صحيح الوابل الصيب (۱/۱٦))

## مرغلرينه دعا!

﴿۱۷۵﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ كَانَ يُكْثِرُ الدُّعَاءَ يَقُولُ: اللهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الصِّحَّةَ وَالْعِفَّةَ، وَالْأَمَانَةَ وَحُسْنَ الْخُلُقِ، وَالرِّضَا بِالْقَدَرِ.(شعب الايمان (۱۱/ ٦٠))

**ژباړه:** عبدالله بن عمرو رضی الله عنه د حديث راوي دی، دا وايي:

رسول الله صلی الله علیه وسلم به دا دعاء ډېره ويله، ای الله! له تا څخه د صحت (روغتيا) پاک لمنی، امانتکاری، ښايسته اخلاقو او پر تقدير د رضايت غوښتنه کوم.

﴿۱۷٦﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ لِعَمِّهِ: أَكْثِرِ الدُّعَاءَ بِالْعَافِيَةِ.(المستدرك على الصحيحين للحاكم (۱/ ۷۱۱))

**ژباړه:** ابن عباس رضی الله عنه وايي: نبي صلی الله علیه وسلم خپل تره عباس ته وويل: ای تره! د عافيت (روغتيا) دعا ډېره غواړه.

**دا حديث په دې طريقه هم راغلی:**

- عباس بن عبدالمطلب رضی الله عنه وايي:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مې وويل: داسې څه شی راته وښايه چې الله تعالی نه يې وغواړم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وويل: د عافيت سوال ترې کوه؛

څو ورځې مې تېرې کړې، بيا ورته راغلم، ومې ويل: داسې څه شی راته وښايه، چې الله تعالی نه يې وغواړم!

رسول الله صلی الله علیه وسلم راته وويل: ای عباس!

ای د رسول الله تره! الله تعالی نه د دنيا او اخرت عافيت وغواړه![1]

---

۱ اخرجه البخاري في الأدب المفرد (۷۲٦) / ترمذی (۲/ ۳۴٦)/ احمد (۱/ ۲۰۹)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د عرفې د ماښامي او ورځې دعا!

﴿۱۷۷﴾ عَنْ عَلِيٍّ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَفْضَلُ مَا قُلْتُ أَنَا وَالنَّبِيُّونَ قَبْلِي عَشِيَّةَ عَرَفَةَ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ، لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ.(الدعاء للطبراني (۲۷۳ ص))

**ژباړه:** علي رضی الله عنه د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: غوره دعأ چې ما او هم نورو پیغمبرانو د عرفې په شپه ویلې، دا ده:

لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ، لَا شَرِيكَ لَهُ، لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ، وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ.

## فضل او رحمت ترې غواړه!

﴿۱۷۸﴾ اللهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ وَرَحْمَتِكَ؛ فَإِنَّهُ لَا يَمْلِكُهَا إِلَّا أَنْتَ.(المعجم الکبیر للطبراني (۱۰/۱۷۸))

**ژباړه:** عباس رضی الله عنه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یو مېلمه راغی، رسول الله صلی الله علیه وسلم یو کس د خپلو بیبیانو کورونو ته واستوه، چې مېلمه ته څه خواړه راوړي، مګر د یوې بي بي په کور کې هم د خوراک څه ونه موندل شو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم پورته لیکل شوې دعا وویله.

څو شېبې وروسته یو وریت کړی شوی پسه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ډالۍ کې راوړل شو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: دا د الله تعالی له فضل څخه دی، هغه چې موږ یې د رحمت انتظار کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شراب په شاتو بدل شو!

﴿۱۷۹﴾ اعمش له حیثمه نه روایت کړی، وايي: خالد بن ولید رضی الله عنه پر یو سړي ورغی چې د شرابو ډک لوښی ورسره و.

خالد بن ولید رضی الله عنه داسې دعا وکړه: (اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ عَسَلًا)

(ای الله! شات ترې جوړ کړه) د خالد بن ولید رضی الله د دعا په وسیله هغه شراب پر شاتو بدل شو.(مجابو الدعوة لابن أبي الدنيا (۴۹ ص))

## نبوي ښار کې شهید شو!

﴿۱۸۰﴾ عَنْ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: اللَّهُمَّ ارْزُقْنِي شَهَادَةً فِي سَبِيلِكَ، وَاجْعَلْ مَوْتِي فِي بَلَدِ رَسُولِكَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.(صحيح البخاري (۳/ ۲۳))

**ژباړه:** زید بن اسلم له خپل پلار نه روایت کړی، وايي: امیر المؤمنین عمر فاروق رضی الله عنه داسې دعا کړې وه، ای الله! ستا په لاره کې مې شهادت روزي کړې او مرګ مې ستا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په ښار کې کړې! دعا يې قبوله شوه او د ګران نبي صلی الله علیه وسلم ښار (مدینه منوره) کې د نبوي جومات محراب کې د ابو لؤلو مجوسي له خوا په زهرېله نېزه ووهل شو او بیا شهید شو.

﴿۱۸۱﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، يَقُولُ: أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: إِنَّ قُلُوبَ بَنِي آدَمَ كُلَّهَا بَيْنَ إِصْبَعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ الرَّحْمَنِ، كَقَلْبٍ وَاحِدٍ، يُصَرِّفُهُ حَيْثُ يَشَاءُ ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: اللهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوبِ صَرِّفْ قُلُوبَنَا عَلَى طَاعَتِكَ.(صحيح مسلم (۴/ ۲۰۴۵))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** عبدالله بن عمرو بن العاص رضی الله عنه د حدیث راوي دی: رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: بې شکه د ټولو بنیادمانو زړونه لکه د یو زړه په څېر د (الرحمن) له ګوتو څخه د دوو ګوتو په منځ کې دي، څنګه یې چې وغواړي اړوي یې را اړوي یې، بیا به رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې دعا کوله:

اللهُمَّ مُصَرِّفَ الْقُلُوبِ صَرِّفْ قُلُوبَنَا عَلَى طَاعَتِكَ.

ژباړه: ای د زړونو اړوونکیه! زړونه مو ستا د طاعت لور ته را واړوه.

## له څلورو تل پناه غواړه!

﴿۱۸۲﴾ اللهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ، وَمِنْ قَلْبٍ لَا يَخْشَعُ، وَمِنْ نَفْسٍ لَا تَشْبَعُ، وَمِنْ دَعْوَةٍ لَا يُسْتَجَابُ لَهَا.(صحیح مسلم (۴/ ۲۰۸۸))

**ژباړه:** رسول الله صلی الله علیه وسلم به داسې دعا کوله:

ای الله! پر تا د بې ګټې علم نه پناه غواړم او د هغه زړه نه چې نه وېرېږي، د هغه نفس نه چې نه مړېږي او له هغې دعا نه چې نه قبلېږي.

## بد مرغي!

﴿۱۸۳﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْعُو يَقُولُ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ النِّفَاقِ وَالشِّقَاقِ وَمِنْ سَيِّئِ الْأَخْلَاقِ.(الدعاء للطبراني (۴۱۰ ص))

**ژباړه:** ابوهریرة رضی الله عنه وایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم به داسې دعا کوله: ای الله! پر تا له بدبختی، منافقت او ناکاره اخلاقو څخه پناه غواړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نوی مسلمان!

(۱۸۴) عَنْ أَبِي مَالِكٍ الْأَشْجَعِيِّ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كَانَ الرَّجُلُ إِذَا أَسْلَمَ، عَلَّمَهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الصَّلَاةَ، ثُمَّ أَمَرَهُ أَنْ يَدْعُوَ بِهَؤُلَاءِ الْكَلِمَاتِ: اللهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي، وَعَافِنِي وَارْزُقْنِي.(صحيح مسلم (۴/ ۲۰۷۳))

**ژباړه:** ابو مالک الاشجعي، د حديث راوي دی، دی وايي: کله به چې کوم سړي نوی اسلام قبول کړ، رسول الله صلی الله عليه وسلم به ورته د لمانځه تعليم ورکاوه او بيا به يې ورته په دې کلماتو د دعا کولو امر کاوه، اللهُمَّ اغْفِرْ لِي، وَارْحَمْنِي، وَاهْدِنِي، وَعَافِنِي وَارْزُقْنِي.

## مه نا هيلی کېږه، ميزان د رحمن ذات په لاس کې دی!

(۱۸۵) عَنِ النَّوَّاسِ بْنِ سَمْعَانَ الْكِلَابِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: الْمِيزَانُ بِيَدِ الرَّحْمَنِ، يَرْفَعُ أَقْوَامًا، وَيَضَعُ آخَرِينَ.(المستدرك على الصحيحين للحاكم (۲/ ۳۱۷))

**ژباړه:** نواس بن سمعان الکلابي رضی الله عنه د حديث راوي دی، وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: ميزان (تله) د رحمن په لاس کې دی، ځيني خلک پورته کوي او ځينې ښکته کوي.

## زه بادشاه يم!

(۱۸۶) وَعَنِ ابْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: يَطْوِي اللَّهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى السَّمَاوَاتِ فَيَأْخُذُهُنَّ بِيَمِينِهِ، وَيَطْوِي الْأَرْضَ فَيَأْخُذُهَا بِيَدِهِ الْأُخْرَى، ثُمَّ يَقُولُ: أَنَا الْمَلِكُ، أَيْنَ الْمُلُوكُ؟(مجمع الزوائد ومنبع الفوائد (۱/ ۸۴))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** ابن عمر رضی الله عنه د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: الله عزوجل به اسمانونه راونغاړي او ټول به په ښي لاس کې ونیسي، څمکه به راونغاړي او په بل لاس کې به یې ونیسي، بیا به ووایي: زه بادشاه یم، نور بادشاهان چېرې دي!؟

## غوره سړی او غوره چارې!

﴿۱۸۷﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ بُسْرٍ الْمَازِنِيِّ، قَالَ: جَاءَ أَعْرَابِيَّانِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ أَحَدُهُمَا: يَا رَسُولَ اللهِ، أَيُّ النَّاسِ خَيْرٌ؟ قَالَ: طُوبَى لِمَنْ طَالَ عُمْرُهُ وَحَسُنَ عَمَلُهُ، وَقَالَ الْآخَرُ: أَيُّ الْعَمَلِ خَيْرٌ؟ قَالَ: أَنْ تُفَارِقَ الدُّنْيَا وَلِسَانُكَ رَطْبٌ مِنْ ذِكْرِ اللهِ.(حلية الأولياء وطبقات الأصفياء (٦/ ١١١))

**ژباړه:** عبدالله بن یسر المازني رضی الله عنه وایي:

دوه کلیوال، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغلل، یو یې وویل: ای د الله رسوله! په خلکو کې غوره څوک دی؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: هغه چا لره خوشحالي ده، چې عمر یې اوږد وي او عملي چارې یې ښې او ښایسته وي او بل یې داسې وپوښتل: کومه چاره غوره ده؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: چې داسې حال کې له دنیا نه جلا شي چې ژبه دې د الله تعالی پر یاد لمده وي.

## غوره مېرمن!

﴿۱۸۸﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قِيلَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَيُّ النِّسَاءِ خَيْرٌ؟ قَالَ: الَّتِي تَسُرُّهُ إِذَا نَظَرَ، وَتُطِيعُهُ إِذَا أَمَرَ، وَلَا تُخَالِفُهُ فِي نَفْسِهَا وَمَالِهَا بِمَا يَكْرَهُ.(سنن النسائي (٦/ ٦٨))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** ابو هريره رضی الله عنه وايي: له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه وپوښتل: په ښځمنو کې غوره څوک ده؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: په ښځمنو کې غوره مېرمن هغه ده، چې خاوند يې په ديدن خوشحالېږي، چې د څه امر ورته وکړي اطاعت يې کوي او په نفس (ځان) او مال کې د خاوند د خوښې خلاف کار نه کوي.

**يادونه:** دې حديث کې د غوره مېرمنې درې ځانګړنې يادې شوې، دومره د خوږو اخلاقو خاونده وي چې خاوند يې په ديدن کې د خوښۍ احساس کوي، د خاوند د حکم منونکې وي او امانتکاره وي، هم د نفس او هم د خاوند د مال پوره خيال ساتي.

## غوره نکاح!

﴿۱۸۹﴾ عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: خَيْرُ النِّكَاحِ أَيْسَرُهُ.(المعجم الأوسط (۱/ ۲۲۱))

**ژباړه:** عقبه بن عامر رضی الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: غوره نکاح هغه ده، چې ډېره اسانې پکې وي.

**يادونه:** يانې مهر، وليمه او نورې چارې يې په کم لګښت او اسانۍ سره ترسره شي.

## لومړۍ ولوله چانس دی!

﴿۱۹۰﴾ إِنَّ لِكُلِّ شَيْءٍ شِرَّةً وَلِكُلِّ شِرَّةٍ فَتْرَةً..(رواه الترمذي)

**ژباړه:** بې شکه د هر څيز لپاره په پيل کې يوه تېزي او ولوله وي او د هرې تېزۍ (ولولې) لپاره بيا يوه کمزوري وي.

يانې ولوله بنديږي او يا له منځه ځي، ځيرک انسان له فطری او طبيعي ولولو څخه په ښېره ګټه پورته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اووه حرامې کړی شوې چارې!

﴿۱۹۱﴾ إِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَيْكُمْ: عُقُوقَ الأُمَّهَاتِ، وَوَأْدَ الْبَنَاتِ، وَمَنَعَ وَهَاتِ، وَكَرِهَ لَكُمْ قِيلَ وَقَالَ، وَكَثْرَةَ السُّؤَالِ، وَإِضَاعَةَ الْمَالِ.(صحيح البخاري (۳/ ۱۲۰))

**ژباړه:** بې شکه الله تعالی پر تاسې د میندو نافرماني، د ژوندیو لوڼو خښول، بخیلي (کنجوسي) له خلکو غوښتل حرام کړي دي او ډېرې خبرې اترې، ډېر سوال کول او مال بربادول یې تاسې لپاره ناخوښه ګڼلي دي.

## لوړه ستاینه!

﴿۱۹۲﴾ مَنْ صُنِعَ إِلَيْهِ مَعْرُوفٌ فَقَالَ لِفَاعِلِهِ: جَزَاكَ اللهُ خَيْرًا فَقَدْ أَبْلَغَ فِي الثَّنَاءِ.(مصنف ابن أبي شيبة (۵/ ۳۲۲))

**ژباړه:** چاته چې څوک یو نېک کار وکړي، دا یې کوونکي ته ووایي: الله دې غوره بدله درکړي، نو ده په ستاینه کې ډېر کوښښ وکړ.

## د هډوکو تسبیح!

﴿۱۹۳﴾ وَعَنْ بُرَيْدَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: دَخَلَ بِلَالٌ عَلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم، وَهُوَ يَتَغَدَّى، فَقَالَ: رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْغَدَاءَ يَا بِلَالُ! قَالَ: إِنِّي صَائِمٌ. فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نَأْكُلُ رِزْقَنَا، وَفَضْلَ رِزْقُ بِلَالٍ فِي الْجَنَّةِ، أَشَعَرْتَ يَا بِلَالُ! أَنَّ الصَّائِمَ لَتُسَبِّحُ عِظَامُهُ وَيَسْتَغْفِرُ لَهُ الْمَلَائِكَةُ مَا أُكِلَ عِنْدَهُ؟.(شعب الإيمان (۵/ ۲۰۹))

**ژباړه:** له بریده رضی الله عنه څخه روایت دی، وایي: بلال رضی الله عنه غرمه مهال د رسول الله صلی الله علیه وسلم څنګ ته ورغی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: بلاله! غرمنی تیاره ده.

بلال وویل: زه روژه یم.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: موږ خپله روزي خورو او د بلال روزي په جنت کې پاتې شوه، بلاله! پوهېږې، چې د روژه تي هډوکي تسبیح وايي او پرښتې تر هغې ورته ښښنه غواړي څو يې چې مخکې خوراک کېږي.

## ارمان!

﴿۱۹۴﴾ وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَالَّذِيْ نَفْسِيْ بِيَدِهِ لَا تَذْهَبُ الدُّنْيَا حَتَّى يَمُرَّ الرَّجُلُ عَلَى الْقَبْرِ فَيَتَمَرَّغُ عَلَيْهِ، وَيَقُولُ: يَا لَيْتَنِيْ كُنْتُ مَكَانَ صَاحِبِ هَذَا الْقَبْرِ، وَلَيْسَ بِهِ الدِّينُ إِلَّا الْبَلَاءُ.(صحيح مسلم (۴/ ۲۲۳۱))

**ژباړه:** نبي صلی الله علیه وسلم ويلي: پر هغه ذات سوګند کوم چې روح مې د هغه په لاس کې دی، دنیا به تر هغې ودانه وي، چې يو سړی به پر يو قبر تېرېږي؛ نو پر قبر به ورغړي او وايي به: کاش چې دې قبر کې ددې کس پر ځای زه وی.

## دینار و درهم!

﴿۱۹۵﴾ وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَيَأْتِيَنَّ عَلَى النَّاسِ زَمَانٌ لاَ يَنْفَعُ فِيْهِ إِلَّا الدِّيْنَارُ وَالدِّرْهَمُ.(صحيح البخاري (۲/ ۱۰۹))

**ژباړه:** نبي صلی الله علیه وسلم ويلي: هرو مرو، پرخلکو به داسې يو وخت راشي چې له دینار و درهم پرته به پکې بل څه ګټه نه لري.

## د کارګر شکایت!

﴿۱۹۶﴾ وَعَنْ أَنَسٍ رضي الله عنه قَالَ: كَانَ أَخَوَانِ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ, فَكَانَ أَحَدُهُمَا يَأْتِي النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ,

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَالْآخَرُ يَحْتَرِفُ, فَشَكَى الْمُحْتَرِفُ أَخَاهُ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ, فَقَالَ: لَعَلَّكَ تُرْزَقُ بِهِ.(سنن الترمذي ت بشار (۴/ ۱۵۲))

**ژباړه:** له انس رضی الله عنه نه روايت دی، وايي:

د رسول الله صلى الله عليه وسلم په وخت کې دوه ورونه و، له دوی نه يو به رسول الله صلى الله عليه وسلم ته راتله (او د دين زده کړه به يې کوله) او هغه بل به کار کاوه.

کارکوونکي، رسول الله صلى عليه وسلم ته له خپل وروره شکايت وکړ.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: کېدی شي د هغه له امله تاته هم روزي درکړی شي.

## راحت موندونکی شه!

﴿١٩٧﴾ وَعَنْ أَبِي قَتَادَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ أَنَّهُ كَانَ يُحَدِّثُ أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَى اللهُ عَلِيْهِ وَسَلَّم: مُرَّ عَلَيْهِ بِجَنَازَةٍ، فَقَالَ: "مُسْتَرِيْحٌ اوَ مُسْتَرَاحٌ مِنْهُ" فَقَالُوْا: يَا رسُولَ الله! مَا المسْتَرِيحُ، وَالْمُسْتَرَاحُ مِنْهُ؟ فَقَالَ: اَلْعَبْدُ اَلْمُؤْمِنُ يَسْتَرِيْحُ مِنْ نَصَبِ الدُّنْيا وأذَاهَا، إلى رَحْمَةِ اللهِ وَالْعَبْدُ الْفَاجِرُ يَسْتَرِيْحُ مِنْهُ الْعِبَادُ، وَالبِلاَدُ، والشَّجَرُ، وَالدَّوَابُّ.(شعب الإيمان (۱۱/ ۴۵۶))

**ژباړه:** ابو قتاده رضی الله عنه به دا حديث بيانوه:

چې رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې يوه جنازه تېره شوه.

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: راحت يې وموند، يا ترېنه راحت وموندلی شو.

صحابه و وويل: (راحت يې وموند يا ترې راحت وموندلی شو) دا څه مانا؟

رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: مومن بنده د دنيا له ستړياو او کړاوونو څخه د الله رحمت لور ته په ارام او راحت شي او له ناکاره بنده نه د الله بنده گان، ښارونه، ونې او ژوي په راحت شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## خدمتكار مه وهه!

﴿۱۹۸﴾ وَعَنْ أَبِي مَسْعُودٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ: كُنْتُ أَضْرِبُ غُلَامًا لِي فَسَمِعْتُ مِنْ خَلْفِي صَوْتًا: اِعْلَمْ أَبَا مَسْعُودٍ! اَللهُ أَقْدَرُ عَلَيْكَ مِنْكَ عَلَيْهِ» فَالْتَفَتُّ فَإِذَا هُوَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ! هُوَ حُرٌّ لِوَجْهِ اللهِ فَقَالَ: أَمَا إِنَّكَ لَوْ لَمْ تَفْعَلْ لَلَفَحَتْكَ النَّارُ أَوْ قَالَ لَمَسَّتْكَ النَّارُ.(شعب الإيمان (۱۱/ ۷۷))

**ژباړه:** ابو مسعود رضی الله عنه وايي: خپل مريی مې واهه، له وروسته نه مې غږ واورېده، چې ويل يې: ابن مسعوده، پوه شه! الله پر تا له دې نه ډېر برلاسی دی، څومره چې ته پر دې برلاسی يې، شاته مې وکتل گورم، چې رسول الله صلی الله عليه وسلم دی، ومې ويل: ای د الله رسوله! دا مريی مې د الله د مخ (رضا) لپاره ازاد دی.
رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: که اوس دې داسې نه وی کړی، د دوزخ اور به سوزولی وی، يا يې وويل: اور به درته رسېدلی وی.

## د تسبيحاتو تاج!

﴿۱۹۹﴾ وَعَنْ جُوَيْرِيَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَ مِنْ عِنْدِهَا بُكْرَةً حِينَ صَلَّى الصُّبْحَ، وَهِيَ فِي مَسْجِدِهَا، ثُمَّ رَجَعَ بَعْدَ أَنْ أَضْحَى، وَهِيَ جَالِسَةٌ، قَالَ: مَا زِلْتِ عَلَى الْحَالِ الَّتِي فَارَقْتُكِ عَلَيْهَا؟ قَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَقَدْ قُلْتُ بَعْدَكِ أَرْبَعَ كَلِمَاتٍ، ثَلَاثَ مِرَارٍ، لَوْ وُزِنَتْ بِمَا قُلْتِ الْيَوْمَ لَوَزَنَتْهُنَّ: سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ، عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَا نَفْسِهِ وَزِنَةَ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ.(صحيح مسلم (۴/ ۲۰۹۰))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** له أم المومنين جويريه رضی الله عنها نه روايت دي:
چې نبي صلی الله عليه وسلم له دې څخه سهار وختي، د سبا لمانځه لپاره له كوره ووت او جويريه رضی الله عنها پر جانماز ناسته وه، رسول الله صلی الله عليه وسلم له ساخت وروسته ورغی او دا هماغسې ناسته وه، رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وويل: جويريې! تر دې دمه په هماغه حال يې چې ما پرېښې وې؟
(يانې تر اوسه په جانماز ناسته يې) جويريې رضی الله عنها وويل: هو!
رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: ما له تا نه وروسته څلور كلمې درې ځلې وويلې، كه چېرې ستا د نن ورځ له ويل شويو ذكرونو سره وتلل شي، نو دا كلمې به ترې درنې شي.
«سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ، عَدَدَ خَلْقِهِ وَرِضَا نَفْسِهِ وَزِنَةَ عَرْشِهِ وَمِدَادَ كَلِمَاتِهِ».

## سره مرغی څنګه پوه شوه؟!

﴿٢٠٠﴾ وَعَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَبْدِ اللهِ عَنْ أَبِيهِ قَالَ: كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللهِ صَلى الله عَلَيْهِ وَسَلم فِيْ سَفَرٍ فَانْطَلَقَ لِحَاجَتِهِ، فَرَأَيْنَا حُمَّرَةً مَعَهَا فَرْخَانِ فَأَخَذْنَا فَرْخَيْهَا، فَجَاءَتِ الْحُمَّرَةُ، فَجَعَلَتْ تَفْرُشُ، فَجَاءَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ: مَنْ فَجَعَ هَذِهِ بِوَلَدِهَا؟ رُدُّوا وَلَدَهَا إِلَيْهَا، وَرَأَى قَرْيَةَ نَمْلٍ قَدْ حَرَقْنَاهَا قَالَ: مَنْ حَرَقَ هَذِهِ، فَقُلْنَا نَحْنُ قَالَ: إِنَّهُ لاَ يَنْبَغِيْ أَنْ يُعَذِّبَ بِالنَّارِ إِلاَّ رَبُّ النَّارِ.(سنن ابي داود (٣/ ٥٥))

**ژباړه:** عبدالرحمن بن عبدالله رضی الله عنه له خپل پلار نه روايت كړی، دا وايي: موږ په يو سفر كې له رسول الله صلی الله عليه وسلم سره ملګري و، رسول الله صلی الله عليه وسلم د اړتيا لرې كولو لپاره لاړ، موږ يوه سره مرغۍ وليده چې دوه بچې هم ورسره و، موږ يې بچې راونيول،

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره مرغۍ راغله او پر موږ راوغوړېده.

نبي صلی الله علیه وسلم راغی، ویې ویل: دا مرغۍ چا په خپلو بچیو دردولې؟

دې ته یې بچي ورپربږدئ! او د مېږیو یو کلی (ځاله) یې ولیده چې موږ سوزولې وه، ویې ویل: دا چا سوزولې؟

موږ وویل: موږ سوزولې.

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: هېچا ته مناسب نه دي چې پر اور ځاته کړاو (عذاب) ورکړي، پرته د اور له خاونده.

## جهاد!

﴿۲۰۱﴾ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَلَيْكُمْ بِالْجِهَادِ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَإِنَّهُ بَابٌ مِنْ أَبْوَابِ الْجَنَّةِ يُذْهِبُ اللَّهُ بِهِ الْهَمَّ وَالْغَمَّ». (مسند إمام أحمد (۲۲۷۱۹))

**ژباړه:** عباده بن صامت رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د الله تعالی په لاره کې پر تاسې جهاد کول لازم دي، بې شکه جهاد د جنت له دروازو څخه یوه دروازه ده، الله عزوجل پرې خفګان (پرېشاني) او غم له منځه وړي.

﴿۲۰۲﴾ عَنْ جَابِرٍ، قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَيُّ الْجِهَادِ أَفْضَلُ؟ قَالَ: «مَنْ أُهَرِيقَ دَمُهُ، وَعُقِرَ جَوَادُهُ». (المعجم الأوسط (۴۴۴۷))

**ژباړه:** جابر رضي الله عنه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل شو: کوم یو جهاد ډېر غوره دی؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: د چاچې آس ووژلی شې او دده وینې هم توی شي (یانی شهید شي).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ژبې جهاد!

﴿۲۰۳﴾ عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ كَعْبِ بْنِ مَالِكٍ، عَنْ أَبِيهِ، أَنَّهُ قَالَ لِلنَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ قَدْ أَنْزَلَ فِي الشِّعْرِ مَا أَنْزَلَ، فَقَالَ: «إِنَّ الْمُؤْمِنَ يُجَاهِدُ بِسَيْفِهِ وَلِسَانِهِ، وَالَّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ، لَكَأَنَّ مَا تَرْمُونَهُمْ بِهِ نَضْحُ النَّبْلِ».(مسند إمام أحمد (۲۷۱۷۴))

**ژباړه:** عبدالرحمن بن کعب بن مالک له خپل پلار (کعب بن مالک) رضي الله عنه نه روايت کوي کعب بن مالک رضي الله عنه، رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وويل: الله عزوجل چې د شعر په اړه څه نازلول هغه يې نازل کړ او تاسې پرې پوهېږئ (اوس نو ستاسې نظر د شعر په اړه څه دی؟) رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وويل: بې شکه مؤمن پر توره او ژبې دواړو جهاد کوي، پر هغه ذات سوګند، چې نفس مې د هغه په لاس کې دی، د (کافرانو او مشرکانو) په وړاندې ستاسې شعر ويل داسې دي، لکه هغوی چې پر غشو ولئ!

## الله تعالی ته محبوب صف!

﴿۲۰۴﴾ عَنْ عِمْرَانَ بْنِ حُصَيْنٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «قِيَامُ رَجُلٍ فِي صَفٍّ فِي سَبِيلِ اللَّهِ أَفْضَلُ مِنْ عِبَادَةِ سِتِّينَ سَنَةٍ».(المعجم الكبير للطبراني (۴۱۷))

**ژباړه:** عمران بن حصين رضي الله عنه د حديث راوی دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: د الله تعالی د لارې د جهاد په صف کې يو ساعت لپاره درېدل، د شپيته کالو له عبادت نه غوره دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نجات کره سندونه!

﴿۲۰۵﴾ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «نَجَا أَوَّلُ هَذِهِ الْأُمَّةِ بِالْيَقِينِ وَالزُّهْدِ، وَيَهْلِكُ آخِرُ هَذِهِ الْأُمَّةِ بِالْبُخْلِ وَالْأَمَلِ».(اليقين لابن أبي الدنيا (۳) بسند حسن)

**ژباړه:** عمرو بن شعیب د خپل پلار هغه له خپل نیکه څخه روایت کوي، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د دې امت لومړینو پر یقین او زهد نجات موندلی او وروستي به یې د بخل (کنجوسی) او اوږدو هیلو د لرلو له امله هلاکیږي.

## له شیدو نه سپین حجر اسود!

﴿۲۰۶﴾ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «نَزَلَ الحَجَرُ الأَسْوَدُ مِنَ الجَنَّةِ، وَهُوَ أَشَدُّ بَيَاضًا مِنَ اللَّبَنِ فَسَوَّدَتْهُ خَطَايَا بَنِي آدَمَ».(سنن الترمذي (۸۷۷) حديث صحيح)

**ژباړه:** عبدالله بن عباس رضي الله عنه دحدیث راوی دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: حجر اسود له جنت څخه راغلی دا له شیدو څخه ډېر سپین و، مگر د بنیادمانو گناهونو یې رنگ تور کړ.

## دخیر کلیگانې شئ!

﴿۲۰۷﴾ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ مِنَ النَّاسِ مَفَاتِيحَ لِلْخَيْرِ، مَغَالِيقَ لِلشَّرِّ، وَإِنَّ مِنَ النَّاسِ مَفَاتِيحَ لِلشَّرِّ مَغَالِيقَ لِلْخَيْرِ، فَطُوبَى لِمَنْ جَعَلَ اللَّهُ مَفَاتِيحَ الْخَيْرِ عَلَى يَدَيْهِ، وَوَيْلٌ لِمَنْ جَعَلَ اللَّهُ مَفَاتِيحَ الشَّرِّ عَلَى يَدَيْهِ».(سنن ابن ماجه (۲۳۷))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** أنس بن مالک رضي الله عنه د حديث راوي دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: ځیني خلک داسې دي، چې د خېر (ښېګڼې) لپاره کلیګانې دي او د شر (ناکاره کارونو) لپاره قلفونه دي او بې شکه له خلکو څخه ځینې خلک د شر لپاره کلیګانې او د خیر لپاره قلفونه دي، نو خوشحالي ده هغه چا لپاره، چې الله تعالی د خير کليګانې په لاسونو کې ورکړي او هلاکت دی هغه چا لپاره، چې الله تعالی د شر کلیګانې په لاسونو کې ورکړي.
**يادونه:** دې حديث کې خلک په دوو ډلو ویشل شوي، چې یوه ډله یې خیر خپروي او دویمه یې شر خپروي، لومړۍ ډلې لپاره محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم دعا کړې او دویمې ډلې لپاره یې ښېرا کړې ده.

## غوره خلک!

﴿۲۰۸﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَفَ عَلَى نَاسٍ جُلُوسٍ، فَقَالَ: أَلاَ أُخْبِرُكُمْ بِخَيْرِكُمْ مِنْ شَرِّكُمْ؟ قَالَ: فَسَكَتُوا، فَقَالَ ذَلِكَ ثَلاَثَ مَرَّاتٍ، فَقَالَ رَجُلٌ: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ، أَخْبِرْنَا بِخَيْرِنَا مِنْ شَرِّنَا، قَالَ: خَيْرُكُمْ مَنْ يُرْجَى خَيْرُهُ وَيُؤْمَنُ شَرُّهُ، وَشَرُّكُمْ مَنْ لاَ يُرْجَى خَيْرُهُ وَلاَ يُؤْمَنُ شَرُّهُ.(سنن الترمذي (۲۲٦۳) مسند امام أحمد (۸۸۱۲))

ژباړه: ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم د خلکو یوې ډلې ته ودرېده، چې ناست وو، ورته یې وویل: ایا تاسې ته ستاسې د غوره خلکو په اړه خبر در نه کړم؟
راوي وايي: خلک غلي شو، رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبره درې ځلې تکرارکړه، يو سړي وویل: ای د الله استازیه! هوکې؛ خبر مو کړه، چې موږ کې غوره او نا کاره څوک دي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستاسې غوره هغه څوک دی، چې د ښېګڼې ګټه ترینه کېدی شي او له شر نه یې خلک په امن وي او ستاسې بدترین خلک هغوی دي چې نه ترینه د ښېګڼې هیله او تمه کېدی شي او نه یې له شره خلک په امن وي.

## خوشبویه ملګری!

﴿۲۰۹﴾ عَنْ أَبِي مُوسَى رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مَثَلُ الجَلِيسِ الصَّالِحِ وَالسَّوْءِ، كَحَامِلِ المِسْكِ وَنَافِخِ الكِيرِ، فَحَامِلُ المِسْكِ: إِمَّا أَنْ يُحْذِيَكَ، وَإِمَّا أَنْ تَبْتَاعَ مِنْهُ، وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ مِنْهُ رِيحًا طَيِّبَةً، وَنَافِخُ الكِيرِ: إِمَّا أَنْ يُحْرِقَ ثِيَابَكَ، وَإِمَّا أَنْ تَجِدَ رِيحًا خَبِيثَةً.(صحيح البخاري (۵۵۳۴))

**ژباړه:** ابو موسی رضي الله عنه د حدیث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د نېک او بد ملګري مثال د مشکو د باروونکي او د بټۍ پوکوونکي په څېر دی، د مشکو باروونکي، یابه مشک درکړي، یا به یې ترې په بیه وپېرې او یا به ترې ښایسته خوشبویي در ورسیږي، بټۍ پو کوونکي، یا به دې جامې وسوزوي او یا به یې بدبویي در ورسیږي.

﴿۲۱۰﴾ عَنْ مُطَرِّفِ بْنِ عَبْدِ اللهِ بْنِ الشِّخِّيرِ، عَنْ أَبِيهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: مُثِّلَ ابْنُ آدَمَ وَإِلَى جَنْبِهِ تِسْعٌ وَتِسْعُونَ مَنِيَّةً إِنْ أَخْطَأَتْهُ الْمَنَايَا وَقَعَ فِي الْهَرَمِ حَتَّى يَمُوتَ.

(سنن الترمذي (۲۱۵۰) حدیث حسن غریب، صحیح جامع الصغیر وزیادته،بسند صحیح ۲/۵۸۲۵)

**ژباړه:** مطرف بن عبدالله الشخیر د خپل پلار نه روایت کړی، چې نبي صلی الله علیه وسلم ویلي: د بنیادم مثال داسې دی، چې اړخ ته یې (۹۹) هیلې او امیدونه وي، که هیلې یې د لاسه ووځي په بوډاتوب کې اخته کېږي تر دې چې مړ شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ښکلې هېنداره کې تور داغ؟!

﴿٢١١﴾ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عُرِضَتْ عَلَيَّ الْأَيَّامُ، فَعُرِضَ عَلَيَّ فِيهَا يَوْمُ الْجُمُعَةِ، فَإِذَا هِيَ كَالْمِرْآةِ حَسْنَاءُ، وَإِذَا فِي وَسَطِهَا نُكْتَةٌ سَوْدَاءُ، فَقُلْتُ: مَا هَذَا؟ قِيلَ: السَّاعَةُ». (المعجم الأوسط(٧٣٠٧،سلسلة الأحاديث الصحيحة، ١٩٣٣بسند صحيح)

**ژباړه:** انس بن مالك رضي الله عنه د حديث رواي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: د دنيا ټولې ورځې راته وړاندې کړی شوې او په دې ورځو کې راته د جمعې ورځ هم وښودلی شوه، دا يکې د يوې سپينې هېندارې په څېر وه او په منځ کې يې تور داغ و، ما پوښتنه وکړه دا تور داغ يکې څه شی دی؟ راته وويلي شو، دا قيامت دی.

## درې ستر زيرې!

﴿٢١٢﴾ وَأَنَّ النَّصْرَ مَعَ الصَّبْرِ، وَأَنَّ الْفَرَجَ مَعَ الْكَرْبِ، وَأَنَّ مَعَ الْعُسْرِ يُسْرًا. (المعجم الأوسط(٧٣٠٧، صحيح جامع الصغير وزيادته، ٢/ ٦٨٠٦)

**ژباړه:** يقينا د الله تعالی مرسته له صبر سره ده او له غم نه خلاصون، له غم سره دی او بې شکه له تنگسې سره پراختيا هم شته دی.

د رسول الله صلی الله عليه وسلم دې حديث کې درې سترې بدلې له دريبو ازموينو پورې تړلي، مرسته او بريا له صبر سره، له غم نه وروسته خلاصی له غم سره او پراخې او اسانې له تنگسې سره تړلې، ښايي مؤمن پر دې نبوي زيرو خوشحاله شي او د بريا، خوشحالۍاو پراختيا انتظار وباسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د دوشنبې د ورځې ځانګړنې!

﴿۲۱۳﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ، قَالَ: «وُلِدَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْإِثْنَيْنِ، وَاسْتُنْبِئَ يَوْمَ الْإِثْنَيْنِ، وَخَرَجَ مُهَاجِرًا مِنْ مَكَّةَ إِلَى الْمَدِينَةِ يَوْمَ الْإِثْنَيْنِ، وَقَدِمَ الْمَدِينَةَ يَوْمَ الْإِثْنَيْنِ، وَتُوُفِّيَ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَوْمَ الْإِثْنَيْنِ وَرَفَعَ الْحَجَرَ الْأَسْوَدَ يَوْمَ الْإِثْنَيْنِ».(مسند امام أحمد (۲۵۰٦))

**ژباړه:** ابن عباس رضي الله عنه وايي:

رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوشنبې په ورځ زېږېدلی د دوشنبې په ورځ نبوت ورکول شوی، د دوشنبې په ورځ يې له مکې نه مدينې ته هجرت کړی، مدينې ته د دوشنبې په ورځ ننوتی او د دوشنبې په ورځ وفات شوی او حجر اسود يې هم د دوشنبې په ورځ پورته کړی و.

﴿۲۱۴﴾ عَنْ عَائِشَةَ، قَالَتْ: كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «يَتَحَرَّى يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَالْخَمِيسِ».(السنن الكبرى للنسائي (۲٦۸۲))

**ژباړه:** عائشه رضي الله عنها وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به د دوشنبې او پنجشنبې د ورځو د روژو کلکه پاملرنه کوله.

﴿۲۱۵﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: تُعْرَضُ الأَعْمَالُ يَوْمَ الِاثْنَيْنِ وَالخَمِيسِ، فَأُحِبُّ أَنْ يُعْرَضَ عَمَلِي وَأَنَا صَائِمٌ.(سنن الترمذي (۷۴۷))

**ژباړه:** ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: د دوشنبې او پنجشنبې په ورځو کې د (بنده ګانو) چارې الله تعالى ته وړاندې کولی شي، ځما دا خوښېږي، چې عمل مې داسې وخت کې الله تعالى ته وړاندې شي چې زه روژه يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نبوي ترافيكي اصول!

﴿۲۱٦﴾ عَنْ سَفِينَةَ، رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ جَالِسًا فَمَرَّ رَجُلٌ عَلَى بَعِيرٍ وَبَيْنَ يَدَيْهِ قَائِدٌ وَخَلْفَهُ سَائِقٌ، فَقَالَ: «لَعَنَ اللَّهُ الْقَائِدَ وَالسَّائِقَ وَالرَّاكِبَ».(مسند البزار (۳۸۳۹، مجمع الزوائد، ۴۳۷/۱)

**ژباړه:** سفينه رضي الله عنها وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم ناست و، يو سړی پر اوښ سپور و تېرېده، مخې ته يې يو قائد (مخکې تلونکي) او شاته يې سائق (شړونکی) و، رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: د الله تعالى لعنت پر مخکې تلونکي، شړونکي او سپور درې واړو دی.

﴿۲۱۷﴾ عَنِ الْمُهَاجِرِ بْنِ قُنْفُذٍ، قَالَ: رَأَى رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةً عَلَى دَابَّةٍ فَقَالَ: «الثَّالِثُ مَلْعُونٌ».

(المعجم الكبير للطبراني (۷۸۲، مجمع الزوائد، ۱/ ۴۳۸)

**ژباړه:** مهاجر بن قنفذ وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم درې کسان ولېدل چې پر حيوان يو ځای سپاره وو، رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: دريم کس لعنتي دی.

## د شهيد مرغلرين تاج!

﴿۲۱۸﴾ لِلشَّهِيدِ عِنْدَ اللهِ سَبْعُ خِصَالٍ: يُغْفَرُ لَهُ فِي أَوَّلِ دَفْعَةٍ مِنْ دَمِهِ وَيَرَى مَقْعَدَهُ مِنَ الْجَنَّةِ وَيُحَلَّى حُلَّةَ الإِيمَانِ وَيُزَوَّجُ اثْنَيْنِ وَسَبْعِينَ زَوْجَةً مِنَ الْحُورِ الْعِينِ وَيُجَارُ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَيَأْمَنُ مِنَ الْفَزَعِ الأَكْبَرِ وَيُوضَعُ عَلَى رَأْسِهِ تَاجُ الْوَقَارِ الْيَاقُوتَةُ مِنْهُ خَيْرٌ مِنَ الدُّنْيَا وَمَا فِيهَا وَيَشْفَعُ فِي سَبْعِينَ إِنْسَاناً مِنْ أَهْلِ بَيْتِهِ.(الجامع الصغير وزيادته (۹۳۱۳) عن المقدام بن معدي كرب)

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** د شهيد لپاره د الله تعالى په وړاندې اووه ځانګړنې دي، د وينې د لومړي څاڅکي سره ورته ښښنه کېدلى شي، جنت کې يې د استوګنې ځاى ورښودلى شي، د ايمان پر جوړه ښايسته کولى شي، د ښايسته سترګو لرونکو حورو څخه دوه اويا حورې ور ودولى شي، د قبر له عذابه ساتلى شي، د قيامت د ورځې د لويې وېرې نه په امن کېږي، د وقار او عزت مرغلرين تاج يې پر سر ايښودلى شي، هغه چې يوه مرغلره يې د دنيا او دنيا کې له شته څيزونو غوره ده او د کورنۍ د اويا کسانو په اړه يې شفاعت قبلولى شي.

## څاروي پر مخ مه وهئ او مه يې داغئ!

﴿۲۱۹﴾ عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مُرَّ عَلَيْهِ بِحِمَارٍ قَدْ وُسِمَ فِي وَجْهِهِ، فَقَالَ «أَمَا بَلَغَكُمْ أَنِّي قَدْ لَعَنْتُ مَنْ وَسَمَ الْبَهِيمَةَ فِي وَجْهِهَا أَوْ ضَرَبَهَا فِي وَجْهِهَا؟» فَنَهَى عَنْ ذَلِكَ.(سنن أبي داود (۲۵٦۴))

**ژباړه:** جابر رضي الله عنه وايي:

د نبي صلى الله عليه وسلم مخې ته يو خر تېر کړى شو، چې خاوند يې پر مخ داغلى و، رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: ايا تاسې ته دا خبر نه دى رسېدلى چې ما پر هغوى لعنت ويلى چې څاروى پر مخ داغي او يا يې پر مخ وهي، بيا يې هغه له دې چارې منع کړ.

## برکتي ژوي!

﴿۲۲۰﴾ عَنْ عُرْوَةَ الْبَارِقِيِّ، يَرْفَعُهُ، قَالَ: «الْإِبِلُ عِزٌّ لِأَهْلِهَا، وَالْغَنَمُ بَرَكَةٌ، وَالْخَيْرُ مَعْقُودٌ فِي نَوَاصِي الْخَيْلِ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ».(سنن ابن ماجه (۲۳۰۵))

**ژباړه:** عروة البارقي رضي الله عنه د حديث راوي دى:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: اوښان د خپلو خاوندانو لپاره عزت

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی، مېرېږ برکت دی او خیر د قیامت تر ورځې پورې د آسونو په تنديو کې دی، یانې ورسره لازم او تړلی دی.

﴿۲۲۱﴾ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «عَلَيْكُمْ بِأَلْبَانِ الْبَقَرِ فَإِنَّهَا تَرِمُّ مِنْ كُلِّ شَجَرٍ، وَهُوَ شِفَاءٌ مِنْ كُلِّ دَاءٍ».(المستدرك على الصحيحين للحاكم (۸۲۲۴))

**ژباړه:** عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: **تل د غواګانو شېدې وخورئ، ځکه دا له هر بوټي نه خوراک کوي او شېده يې له هرې ناروغۍ نه شفا (درملنه) ده.**

﴿۲۲۲﴾ **دې حديث لپاره نور شواهد هم شته يو يې دا دی:**

عَن صهيب الخير، قال: قال رسول الله صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسلَّم: عَلَيْكُمْ بِأَلْبَانِ الْبَقَرِ فَإِنَّهَا شِفَاءٌ وَسِمْنُهَا دَوَاءٌ.(الطب النبوي لأبي نعيم الأصفهاني (۷٦٦))

**ژباړه: صهيب الخير رضي الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: تل د غواګانو شېدې خورئ، بې شکه په دې کې شفا ده او غوړي يې دوا ده.**

## د ايمان ذره!

﴿۲۲۳﴾ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ أَنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: يَخْرُجُ مِنَ النَّارِ قَوْمٌ بَعْدَ مَا احْتَرَقُوا فَيَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ فَيُسَمِّيهِمْ أَهْلُ الْجَنَّةِ الْجَهَنَّمِيِّينَ.(الجامع الصغير وزيادته (۱۴۰۲۰))

**ژباړه:** أنس رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: **له دوزخ څخه به داسې خلک را وايستلی شي چې ټول به سوځېدلي وي، دوی به جنت ته ننوځي او جنتيان به يې پر جهنميانو نوموي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿٢٢٤﴾ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الخُدْرِيِّ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: يُخْرَجُ مِنَ النَّارِ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنَ الإِيمَانِ.(سنن الترمذي (٢٥٩٨) حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ)

**ژباړه:** ابو سعيد الخدري رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: هغه څوک به له دوزخ څخه راوځي، چې د ذرې په اندازه ايمان يې په زړه کې وي.

## څلوېښت ورځې يې لمونځ نه قبلېږي!

﴿٢٢٥﴾ عَبْدَ اللَّهِ بْنَ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ , يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْخَمْرُ أُمُّ الْخَبَائِثِ وَمَنْ شَرِبَهَا لَمْ يَقْبَلِ اللَّهُ مِنْهُ صَلَاةً أَرْبَعِينَ يَوْمًا، فَإِنْ مَاتَ وَهِيَ فِي بَطْنِهِ مَاتَ مَيْتَةً جَاهِلِيَّةً».(سنن الدار قطني(٤٦١٠))

**ژباړه:** عبدالله بن عمرو رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: شراب د ټولو خباثتونو او پليتيو اصل او بنسټ دی، څوک يې چې و څکي، څلوېښت ورځې يې لمونځ نه قبلېږي، که مړ شي او په ګېډه کې يې شراب وي، نو د جاهليت په مرګ مړ کېږي.

## دوزخ!

﴿٢٢٦﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ مَسْعُودٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يُؤْتَى بِجَهَنَّمَ يَوْمَئِذٍ لَهَا سَبْعُونَ أَلْفَ زِمَامٍ، مَعَ كُلِّ زِمَامٍ سَبْعُونَ أَلْفَ مَلَكٍ يَجُرُّونَهَا».(صحيح مسلم (٢٨٤٢) سنن الترمذي (٢٥٧٣))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** عبدالله بن مسعود رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: د قيامت په ورځ به دوزخ په داسې حال کې راوستلی شي، چې اويا زره واګې به پکې پرتې وي، له هرې واګې سره به اويا زره ملائک وي، چې دوزخ به را کاږي.

## زه بادشاه يم!

﴿٢٢٧﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: يَأْخُذُ الْجَبَّارُ سَمَوَاتَهُ وَأَرْضَهُ بِيَدِهِ ثُمَّ يَقُولُ أَنَا الْجَبَّارُ أَنَا الْمَلِكُ أَيْنَ الْجَبَّارُونَ؟ أَيْنَ الْمُتَكَبِّرُونَ؟.(الجامع الصغير وزيادته (١٣٩٦٩))

**ژباړه:** عبدالله بن عمر رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: زور ور ذات به د قيامت په ورځ اسمانونه او ځمکې په يو لاس کې ونيسي، بيا به ووايي: زه زور وريم، زه بادشاه يم! زور ور چېرې دي؟ کبرجن چېرې دي؟

## د قرآن قاري ته پنځه ستر زيري!

﴿٢٢٨﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: يَجِيءُ الْقُرْآنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَيَقُولُ: يَا رَبِّ حَلِّهِ فَيُلْبَسُ تَاجَ الْكَرَامَةِ ثُمَّ يَقُولُ: يَا رَبِّ زِدْهُ فَيُلْبَسُ حُلَّةَ الْكَرَامَةِ ثُمَّ يَقُولُ: يَا رَبِّ ارْضَ عَنْهُ فَيَرْضَى عَنْهُ فَيَقُولُ: اقْرَأْ وَارْقَ وَيُزَادُ بِكُلِّ آيَةٍ حَسَنَةً.

(سنن الترمذي (٢٩١٥) الجامع الصغير وزيادته (١٣٩٩٠))

**ژباړه:** ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: قرآن به د قيامت په ورځ راشي وبه وايي: ای ربه! د قرآن کريم دا (حافظ، عالم) سينګار کړه! نو ده ته به د عزت تاج ور په سر کړی شي، بيا به ووايي: ای ربه! سينګار يې ور زيات کړه! بيا به د عزت جوړه ور واغوستلی شي، قرآن کريم به بيا رب ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړاندیز وکړې، ای ربه! راضي شه ترې! الله تعالی به ترې راضي شي، الله تعالی به د قرآن کریم (حافظ، قاري) ته ووايي: لوله! او پورته کېږه، د هر آیت لوستلو سره به ورته يوه نيکي زياتولی شي.

## ورېښمين باد!

﴿۲۲۹﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ اللَّهَ يَبْعَثُ رِيحًا مِنَ الْيَمَنِ أَلْيَنَ مِنَ الْحَرِيرِ، فَلَا تَدَعُ أَحَدًا فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ حَبَّةٍ مِنْ إِيمَانٍ إِلَّا قَبَضَتْهُ».(۱)

**ژباړه:** ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: بې شکه الله تعالی به د يمن له لوري يو باد (هوا) رالېږي، چې له ورېښمو به ډېره نرمه وي، هيڅ داسې کس به نه پرېږدي چې په زړه کې يې د سپېلني يا اوري دانې هومره ايمان وي، مگر روح به يې اخلي.

## غوره وزير!

﴿۲۳۰﴾ عَنِ الْقَاسِمِ بْنِ مُحَمَّدٍ قَالَ: سَمِعْتُ عَمَّتِي عَائِشَةَ تَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ وَلِيَ مِنْكُمْ عَمَلًا فَأَرَادَ اللهُ بِهِ خَيْرًا جَعَلَ لَهُ وَزِيرًا صَالِحًا، إِنْ نَسِيَ ذَكَّرَهُ، وَإِنْ ذَكَرَ أَعَانَهُ».(سنن النسائي (۴۲۰۴) الجامع الصغير وزيادته(۱۱۵۴۲))

**ژباړه:** قاسم بن محمد وايي:

د خپلې عمې عائشې رضي الله عنها نه مې اورېدلي، چې ويل يې: رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: په تاسې کې چې چاته څه دنده (چاره) وسپارلی شي او الله تعالی هغه ته د خير ښېگڼې اراده وکړي؛ نو

---

۱: صحيح مسلم (۱۱۷) المستدرك على الصحيحين للحاكم (۸۴۰٦)

(c) ketabton.com: The Digital Library



نېک وزير ورته وټاکي، که څه خبره ترې هېرېږي هغه يې وريادوي او که په ياد يې وي، نو مرسته ورسره کوي.

﴿۲۳۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ يَسَّرَ عَلَى مُعْسِرٍ، يَسَّرَ اللَّهُ عَلَيْهِ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ».(سنن ابن ماجه (۲۴۱۷) حکم الألباني صحيح)

**ژباړه:** ابو هريرة رضي الله عنه وايي:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: څوک چې له تنګلاسي سره اساني وکړي، الله تعالى به پرې دنيا او آخرت کې اساني وکړي.

﴿۲۳۲﴾ عَنْ جَرِيرَ بْنَ عَبْدِ اللَّهِ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ لاَ يَرْحَمُ لاَ يُرْحَمُ».(صحيح البخاري (۶۰۱۳))

**ژباړه:** جرير بن عبدالله رضى الله عنه دحديث راوي دى:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: څوک چې رحم نه کوي پر هغه رحم نه شي کېدلی.

## منندوی اوسه!

﴿۲۳۳﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ لَا يَشْكُرُ النَّاسَ لَا يَشْكُرُ اللَّهَ».(سنن الترمذي (۱۹۵۴) حکم الألباني. صحيح)

**ژباړه:** ابو هريرة رضي الله عنه وايي:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: څوک چې د خلکو شکريه نه ادا کوي، د الله تعالى شکريه نه شي ادا کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿۲۳۴﴾ عَنْ ثَوْبَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ يَتَكَفَّلُ لِي، أَنْ لَا يَسْأَلَ النَّاسَ، وَأَتَكَفَّلُ لَهُ بِالْجَنَّةِ؟».(المعجم الكبير للطبراني(۱۴۳۳))

**ژباړه:** ثوبان رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: څوک چې راته ددې خبرې ضمانت وکړي، چې له خلکو نه به د څه شي سوال نه کوي، زه به هغه ته د جنت ضمانت ورکوم.

## د تورې تيکی او درې جملې!

﴿۲۳۵﴾ عَنْ جَعْفَرِ بْنِ مُحَمَّدٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ عَلِيٍّ قَالَ: لَمَّا أَنْ ضَمَّ إِلَيْهِ سِلَاحَهُ يَعْنِي النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: وَجَدْتُ فِي ذُؤَابَةِ أَوْ عِلَاقَةِ سَيْفِهِ ثَلَاثَةَ أَحْرُفٍ: «صِلْ مَنْ قَطَعَكَ، وَقُلِ الْحَقَّ وَلَوْ عَلَى نَفْسِكَ، وَأَحْسِنْ إِلَى مَنْ أَسَاءَ إِلَيْكَ».(معجم ابن الأعرابي(۱۵۰۷))

**ژباړه:** جعفر بن محمد د خپل پلار او هغه د علي رضي الله عنه نه روايت کړی، هغه مهال چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم وسله (توره) ورته ورسپېده، وايي: د تورې په تيکي کې مې درې جملې وموندې (لومړۍ جمله دا ده، له هغه چا سره اړيکه پاله، څوک يې چې در سره پرېکوي، (دويمه جمله دا وه) حق وايه، که څه هم چې ستا د ځان په اړه وي، (درېمه جمله يې دا وه) له هغه چا سره احسان کوه، څوک چې درسره بد کوي.

﴿۲۳۶﴾ جَرِيرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ حُرِمَ الرِّفْقَ، حُرِمَ الْخَيْرَ أَوْ مَنْ يُحْرَمِ الرِّفْقَ، يُحْرَمِ الْخَيْرَ».(صحيح مسلم (۲۵۹۲))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** جرير بن عبدالله رضي الله عنه د حديث راوي دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې له نرمۍ نه بې برخې کړی شو په (حقيقت) کې له خير ښېګڼې بې برخې کړی شو.

﴿٢٣٧﴾ عَنْ عَائِشَةَ، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «يَا عَائِشَةُ» إِنَّ اللهَ رَفِيقٌ يُحِبُّ الرِّفْقَ، وَيُعْطِي عَلَى الرِّفْقِ مَا لَا يُعْطِي عَلَى الْعُنْفِ، وَمَا لَا يُعْطِي عَلَى مَا سِوَاهُ.(صحيح مسلم(٢٥٩٣))

**ژباړه:** عائشة رضي الله عنها د رسول الله صلی الله علیه وسلم مېرمن وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: ای عائشې! بې شکه الله تعالی د نرمۍ او مهربانۍ ښښتن دی او نرمي خوښوي او په نرمۍ بنده ته هغه څه ورکوي چې په سخت خويۍ يې نه ورکوي او په دې خوی هغه څه ورکوي چې په بل خوی يې نه ورکوي.

﴿٢٣٨﴾ عَنْ عَائِشَةَ، زَوْجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: إِنَّ الرِّفْقَ لَا يَكُونُ فِي شَيْءٍ إِلَّا زَانَهُ، وَلَا يُنْزَعُ مِنْ شَيْءٍ إِلَّا شَانَهُ.(صحيح مسلم (٢٥٩٤))

**ژباړه:** د رسول الله صلی الله علیه وسلم له مېرمن عائشې رضي الله عنه څخه روايت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: بېشکه نرمي چې په کوم څيز کې وې هغه څيز پرې ښايسته وي او له کوم څيز څخه چې نرمي وکښلی شي، هغه څيز بدرنګه ښکاري.

## پياوړی هوډ له پياوړي مؤمن سره!

﴿٢٣٩﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْمُؤْمِنُ الْقَوِيُّ، خَيْرٌ وَأَحَبُّ إِلَى اللهِ مِنَ الْمُؤْمِنِ الضَّعِيفِ، وَفِي كُلٍّ

(c) ketabton.com: The Digital Library



خَيْرٌ احْرِصْ عَلَى مَا يَنْفَعُكَ، وَاسْتَعِنْ بِاللهِ وَلَا تَعْجَزْ، وَإِنْ أَصَابَكَ شَيْءٌ، فَلَا تَقُلْ لَوْ أَنِّي فَعَلْتُ كَانَ كَذَا وَكَذَا، وَلَكِنْ قُلْ قَدَرُ اللهِ وَمَا شَاءَ فَعَلَ، فَإِنَّ لَوْ تَفْتَحُ عَمَلَ الشَّيْطَانِ».(صحیح مسلم (۲۶۶۴))

**ژباړه:** ابو هریرة رضي الله عنه د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: الله عزوجل ته له کمزوري مؤمن څخه پیاوړی مؤمن ډېر غوره او ګران دی، (که څه هم) چې په دواړو کې ښېګڼه ده، چې څه درته ګټه رسوي په اړه یې حرص او هوس کړه، له الله تعالی نه مرسته غواړه او مه کمزوری کېږه! که څه (غم یا خپګان) در ورسېږي، دا مه وایه، که دا او دا مې کړی وي (داسې به نه و شوي) بلکې وایه! د الله تعالی تقدیر دی، څه چې د الله تعالی خوښه شي هماغه کېږي، ځکه (لو) (کاش کلمه) د شیطان عمل پرنیزي.

**یادونه:** د حدیث په لومړنۍ جمله کې د مؤمن له پیاوړتیا نه، اصل مقصد، په اطاعت او عبادت کې پیاوړتیا ده، دغه راز دا نبوي حدیث په ټوله کې، پر پیاوړتیا، عقیدوي ځواک، هڅه او هاند، لوړ همت او تقدیر باندې را څرخیږي.

## کشمالي!

﴿۲۲۰﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ عُرِضَ عَلَيْهِ رَيْحَانٌ فَلَا يَرُدُّهُ، فَإِنَّهُ خَفِيفُ الْمَحْمِلِ طَيِّبُ الرِّيحِ».(صحیح مسلم (۲۲۵۳))

**ژباړه:** ابو هریرة رضي الله عنه د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: چا ته چې (کشمالي) یا بله کومه خوشبویي وړاندې کړی شي؛ نو نه دې یې ردوي؛ ځکه دا سپک بار دی (په اسانۍ سره وړل کېږي) او خوشبويي یې خوږه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿۲۲۱﴾ عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: إِذَا أُعْطِيَ أَحَدُكُمُ الرَّيْحَانَ فَلاَ يَرُدَّهُ فَإِنَّهُ خَرَجَ مِنَ الْجَنَّةِ.(سنن الترمذي (۲۷۹۱))

**ژباړه:** ابو عثمان النهدي رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: کله چې ستاسې یو کس ته کشمالی ورکړی شي، نو نه دې یې ردوي، ځکه دا له جنته راوتلی دی.

## بېړنی زېری!

﴿۲۲۲﴾ عَنْ أَبِي ذَرٍّ، قَالَ: قِيلَ لِرَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: أَرَأَيْتَ الرَّجُلَ يَعْمَلُ الْعَمَلَ مِنَ الْخَيْرِ، وَيَحْمَدُهُ النَّاسُ عَلَيْهِ؟ قَالَ: «تِلْكَ عَاجِلُ بُشْرَى الْمُؤْمِنِ».(صحيح مسلم (۲٦٤۲))

**ژباړه:** ابو ذر رضي الله عنه وایي:

یو سړي له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د هغه سړي په اړه و پوښتل: چې د خیر ښېګڼې چارې ترسره کوي او خلک یې له امله ستایي؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: دا د مؤمن لپاره بېړنی زېری دی!

## درې څیزونه مه رد کوه!

﴿۲۲۳﴾ عَنْ ابْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " ثَلَاثٌ لَا تُرَدُّ: الْوَسَائِدُ، وَالدُّهْنُ، وَاللَّبَنُ.(سنن الترمذي (۲۷۹۰) حكم الألباني، حسن)

**ژباړه:** ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: درې څیزونه نه شي رد کېدلی، بالخت، خوشبويي او شيدې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنه: د حديث مانا دا ده چې په دې درې څيزونو د مېلمه عزت کول اسانه چاره ده او دا د مېلمه لپاره د ډالۍ په څېر دي، نو مناسبه نه ده چې دا ډالۍ رد کړی شي.

## د ښځينو خوشبويي!

﴿۲۴۴﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «طِيبُ الرِّجَالِ مَا ظَهَرَ رِيحُهُ، وَخَفِيَ لَوْنُهُ، وَطِيبُ النِّسَاءِ مَا ظَهَرَ لَوْنُهُ، وَخَفِيَ رِيحُهُ».(سنن النسائي (۵۱۱۷) حكم الألباني صحيح)

ژباړه: ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: د نارينو خوشبويي، هغه ده چې رنګ يې ښکاره وي او بوی يې پټ وي او د ښځينو خوشبويي هغه ده چې رنګ يې ښکاره وي او بوی يې پټ وي.

## ادب!

﴿۲۴۵﴾ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا قَالَتْ: أُتِيَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِضَبٍّ فَلَمْ يَأْكُلْهُ، فَقُلْتُ: أَلَا نُطْعِمُهُ الْمَسَاكِينَ؟ قَالَ: «لَا تُطْعِمُوهُمْ مِمَّا لَا تَأْكُلُونَ».(مسند إمام أحمد (۲۵۱۱۰))

ژباړه: عائشه رضي الله عنها وايي: نبي صلی الله عليه وسلم ته سمساره راوړلی شوه، نبي صلی الله عليه وسلم تری هېڅ خوراک ونه کړ، ما ورته وويل: مسکينانو ته يې خوړو لپاره ورنه کړؤ؟

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: څه چې تاسې نه خورئ، هغه مسکينانو ته هم مه ورکوئ!.

﴿۲۴۶﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: لَقِيَتْهُ امْرَأَةٌ وَجَدَ مِنْهَا رِيحَ الطِّيبِ يَنْفَحُ، وَلِذَيْلِهَا إِعْصَارٌ، فَقَالَ: يَا أَمَةَ الْجَبَّارِ، جِئْتِ مِنَ الْمَسْجِدِ؟ قَالَتْ: نَعَمْ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



قَالَ: وَلَهُ تَطَيَّبْتِ؟ قَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ: إِنِّي سَمِعْتُ حِبِّي أَبَا الْقَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «لَا تُقْبَلُ صَلَاةٌ لِامْرَأَةٍ تَطَيَّبَتْ لِهَذَا الْمَسْجِدِ، حَتَّى تَرْجِعَ فَتَغْتَسِلَ غُسْلَهَا مِنَ الْجَنَابَةِ».(سنن أبي داود (۴۱۷۴) حكم الألباني: صحيح)

**ژباړه:** ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی، يوه ښځه له ده سره مخامخ شوه، چې ده ترې د خوشبويي احساس وکړ، يانې خوشبويي ترې خورېده، ابو هريرة رضي الله عنه ورته وويل: ای د جبار وينځې! له جومات نه راغلې؟ هغې وويل: هو، ابو هريرة رضي الله عنه ورته وويل: جومات ته د راتګ لپاره دې خوشبويي کارولې؟ ښځې وويل: هو، ابو هريرة رضي الله عنه وويل: د خپل ګران دوست ابو القاسم صلى الله عليه وسلم نه مې اورېدلي چې ويل يې: د هغې ښځې لمونځ نه قبليږي، چې د جومات لپاره يې خوشبويي کارولې وي، څو چې بېرته را ګرځي لاړه شي او له جنابت نه غسل وکړي.

## د جاهليت خويونه!

﴿۲۲۷﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، " قُلْتُ لِيَحْيَى: كِلَاهُمَا عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَالَ: نَعَمْ "، قَالَ: " شُعْبَتَانِ مِنْ أَمْرِ الْجَاهِلِيَّةِ لَا يَتْرُكُهُمَا النَّاسُ أَبَدًا: النِّيَاحَةُ، وَالطَّعْنُ فِي النَّسَبِ.(مسند إمام أحمد (۹۵۷۴))

**ژباړه:** ابو هريرة رضي الله عنه وايي: يحيى ته مې وويل: دواړه دې له نبي صلى الله عليه وسلم نه اورېدلي؟

هغه وويل: هو، رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: د جاهليت د زمانې له چارو څخه دوه چارې دي، چې هېڅکله يې خلک نه پرېږدي، يو پر مړو ژړا او ستاينې کول دي او دويم په نسب تورلګول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الله تعالى ته څلور ناخوښه څېرې!

﴿۲۲۸﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَرْبَعَةٌ يُبْغِضُهُمُ اللهُ الْبَيَّاعُ الْحَلَّافُ، وَالْفَقِيرُ الْمُخْتَالُ، وَالشَّيْخُ الزَّانِي وَالْإِمَامُ الْجَائِرُ».(السنن الكبرى للنسائي (۱۷۰۱))

**ژباړه:** ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: څلور کسان دي چې د الله تعالی نه خوښيږي، قسم خور پلورونکی، خوار کبرجن، بوډا زناکاره او ظالم بادشاه.

## اخرت يې په دنيا وپلوره!

﴿۲۲۹﴾ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ، قَالَ: مَرَّ أَعْرَابِيٌّ بِشَاةٍ، فَقُلْتُ: تَبِيعُنِيهَا بِثَلَاثَةِ دَرَاهِمَ؟، قَالَ: لَا وَاللَّهِ، ثُمَّ بَاعَنِيهَا، فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: «بَاعَ آخِرَتَهُ، بِدُنْيَاهُ».(صحيح ابن حبان (۴۹۰۹))

**ژباړه:** ابو سعيد الخدري رضي الله عنه وايي: يو کليوال سړي سره مېږه يا اوزه وه پر ما تېرېده ورته مې وويل: په درې درهمو يې را باندې پلورې؟ هغه وويل: پر الله تعالی سوګند، چې په دې يې نه پلورم! بيا يې پر همدې بيه خرڅه کړه، ما دا خبره رسول الله صلی الله عليه وسلم ته ياده کړه، رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: اخرت يې په دنيا وپلوره

## مړه شې، مه يې ځوروه!

﴿۲۲۹﴾ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: لَا تُؤْذِي امْرَأَةٌ زَوْجَهَا فِي الدُّنْيَا، إِلَّا قَالَتْ زَوْجَتُهُ مِنَ الْحُورِ الْعِينِ: لَا تُؤْذِيهِ، قَاتَلَكِ اللَّهُ، فَإِنَّمَا هُوَ عِنْدَكَ دَخِيلٌ يُوشِكُ أَنْ يُفَارِقَكِ إِلَيْنَا.(سنن الترمذي (۱۱۷۴) مسند إمام أحمد (۲۲۱۰۱))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** کومه مېرمن چې په دنیا کې خپل خاوند ځوروي او ضرر ورته رسوي، د ښایسته سترګو لرونکو له حورو څخه یې مېرمن وایي: مړه شې، مه یې ځوروه! دا خو له تاسره مېلمه دی نږدې ده چې له تا څخه را بېل شي او موږ ته راشي.

## ماشاءالله!

﴿۲۵۰﴾ عَنْ حُذَيْفَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: " لَا تَقُولُوا مَا شَاءَ اللَّهُ وَشَاءَ فُلَانٌ، وَلَكِنْ قُولُوا: مَا شَاءَ اللَّهُ ثُمَّ شَاءَ فُلَانٌ. (مسند إمام أحمد (۲۳۳٤۷))

**ژباړه:** حذیفه رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا حدیث روایت کړی، نبي کریم صلی الله علیه وسلم ویلي: داسې مه وایئ: که د الله تعالی خوښه شي او د فلانکی خوښه شي، بلکې داسې ووایئ: که د الله تعالی خوښه شي او بیا د فلانکی خوښه شي.

## د طوبی ونه او د جنتیانو جامې!

﴿۲۵۱﴾ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّ رَجُلًا قَالَ لَهُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، طُوبَى لِمَنْ رَآكَ وَآمَنَ بِكَ، قَالَ: «طُوبَى لِمَنْ رَآنِي وَآمَنَ بِي، ثُمَّ طُوبَى، ثُمَّ طُوبَى، ثُمَّ طُوبَى لِمَنْ آمَنَ بِي وَلَمْ يَرَنِي» ، قَالَ لَهُ رَجُلٌ: وَمَا طُوبَى؟ قَالَ: «شَجَرَةٌ فِي الْجَنَّةِ مَسِيرَةُ مِائَةِ عَامٍ، ثِيَابُ أَهْلِ الْجَنَّةِ تَخْرُجُ مِنْ أَكْمَامِهَا». (مسند إمام أحمد (۱۱٦۷۳) حسن لغيره)

**ژباړه:** ابو سعید الخدري رضي الله عنه د رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دا حدیث روایت کړی، یو سړي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: (طوبی) د هغه چا لپاره ده، چې ته یې لیدلی یې او پر تا یې ایمان

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړي دي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: (طوبی) د هغه چا لپاره ده، چې زه یې لیدلی یم او پر ما یې ایمان راوړی دی، بیا طوبی او بیا طوبی او بیا طوبی د هغه چا لپاره ده، چې پر ما یې ایمان راوړی او زه یې لیدلی نه یم! سړي ورته وویل: طوبی څه شی دی؟ دا په جنت کې یوه ونه ده، چې اوږدوالی یې د سل کلونو د مزل په اندازه دی، د جنتیانو جامې د هغې له پوستکې څخه راوځي او جوړېږي.

## د جومات مینه وال ته خلور ستر زیري!

﴿۲۵۲﴾ عَنْ سَعِيدٍ الْجُرَيْرِيِّ، عَنْ أَبِي عُثْمَانَ النَّهْدِيِّ، قَالَ: كَتَبَ سَلْمَانُ إِلَى أَبِي الدَّرْدَاءِ، يَا أَخِي لِيَكُنْ بَيْتُكَ الْمَسْجِدَ فَإِنِّي سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: الْمَسْجِدُ بَيْتُ كُلِّ تَقِيٍّ وَقَدْ ضَمِنَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ لِمَنْ كَانَتِ الْمَسَاجِدُ بُيُوتَهُم بِالرَّوْحِ، وَالرَّاحَةِ، وَالْجَوَازِ عَلَى الصِّرَاطِ إِلَى رِضْوَانِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ.(شعب الايمان (۲٦۸۹))

**ژباړه:** سعيد الجريري، وايي: ابو عثمان النهدي ويلي: چې سلمان ابو درداء رضي الله عنه ته په ليک کې ليکلي و: وروره، جومات دې ستا کور وي، بې شکه ما له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه اورېدلي، چې ويل يې: جومات د هر پرهېز ګار کور دی او په تحقيق سره الله عزوجل هغوی لپاره چې جوماتونه يې کورونه وي، د رحمت خوشحالی راحت او د الله عزوجل د رضا مندی لورته د صراط پر پل د ورتېرېدلو ضمانت کړی دی.

## دوه چارې چې د اخرت یاد تازه کوي!

﴿۲۵۳﴾ عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «عُودُوا الْمَرِيضَ، وَاتَّبِعُوا الْجَنَائِزَ، تُذَكِّرُكُمُ الْآخِرَةَ».(الأدب المفرد للبخاري (۵۱۸)).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** ابو سعيد الخدري رضي الله عنه د حديث راوي دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلي: د ناروغانو پوښتنه وکړئ او جنازو پسې لاړ شئ (دا چارې) تاسې ته اخرت دريادوي.

## رانجه او باڼه!

﴿۲۵۴﴾ عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «عَلَيْكُمْ بِالْإِثْمِدِ عِنْدَ النَّوْمِ، فَإِنَّهُ يَجْلُو الْبَصَرَ، وَيُنْبِتُ الشَّعَرَ».(سنن ابن ماجه (۳۴۹۶))

**ژباړه:** جابر رضي الله عنه د حديث راوي دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلي: د ويدېدو په مهال اثمد (رانجه) كوئ، ځكه دا نظر روښانه كوي او د (بڼو) وېښتان را شنه كوي.

﴿۲۵۵﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِنَّ خَيْرَ أَكْحَالِكُمُ الْإِثْمِدُ فَإِنَّهُ يَجْلُو الْبَصَرَ وَيُنْبِتُ الشَّعْرَ».(المستدرك على الصحيحين للحاكم (۸۲۴۸))

**ژباړه:** ابن عباس رضي الله عنه د حديث راوي دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلي: اثمد ستاسې لپاره غوره رانجه دي، نظر روښانه کوي او باڼه را شنه کوي.

## د ځمکې ګانه!

﴿۲۵۶﴾ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا، أَوْ يَزْرَعُ زَرْعًا، فَيَأْكُلُ مِنْهُ طَيْرٌ أَوْ إِنْسَانٌ أَوْ بَهِيمَةٌ، إِلَّا كَانَ لَهُ بِهِ صَدَقَةٌ».(صحيح البخاري (۲۳۲۰) صحيح مسلم (۱۵۵۳))

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: أنس رضي الله عنه د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: کوم مسلمان چې یوه ونه نهالوي او یا څه کرونده په ځمکه کې کوي، له دې ونې یا کروندې مرغان خوراک کوي، یا ترې انسانان او ژوي خوراک کوي، دده لپاره یې په بدل کې صدقه او ثواب دی.

یادونه: د ځمکې مخ پر کروندو، مېوو لرونکو او ډولي کوونکو ونو، بوټو و پوښې، هم ثواب، صدقه او هم د ځمکې لپاره سینګار او ګاڼه ده.

﴿۲۵۷﴾ عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يَغْرِسُ غَرْسًا إِلَّا كَانَ مَا أُكِلَ مِنْهُ لَهُ صَدَقَةً، وَمَا سُرِقَ مِنْهُ لَهُ صَدَقَةٌ، وَمَا أَكَلَ السَّبُعُ مِنْهُ فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ، وَمَا أَكَلَتِ الطَّيْرُ فَهُوَ لَهُ صَدَقَةٌ، وَلَا يَرْزَؤُهُ أَحَدٌ إِلَّا كَانَ لَهُ صَدَقَةٌ».(صحیح مسلم (۱۵۵۲))

ژباړه: جابر رضي الله عنه نه مرفوع حدیث روایت شوي:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: کوم مسلمان چې ( مېوه لرونکی ) بوټی کېنوي، ددې ونې ( بوټي ) نه چې څه خوړل کېږي، ده لپاره صدقه ده، که څه ترې په غلا وخوړلی شي ده لپاره صدقه ده، که ژوي او ځناور ترې خوراک کوي ده لپاره صدقه ده، که مرغان ترې خوراک کوي ده لپاره صدقه ده، که هر څوک ترې څه کموي او ( ګټه ترې اخلي ) دده لپاره صدقه ده.

## طلایي چانس!

﴿۲۵۸﴾ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنْ قَامَتِ السَّاعَةُ وَفِي يَدِ أَحَدِكُمْ فَسِيلَةٌ، فَإِنِ اسْتَطَاعَ أَنْ لَا تَقُومَ حَتَّى يَغْرِسَهَا فَلْيَغْرِسْهَا».(الأدب المفرد للبخاري (۴۷۹))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** أنس رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلي: که قيامت راشي او ستاسې د يو کس په لاس کې نيالگی وي، که د قيامت له قائميدلو (لړ) مخکې يې د نهالولو (چانس) پيداکړ، نو نهال دې يې کړي.

❖ دا حديث مؤمن انسان ته د ژوند په وروستيو شېبو کې د کار او زيار روحيه ورکوي او سپارښتنه کوي، که د قيامت د قائميدلو په وخت کې دې هم چانس پيداکړ، چې يو کوچنی نيالگی پر ځمکه کېنولی شي کېنوه يې، دا به ستا لپاره د ژوند په وروستيو شېبو کې د صدقې او ثواب طلايي چانس شي.

## اويا زره کسيزه ډله!

﴿۲۵۹﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «يَدْخُلُ الجَنَّةَ مِنْ أُمَّتِي زُمْرَةٌ هُمْ سَبْعُونَ أَلْفًا، تُضِيءُ وُجُوهُهُمْ إِضَاءَةَ القَمَرِ لَيْلَةَ البَدْرِ».(صحيح البخاري (۶۵۴۲))

**ژباړه:** ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی وايي:

له رسول الله صلی الله علیه وسلم نه مې اورېدلي، چې ويل يې: له امت څخه به مې اويازره کسېزه ډلگی، په داسې حال کې جنت ته ننوځي، چې مخونه به يې د څوارلسم د سپوږمۍ په څېر روښانه ځلېږي.

﴿۲۶۰﴾ عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «يَدْخُلُ أَهْلُ الجَنَّةِ الجَنَّةَ جُرْدًا مُرْدًا مُكَحَّلِينَ أَبْنَاءَ ثَلَاثِينَ أَوْ ثَلَاثٍ وَثَلَاثِينَ سَنَةً».(سنن الترمذي (۲۵۴۵))

**ژباړه:** معاذ بن جبل رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلي: جنتيان به جنت د ننوتلو په مهال لغړ زني، پر بدنونو به يې وېښتان نه وي، سترگې به يې ځاني تورې کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوې وي، د دېرشو او درې دېرشو کلونو په عمر به وي (يانې جنتيان به ټول سره همزولي وي).

﴿۲٦۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «يَدْخُلُ الْجَنَّةَ أَقْوَامٌ، أَفْئِدَتُهُمْ مِثْلُ أَفْئِدَةِ الطَّيْرِ».(صحيح مسلم (۲۸۴۰))

**ژباړه:** ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: جنت ته به داسې خلک ننوځي، چې زړونه يې د مرغانو په څېر وي.

## فقيرانو ته زېرې!

﴿۲٦۲﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «يَدْخُلُ فُقَرَاءُ الْمُسْلِمِينَ الْجَنَّةَ قَبْلَ أَغْنِيَائِهِمْ بِنِصْفِ يَوْمٍ، وَهُوَ خَمْسُ مِائَةِ عَامٍ».(مسند إمام أحمد (۸۵۲۱))

**ژباړه:** ابوهريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: مسلمان فقيران به له شتمنو مسلمانانو څخه نيمه ورځ يانې پنځه سوه کاله مخکې جنت ته ننوځي.

﴿۲٦۳﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: نِعْمَتَانِ مَغْبُونٌ فِيهِمَا كَثِيرٌ مِنَ النَّاسِ: الصِّحَّةُ وَالْفَرَاغُ.(مسند إمام أحمد (۸۵۲۱))

**ژباړه:** عبدالله بن عباس رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: دوه نعمتونه دي چې ډېری خلکو پکې تاوان کړی، (لومړی) نعمت روغتيا او دويم يې وزګارتيا ده.

﴿۲٦۴﴾ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «قُمْتُ عَلَى بَابِ الْجَنَّةِ، فَإِذَا عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْمَسَاكِينُ، وَإِذَا أَصْحَابُ الْجَدِّ مَحْبُوسُونَ، إِلَّا أَصْحَابَ النَّارِ، فَقَدْ أُمِرَ بِهِمْ إِلَى النَّارِ، وَقُمْتُ عَلَى بَابِ النَّارِ، فَإِذَا عَامَّةُ مَنْ دَخَلَهَا النِّسَاءُ».(صحيح مسلم (۲۷۳٦))

**ژباړه:** اسامة بن زيد رضي الله عنهما د حديث راوي دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د جنت په دروازه کې ودرېدم، په ټولیز ډول ډېر ورننوتونکي يې مسکینان وو، شتمن يې له (حساب) لپاره ایسار کړی شوي وو، مګر له دوی څخه دوزخیانو ته، دوزخ ته د تللو حکم شوی و او د دوزخ په دروازه کې ودرېدم، په ټولیز ډول، ډېر ورننوتونکي يې ښځې وې.

**يادونه:** ياني د دنيا او د دنيا له شتمنيو څخه برخمن او په دوی کې مخور خلک، د حساب لپاره ځنډول شوي وو، فقيرانو سره حساب نه کېږي او نه به دوی ایسارولی شي، بلکې له شتمنو څخه به پنځه سوه کلونه مخکې جنت ته ننوځي، څنګه چې نبوي حديث سره ثابت دي.(مختصر صحيح المسلم، ۵۴۷، ص)

## اسم اعظم!

﴿۲٦۵﴾ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ مَرَّ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِأَبِي عَيَّاشٍ زَيْدِ بْنِ الصَّامِتِ أَحَدِ بَنِي زُرَيْقٍ وَقَدْ جَلَسَ وَقَالَ اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّ لَكَ الْحَمْدُ لَا إِلَهَ إِلا أَنْتَ يَا مَنَّانُ يَا بَدِيعَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ ذَا الْجَلالِ وَالإِكْرَامِ فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِنَفَرٍ مَعَهُ مِنْ أَصْحَابِهِ هَلْ تَدْرُونَ مَا دَعَا بِهِ الرَّجُلُ قَالُوا اللَّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ لَقَدْ دَعَا اللَّهَ بِاسْمِهِ الأَعْظَمِ الَّذِي إِذَا دُعِيَ بِهِ أَجَابَ وَإِذَا سُئِلَ بِهِ أَعْطَى.(الاحاديث المختارة للحافظ المقدسي (۱۵۱۴))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** انس بن مالک رضي الله عنه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم پر أبو عیاش زید بن صامت رضي الله عنه ورتېرېده، عیاش رضي الله عنه له بني زُریق څخه دی، دی ناست و او دا دعا یې ویله:

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ بِأَنَّ لَكَ الْحَمْدُ لَا إِلَهَ إِلا أَنْتَ يَا مَنَّانُ يَا بَدِيعَ السَّمَوَاتِ وَالأَرْضِ ذَا الْجَلالِ وَالإِكْرَامِ.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپلې لارې ملګرو (صحابه و) ته وویل: پوهېږئ، دې سړي پر څه دعا وکړه؟

صحابه وویل:

الله او رسول یې ښه پوهېږي، رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: په تحقیق سره د الله نه یې په هغه اسم اعظم سره دعا وغوښته، چې دعا پرې وکړی شي قبلیږي او د څه شي سوال چې پرې له الله نه وکړی شي، هغه ورکول کېږي.

## د بښنې لپاره درې غوره چارې!

﴿۲۶۶﴾ عَن أَبِي بَكْرٍ الصديق قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا مِنْ مُسْلِمٍ يُذْنِبُ ذَنْبًا، ثُمَّ يَتَوَضَّأُ وَيُصَلِّي رَكْعَتَيْنِ، وَيَسْتَغْفِرُ اللَّهَ إِلَّا غَفَرَ لَهُ». (مسند أبي يعلى الموصلي(۱))

**ژباړه:** ابو بکر صدیق رضي الله عنه د حدیث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: کوم مسلمان چې څه ګناه وکړي، بیا اودس وکړي او دوه رکعاته لمونځ وکړي او له الله نه بښنه وغواړي، الله عزوجل ورته بښنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ژبه!

﴿٢٦٧﴾ أَنَّ عُمَرَ اطَّلَعَ عَلَى أَبِي بَكْرٍ وَهُوَ يَمُدُّ لِسَانَهُ، فَقَالَ: مَا تَصْنَعُ يَا خَلِيفَةَ رَسُولِ اللَّهِ؟ فَقَالَ: إِنَّ هَذَا أَوْرَدَنِي الْمَوَارِدَ، إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَيْسَ شَيْءٌ مِنَ الْجَسَدِ، إِلَّا وَهُوَ يَشْكُو ذَرَبَ اللِّسَانِ».(مسند أبي يعلى الموصلي(٥))

**ژباړه:** يو ځل عمر رضي الله عنه، ابو بکر الصديق رضي الله عنه وليده، چې خپله ژبه يې را ښکله، عمر رضي الله عنه ورته وويل:

اى د رسول الله صلى الله عليه وسلم خليفه! دا څه کوئ؟

ابو بکر رضي الله عنه وويل: همدې ژبې د هلاکت ځايونو ته ورسولم!

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي:

(د انسان په بدن کې داسې هيڅ څيز نشته، چې هغه دې د انسان د ژبې له بد والي شکايت نه کوي؟!)

﴿٢٦٨﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَوْلاَ بَنُو إِسْرَائِيلَ لَمْ يَخْنَزِ اللَّحْمُ، وَلَوْلاَ حَوَّاءُ لَمْ تَخُنْ أُنْثَى زَوْجَهَا الدَّهْرَ».(صحيح البخاري (٣٣٩٩) (١٤٧٠))

**ژباړه:** ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: که بني اسرائيل نه وی، غوښه به بدبويه شوی نه وی او که حواء (عليها السلام) نه وی، هيڅکله به ښځې له خپل خاوند سره خيانت نه وی کړی.

الله عزوجل بني اسرائيلو ته (من و سلوی) نازل کړل او له ذخيره کولو نه يې منع کړل، هغوی د الهی حکم خلاف د (من او سلوی) ذخيره کول پيل کړ، چې له امله يې من و سلوی خراب او بدبويه شو او له هماغه .اهيسي د غوښو ذخيره کول دود شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حواء دا خيانت وکړ، چې ادم علیه السلام یې له منع کړې شوې ونې څخه خوړو ته وهڅاوه، چې پایله کې ادم علیه السلام د الله د امر مخالفت وکړ او له هماغه راهیسې ښځو لپاره دا بنسټ کېښودلی شو، چې ښځې یې د خپلو خاوندانو په وړاندې چلوي.(الجامع بين الصحيحن (۴/ ۱۰۰))

## طلايي ملخان!

﴿۲۶۹﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: «بَيْنَمَا أَيُّوبُ يَغْتَسِلُ عُرْيَانًا، خَرَّ عَلَيْهِ رِجْلُ جَرَادٍ مِنْ ذَهَبٍ، فَجَعَلَ يَحْثِي فِي ثَوْبِهِ، فَنَادَاهُ رَبُّهُ يَا أَيُّوبُ أَلَمْ أَكُنْ أَغْنَيْتُكَ عَمَّا تَرَى، قَالَ بَلَى يَا رَبِّ، وَلَكِنْ لاَ غِنَى لِي عَنْ بَرَكَتِكَ».(صحيح البخاري (۳۳۹۱))

**ژباړه:** ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: أيوب علیه السلام په لوڅ حالت کې غسل کاوه، چې د طلايي ملخانو یوه ډله یا برخه پرې راوغورځېدل، أيوب علیه السلام په بیړه د هغوی پر ټولولو پیل وکړ، ټولول یې او څادر کې یې اچول، الله عزوجل پرې غږ وکړ: ایوبه! ایا ته مې له دې ځیزونو څخه شتمن او بې پروا کړی نه یې؟

ايوب علیه السلام وويل: هوکې څما ربه! له دې ځیزونو دې بې پروا کړی یم؛ مگر ستا له برکته شتمن او بې پروا نه یم.

﴿۲۷۰﴾ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: يَا خَيْرَ الْبَرِيَّةِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «ذَاكَ إِبْرَاهِيمُ عَلَيْهِ السَّلَامُ».(صحيح مسلم (۲۳۶۹))

**ژباړه:** انس بن مالک رضي الله عنه وايي: يو سړی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغی او رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



يَا خَيْرَ الْبَرِيَّةِ! رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: دا ابراهیم علیه السلام دی.

﴿٢٧١﴾ عَنْ أَنَسِ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَتْبَعُ الْمَيِّتَ ثَلَاثَةٌ، فَيَرْجِعُ اثْنَانِ وَيَبْقَى وَاحِدٌ، يَتْبَعُهُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَعَمَلُهُ، فَيَرْجِعُ أَهْلُهُ وَمَالُهُ وَيَبْقَى عَمَلُهُ».(صحيح المسلم (٢٩٦٠))

**ژباړه:** انس بن مالک رضي الله عنه د حدیث راوي دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: له مړي سره تر هدیرې پورې دری څیزونه ځي، دوه ترې بېرته راګرځي او یو ورسره پاتې کېږي، اهل، مال او عمل ورسره ځي، اهل او مال ترې بېرته را ګرځي او عمل يې ورسره پاتې کېږي.

## سل مېرمنې!

﴿٢٧٢﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: " قَالَ سُلَيْمَانُ بْنُ دَاوُدَ عَلَيْهِمَا السَّلَامُ: لَأَطُوفَنَّ اللَّيْلَةَ بِمِائَةِ امْرَأَةٍ، تَلِدُ كُلُّ امْرَأَةٍ غُلَامًا يُقَاتِلُ فِي سَبِيلِ اللَّهِ، فَقَالَ لَهُ الْمَلَكُ: قُلْ إِنْ شَاءَ اللَّهُ، فَلَمْ يَقُلْ وَنَسِيَ، فَأَطَافَ بِهِنَّ، وَلَمْ تَلِدْ مِنْهُنَّ إِلَّا امْرَأَةٌ نِصْفَ إِنْسَانٍ " قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: لَوْ قَالَ: إِنْ شَاءَ اللَّهُ لَمْ يَحْنَثْ، وَكَانَ أَرْجَى لِحَاجَتِهِ.(صحيح البخاري(٥٢٤٢))

**ژباړه:** ابو هریرة رضي الله عنه وایي: سلیمان د داود علیه السلام ځوی ویلي و: نن شپه به هرو مرو له خپلو سلو مېرمنو سره یو ځای کېږي، هره یوه مېرمن به یو ځوی زېږوي، چې بیا به د الله عزوجل په لاره کې جهاد کوي، ملائک ورته وویل: ان شاء الله ووایه! سلیمان علیه السلام له خپلو ټولو مېرمنو سره یو ځای شو؛ مګر ان شاء الله يې ونه ویله او ترې هیره

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوه، له سلو مېرمنو څخه يې يوازې يوې مېرمنې يو نيمګړی ماشوم وزېږاوه.

رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: كه (سليمان عليه السلام) ان شاء الله ويلی وی، نه به حانث كېده (يانې قسم به يې نه ماتېده) او د خپل حاجت د پوره كېدا هيله به يې هم لرلی.

## د زبور تلاوت!

﴿٢٧٣﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ «خُفِّفَ عَلَى دَاوُدَ عَلَيْهِ السَّلاَمُ القُرْآنُ، فَكَانَ يَأْمُرُ بِدَوَابِّهِ فَتُسْرَجُ، فَيَقْرَأُ القُرْآنَ قَبْلَ أَنْ تُسْرَجَ دَوَابُّهُ، وَلاَ يَأْكُلُ إِلَّا مِنْ عَمَلِ يَدِهِ».(صحيح البخاري (٣٤١٧))

**ژباړه:** ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: داود عليه السلام ته د زبور تلاوت اسان كړی شوی و، حكم به يې وكړ، چې سورلۍ دې ورته زين كړی شي، د سورليو د زين كولو وړاندې به يې د زبور تلاوت كاوه او د خپل لاس له ګټې به يې خوراک كاوه.

## هره ناروغي درمل لري!

﴿٢٧٤﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا أَنْزَلَ اللَّهُ دَاءً إِلَّا أَنْزَلَ لَهُ شِفَاءً».(صحيح البخاري (٥٦٧٨))

**ژباړه:** ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: الله عزوجل هيڅ ناروغي، له شفاء او درمل پرته نه ده را لېږلې، (يانې د هرې ناروغۍ لپاره درمل شته).

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿۲۷۵﴾ عَنْ جَابِرٍ، عَنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ: «لِكُلِّ دَاءٍ دَوَاءٌ، فَإِذَا أُصِيبَ دَوَاءُ الدَّاءِ بَرَأَ بِإِذْنِ اللهِ عَزَّ وَجَلَّ».(صحيح مسلم (۲۲۰۴))

**ژباړه:** جابر رضي الله عنه له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه حديث نقل کړی، چې د هرې ناروغۍ لپاره دوا (درمل) شته، کله چې دوا ناروغۍ ته ورسيږي، د الله عزوجل په حکم سره ناروغي جوړيږي.

## نبوي وقايه!

﴿۲۷۶﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا يُورِدُ الْمُمْرِضُ عَلَى الْمُصِحِّ».(صحيح مسلم (۲۲۲۱))

**ژباړه:** ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: ناروغ (پمن) اوښان دې له روغو سره يو ځای، په گودر نه شي اوبه کولی.

﴿۲۷۷﴾ عَنْ عَمْرِو بْنِ الشَّرِيدِ، عَنْ أَبِيهِ، قَالَ: كَانَ فِي وَفْدِ ثَقِيفٍ رَجُلٌ مَجْذُومٌ، فَأَرْسَلَ إِلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «إِنَّا قَدْ بَايَعْنَاكَ فَارْجِعْ».(صحيح مسلم (۲۲۳۱))

**ژباړه:** عمرو بن شريد رضي الله عنه وايي: د ثقيف په پلاوي کې يو سړی پر جذام (خوړونکی) ناروغۍ اخته و، رسول الله صلى الله عليه وسلم د پلاوي مخې ته استازی ور ولېږه او ورته يې وويل: چې پر خوړونکې ناروغۍ اخته کس ته ووايه، موږ له تاسره بيعت کړی، ته څه بېرته وگرځه.

**يادونه:** دا حديث روښانه دليل دی، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم پوهېده، چې جذام له يو نه بل ته لېږدېدونکې ناروغي ده؛ ځکه يې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې کس سره بيعت ونه کړ او د بېرته ګرځېدلو حکم يې ورته وکړ، ددې لپاره چې دده ناروغي نوروته ونه لېږدول شي.

❖ او دا د توکل خلاف نه دي؛ څنګه چې عمر رضي الله عنه ابو عبيدة بن عامر الجراح رضي الله عنه ته ويلي و:

نَفِرُّ مِنْ قَدَرِ اللهِ إِلَى قَدَرِ اللهِ.(صحيح مسلم (۲۲۱۹))

**ژباړه:** موږ د الله له تقدير څخه د الله د تقدير پر لور تېښته کوو.

❖ عمر رضي الله عنه له جهادي پوځ سره بېرته مدينې منورې ته وګرځېده او د شام ځمکې ته ځکه داخل نه شو، چې هلته وبا خوره شوې وه.

❖ ځينې، د ناروغۍ د نه لېږدېدلو په اړه د جابر رضي الله عنه په روايت حديث دليل کې راوړي، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د جذام په ناروغۍ اخته کس سره خوراک کړی، رسول الله صلى الله عليه وسلم جذامي ته وويل: خوره! پر الله تعالى مې توکل او باور دی.

❖ او دا ضعيف حديث دی، دغه راز د رسول الله صلى الله دا چاره د نبوي ثابت توکل ښکارندويي کوي؛ ځکه هغه سيد المتوکلين و، پاتې شوه د ناروغيو نه ځان ساتنه او د اسبابو کارول د اسلامي عقيدې او شرعي توکل خلاف نه دي، اسلام د وقايې اصل ته ژمن دين دی.(فاروقي)

## تبه، بدن صفا کوي!

﴿۲۷۸﴾ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللهِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، دَخَلَ عَلَى أُمِّ السَّائِبِ أَوْ أُمِّ الْمُسَيِّبِ فَقَالَ: «مَا لَكِ؟ يَا أُمَّ السَّائِبِ أَوْ يَا أُمَّ الْمُسَيِّبِ تُزَفْزِفِينَ؟» قَالَتْ: الْحُمَّى، لَا بَارَكَ اللهُ فِيهَا، فَقَالَ: «لَا تَسُبِّي الْحُمَّى، فَإِنَّهَا تُذْهِبُ خَطَايَا بَنِي آدَمَ، كَمَا يُذْهِبُ الْكِيرُ خَبَثَ الْحَدِيدِ».(صحيح مسلم (۲۵۷۵))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** جابر رضي الله عنه وايي: رسول الله صلی الله علیه وسلم د أم السائب يا أم المسيب كور ته ورغی، ام السائب یې ولیده، چې لړزې یې بدن نیولی و، ورته یې وویل: ام السائب څنګه لړزې نیولې یې؟
ام السائب رضي الله عنها وويل: تبې نیولې یمه، الله دې یې بې برکته کړي!
رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل: تبې ته کنځل مه کوه، دا د بنیادم ګناهونه داسې له منځه وړي څنګه چې بټۍ د اوسپنې خیري له منځه وړي او صفا کوي یې.

## عجوه خرما، شفاء ده!

﴿۲۷۹﴾ عَنْ سَعْدِ بْنِ أَبِي وَقَّاصٍ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ تَصَبَّحَ بِسَبْعِ تَمَرَاتٍ عَجْوَةً، لَمْ يَضُرَّهُ ذَلِكَ الْيَوْمَ سُمٌّ، وَلَا سِحْرٌ».(صحيح مسلم (۲۰۴۷))

**ژباړه:** سعد بن أبي وقاص رضي الله عنه وايي:
له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اورېدلي، ویل یې: څوک چې هره ورځ په سحر کې اووه دانې عجوه خرما وخوري، په دغه ورځې ورته نه زهر او نه کوډې ضرر رسولی شي.

﴿۲۸۰﴾ عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ فِي عَجْوَةِ الْعَالِيَةِ شِفَاءً أَوْ إِنَّهَا تِرْيَاقٌ، أَوَّلَ الْبُكْرَةِ».(صحيح مسلم (۲۰۴۸))

**ژباړه:** عائشه رضي الله عنها ويلي: رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: بې شکه د مدینې د برنۍ برخې عجوه کې شفا ده او دا د ورځې په پیل کې د تریاق په څېر ګټه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## توره دانه!

﴿٢٨١﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ فِي الْحَبَّةِ السَّوْدَاءِ شِفَاءً مِنْ كُلِّ دَاءٍ، إِلَّا السَّامَ وَالسَّامُ الْمَوْتُ وَالْحَبَّةُ السَّوْدَاءُ الشُّونِيزُ».(صحيح مسلم (٢٢١٥))

**ژباړه:** ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: په توره دانه کې د مرگ پرته له هرې ناروغۍ نه شفاء ده، سام مرگ دی او توره دانه شونيز دی.

﴿٢٨٢﴾ عَنْ سَعِيدِ بْنِ زَيْدٍ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «الْكَمْأَةُ مِنَ الْمَنِّ الَّذِي أَنْزَلَ اللهُ عَلَى مُوسَى، وَمَاؤُهَا شِفَاءٌ لِلْعَيْنِ».(صحيح مسلم (٢٠٤٩))

**ژباړه:** سعيد بن زيد رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: ځمکنۍ غوښه له هغه (من) چې الله عزوجل، موسی عليه السلام ته را لېږلی و، اوبه يې د سترگو لپاره شفا (درملنه) ده.

## بې علمه طبيب!

﴿٢٨٣﴾ عَنْ عَمْرِو بْنِ شُعَيْبٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ تَطَبَّبَ، وَلَا يُعْلَمُ مِنْهُ طِبٌّ، فَهُوَ ضَامِنٌ».(سنن أبي داود (٤٥٨٦))

**ژباړه:** عمرو بن شعيب رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: څوک چې له طبي پوهې پرته د چا څه درملنه وکړي (که هغه کس زيانمن شي) نو دا يې ذمه وار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يادونه:** ښايي نيمه روغتيا پالان او هغه كسان چې له طبي پوهې پرته د ناروغانو درملنه كوي، دې نبوي سپارښتنې ته پام وكړي او په لوی لاس ځان او هم نور زيانمن نه كړي.

## الله تعالى ته گران خلک!

﴿۲۸۴﴾ أَحَبُّ النَّاسِ إِلَى اللهِ تَعَالَى أَنْفَعُهُمْ لِلنَّاسِ ».(سلسلة الأحاديث الصحيحة، ۹۰٦)

**ژباړه:** عبد الله بن عمرو رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: الله عزوجل ته ډېر گران په خلكو كې هغه څوک دی، چې خلكو لپاره ډېر گټور وي.

يادونه: كه غواړې چې غوره انسان شې او پر خپل حقيقي رب تعالى گران شې، د الله بنا،ه گانو ته د گټې او ښېگڼې چارې برابر وه، مرسته ورسره كوه، كه مالي او كه معنوي مرسته وي په دې ستر خوی به دوه گټې تر لاسه كړې، لومړی دا چې الله عزوجل ته به گران شې او دويم دا چې د هغه مخلوق ته به گران شې او په زړونو كې به يې ځای ولرې.

﴿۲۸۵﴾ «مَنِ اقْتَطَعَ شِبْرًا مِنَ الْأَرْضِ ظُلْمًا، طَوَّقَهُ اللهُ إِيَّاهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ مِنْ سَبْعِ أَرَضِينَ».(صحيح مسلم (۱٦۱۰))

**ژباړه:** څوک چې يوه لوېشت ځمكه، پر ظلم سره لاندې كړي، الله عزوجل به اووه ځمكې، د قيامت په ورځ هغه ته په غاړه كې هار (طوق) كړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## گوته او سمندر؟!

﴿٢٨٦﴾ عَنْ مُسْتَوْرِدًا، أَخَا بَنِي فِهْرٍ، يَقُولُ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَاللهِ مَا الدُّنْيَا فِي الْآخِرَةِ إِلَّا مِثْلُ مَا يَجْعَلُ أَحَدُكُمْ إِصْبَعَهُ هَذِهِ - وَأَشَارَ يَحْيَى بِالسَّبَّابَةِ - فِي الْيَمِّ، فَلْيَنْظُرْ بِمَ تَرْجِعُ؟».(صحيح مسلم، ٢٨٥٨)

**ژباړه:** مستورد د فهر ورور د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلي: په الله سوګند! دنيا د اخرت په بدل کې نه ده؛ مګر په شان د هغه چا چې له تاسي نه خپله دا ګوته، (يحيی سبابې ګوتې ته اشاره وکړه) سمندر کې ننباسي، بيا دې وګوري، چې له ګوتې سره يې څه را پورته کيږي؟!.

## د مرستې ادرس!

﴿٢٨٧﴾ عَنْ مُصْعَبِ بْنِ سَعْدٍ، قَالَ: فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «هَلْ تُنْصَرُونَ وَتُرْزَقُونَ إِلَّا بِضُعَفَائِكُمْ».(صحيح البخاري (٢٨٩٦))

**ژباړه:** مصعب بن سعد رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ويلي: له تاسې سره، د کمزورو خلکو له امله مرسته کېدلی شي او روزي درکولی شي.

## وصيت ليکل!

﴿٢٨٨﴾ عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عُمَرَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا: أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَا حَقُّ امْرِئٍ مُسْلِمٍ لَهُ شَيْءٌ يُوصِي فِيهِ، يَبِيتُ لَيْلَتَيْنِ إِلَّا وَوَصِيَّتُهُ مَكْتُوبَةٌ عِنْدَهُ».(صحيح البخاري (٢٧٣٨))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** عبدالله بن عمر رضي الله عنه د حديث راوي دی:
رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: له کوم مسلمان انسان سره چې د وصيت وړ او مناسب څه څيز وي؛ نو هغه دې دوه شپې هم داسې نه تېروي؛ مګر چې وصيت يې ورسره ليکلی وي.

## وارث ته وصيت کول نه شته!

﴿۲۸۹﴾ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ البَاهِلِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي خُطْبَتِهِ عَامَ حَجَّةِ الوَدَاعِ: إِنَّ اللَّهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى قَدْ أَعْطَى لِكُلِّ ذِي حَقٍّ حَقَّهُ، فَلاَ وَصِيَّةَ لِوَارِثٍ.(سنن الترمذي (۲۱۲۰))

**ژباړه:** ابو امامة الباهلي رضي الله عنه د حديث راوي دی، دا وايي:
د حجة الوداع په کال مې له رسول الله صلی الله عليه وسلم نه په خطبه کې اورېدلي چې ويل يې: بې شکه الله تبارک وتعالی د هر حق خاوند ته خپل حق ورکړی، د همدې له امله وارث لپاره وصيت نه شته.

**يادونه:** اسلامي عالمان وايي: وارث لپاره وصيت کول روا نه دي، ځکه الله د ميراث په علم کې د هر چا برخې معلومې کړي دي؛ مګر هغه مهال وصيت کوونکی د وارث لپاره وصيت کولی شي، چې نور وارثان يې اجازه ورکړي.(منهاج المسلم، للعلامة ابو بکر الجزائري (۳۲۶))

## څلور پر حقيقي مانا وپېژنئ!

﴿۲۹۰﴾ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «المُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ المُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ، وَالمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللَّهُ عَنْهُ».(صحيح البخاري(۱۰))

و زاد الترمذي والنسائي: وَالمُؤْمِنُ مَنْ أَمِنَهُ النَّاسُ عَلَى دِمَائِهِمْ وَأَمْوَالِهِمْ.(صحيح الترمذي(۲۶۲۷))

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: عبدالله بن عمرو رضي الله عنهما د حديث راوي دی:
رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: (حقيقي) مسلمان هغه دی، چې نور مسلمانان يې د ژبې او لاس له ضرره بچ وي او (حقيقي) مهاجر هغه دی، څوک چې د الله عزوجل له منع کړی شوو څيزونو څخه هجرت کوي.

د ترمذی او نسائی په روايت کې ورسره دا هم زيات شوي او (حقيقي) مؤمن هغه دی، چې نورو خلکو پر خپلو وينو او مالونو امانتکار (امين) ګرځولی وي.

## د مؤمن زندان!

﴿۲۹۱﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الدُّنْيَا سِجْنُ الْمُؤْمِنِ، وَجَنَّةُ الْكَافِرِ».(صحيح مسلم،۲۹۵٦)

ژباړه: ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی:
رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: نړۍ (دنيا) د مؤمن لپاره زندان او د کافر لپاره جنت دی.

يادونه: په دې نبوي حديث کې دنيا له زندان سره تشبيې شوې ده، مسلمان پکې د ډېرې اوږد مهالې خوښۍ احساس نه کوي او الهي ثابتو اصولو او پاملرنې ته ځان ژمن بولي، د الله عزوجل د رحمت هيله لري او له عذاب نه يې ځان په امن کې نه نيسي،کافر بيا د مسلمان په خلاف، په ټوله مانا ځان ازاد بولي او د دنيا کور د هر اړخيزو خوشحاليو او نعمتونو ډېره ځای بولي، حديث دليل دی، چې مسلمان به په دنيا کې په مطلق ډول ازاد نه وي، څنګه چې کافر په دنيا کې په مطلق ډول ځان ازاد بولي بلکې مسلمان به قدم په قدم د الله عزوجل قوانينو او فرامينو ته ژمن وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د شکر لاره!

﴿۲۹۲﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «انْظُرُوا إِلَى مَنْ أَسْفَلَ مِنْكُمْ، وَلَا تَنْظُرُوا إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقَكُمْ، فَهُوَ أَجْدَرُ أَنْ لَا تَزْدَرُوا نِعْمَةَ اللهِ عَلَيْكُمْ».(صحيح مسلم (۲۹٦٣))

**ژباړه: ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی:**

**رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: هغوی ته گورئ چې د (ژو کچه او شتمنی) کې له تاسې نه لاندې مرتبه کې دي او هغوی ته مه گورئ، چې (د ژوند په کچه او شتو) کې له تاسې پورته دي، دا لاره دې لپاره ډېره لایقه ده، چې تاسې دې د هغو نعمتونو سپکاوی ونه کړئ، چې الله پر تاسې لورولي دي.**

## ډالۍ!

﴿۲۹۳﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ , عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: تَهَادُوا تَحَابُّوا.(السنن الكبرى للبيهقي (١١٩٤٦))

**ژباړه: يو بل ته ډالۍ ورکوئ، دې سره مو خپلمنځي مینه زیاتیږي.**

## ډالۍ قبوله کړه!

﴿۲۹۴﴾ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا، قَالَتْ: «كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقْبَلُ الهَدِيَّةَ وَيُثِيبُ عَلَيْهَا».(صحيح البخاري (٢٥٨٥))

**ژباړه: عائشه رضي الله عنها وايي:**

رسول الله صلی الله علیه وسلم به ډالۍ قبلوله او هم به یې بدل کې ډالۍ ورکوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ښالي بدله!

﴿٢٩٥﴾ عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عُمَرَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنِ اسْتَعَاذَ بِاللَّهِ فَأَعِيذُوهُ، وَمَنْ سَأَلَ بِاللَّهِ فَأَعْطُوهُ، وَمَنْ دَعَاكُمْ فَأَجِيبُوهُ، وَمَنْ صَنَعَ إِلَيْكُمْ مَعْرُوفًا فَكَافِئُوهُ، فَإِنْ لَمْ تَجِدُوا مَا تُكَافِئُونَهُ، فَادْعُوا لَهُ حَتَّى تَرَوْا أَنَّكُمْ قَدْ كَافَأْتُمُوهُ».(سنن أبي داود (١٦٧٢))

**ژباړه:** عبدالله بن عمر رضي الله عنهما د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: څوک چې د الله پر نوم له تاسو پناه وغواړي هغه ته پناه ورکړئ او څوک چې د الله پر نوم له تاسو څخه سوال وکړي؛ نو ور يې کړئ او څوک چې تاسو ته بلنه درکړي بلنه يې قبوله کړئ او څوک چې لهٔ تاسې سره ښه وکړي؛ نو بدله يې ورکړئ که د بدلې ورکولو لپاره مو څه ونه موندل؛ نو دعا ورته وکړئ، څو تاسې پوه شئ چې د هغه بدله مو ورکړه.

## اسانه نبوي ښالي!

﴿٢٩٦﴾ عَنْ أُسَامَةَ بْنِ زَيْدٍ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَنْ صُنِعَ إِلَيْهِ مَعْرُوفٌ فَقَالَ لِفَاعِلِهِ: جَزَاكَ اللَّهُ خَيْرًا فَقَدْ أَبْلَغَ فِي الثَّنَاءِ.(سنن الترمذي (٢٠٣٥) حسن غريب)

**ژباړه:** اسامة بن زيد رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: له چا سره چې ښېګڼه وکړی شوه او دی ښېګڼه کوونکي ته ووايي: الله دې تاته غوره بدله درکړي؛ نو ده د هغه ډېره ستاينه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د قرآن دریمه برخه!

﴿۲۹۷﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ تَعْدِلُ ثُلُثَ الْقُرْآنِ».(صحيح مسلم (۸۱۱) سنن ابن ماجه (۳۷۸۷))

ژباړه: ابو هريرة رضي الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د «قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ» سورت لوستل د قران کریم د دریېمې برخې برابر دي.

## د سترګو جنت!

﴿۲۹۸﴾ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: " إِنَّ اللَّهَ قَالَ: إِذَا ابْتَلَيْتُ عَبْدِي بِحَبِيبَتَيْهِ فَصَبَرَ، عَوَّضْتُهُ مِنْهُمَا الجَنَّةَ.(صحيح البخاري (۵۶۵۳))

ژباړه: انس بن مالک رضي الله عنه وايي:

له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې اورېدلي، چې ویل یې: بې شکه الله عزوجل ویلي: کله چې زه خپل بنده د سترګو پر (ناروغۍ) وازمویم او دی پرې صبر وکړي؛ نو د دواړو سترګو په بدل کې به جنت ورکړم.

## یهودي زلمی!

﴿۲۹۹﴾ عَنْ أَنَسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، قَالَ: كَانَ غُلاَمٌ يَهُودِيٌّ يَخْدُمُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَمَرِضَ، فَأَتَاهُ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَعُودُهُ، فَقَعَدَ عِنْدَ رَأْسِهِ، فَقَالَ لَهُ: «أَسْلِمْ»، فَنَظَرَ إِلَى أَبِيهِ وَهُوَ عِنْدَهُ فَقَالَ لَهُ: أَطِعْ أَبَا القَاسِمِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَأَسْلَمَ، فَخَرَجَ النَّبِيُّ صَلَّى

(c) ketabton.com: The Digital Library



اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ يَقُولُ: «الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَنْقَذَهُ مِنَ النَّارِ».(صحيح البخاري (١٣٥٦))

**ژباړه:** انس رضي الله عنه وايي:

يو يهودي هلک و، د رسول الله صلی الله عليه وسلم خدمت به يې کاوه، هغه ناروغ شو، نبي صلی الله عليه وسلم د هغه پوښتنې ته ورغی او سرته يې کېناست، رسول الله صلی الله عليه وسلم هغه ته وويل: اسلام قبول کړه! هلک خپل پلار ته وکتل، پلار يې هم په هماغه ځای کې و، پلار يې ورته وويل: زويه د ابو القاسم صلی الله عليه وسلم اطاعت وکړه، ياني خبره يې ومنه! هلک اسلام ومانه، رسول الله صلی الله عليه وسلم يې له کوره را ووواته او ويل يې: ټولې ستاينې هغه ذات لره دي، چې دا هلک يې له اوره وژغوره!.

﴿٣٠٠﴾ لاَ تَتْرُكُوا النَّارَ فِي بُيُوتِكُمْ حِينَ تَنَامُونَ.(صحيح البخاري(٦٢٩٣))

**ژباړه:** عبدالله بن عمر رضي الله عنه له نبي صلی الله عليه وسلم څخه روايت کړی، نبي صلی الله عليه وسلم ويلي: د ويديدلو په مهال مو په کورونو کې اور (بل) مه پرېږدئ!.

**يادونه:** دا د نبي صلی الله عليه وسلم کلکه سپارښتنه ده، ښايي پاملرنه ورته وشي، نبي صلی الله عليه وسلم اور پر دښمن نومولی، چې ډېر ځلې د بې فهمۍ له امله ترې کورونه او د کورونو اوسېدونکي سوځېږي او خپل ژوند د لاسه ورکوي.

## ښايسته خوی، لوړه شتمني ده!

﴿٣٠١﴾ عَنْ أَبِي أُمَامَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَنَا زَعِيمٌ بِبَيْتٍ فِي رَبَضِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْمِرَاءَ وَإِنْ كَانَ مُحِقًّا، وَبِبَيْتٍ فِي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَسَطِ الْجَنَّةِ لِمَنْ تَرَكَ الْكَذِبَ وَإِنْ كَانَ مَازِحًا وَبِبَيْتٍ فِي أَعْلَى الْجَنَّةِ لِمَنْ حَسَّنَ خُلُقَهُ».(سنن أبي داود (۴۸۰۰))

**ژباړه:** ابو أمامة رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: زه د جنت په چاپېریال کې د هغه چا لپاره د کور زمه وار یم، چې جنګ جګړه پرېږدي، که څه هم چې پر حقه وي او د جنت په منځ کې، هغه چا لپاره د کور ذمه وار یم چې لوبو او ټوکو ټکالو کې هم دروغ پرېږدي او د جنت په لوړه مېنه کې هغه چا لپاره د کور ذمه وار یم، چې خویونه او اخلاق یې ښایسته وي.

## د ژوندیو کورونه!

﴿۳۰۲﴾ عَنِ ابْنِ عُمَرَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اجْعَلُوا فِي بُيُوتِكُمْ مِنْ صَلاَتِكُمْ وَلاَ تَتَّخِذُوهَا قُبُورًا».(صحيح البخاري (۴۳۲))

**ژباړه:** ابن عمر رضي الله عنه د حديث راوي دی:

رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: د (نفلي) لمونځونو څینې برخه مو کورونو لپاره ځانګړې کړئ او قبرونه ترې مه جوړوئ.

**یادونه:** «مِنْ صَلاَتِكُمْ» کې مِنْ د تبعیض لپاره دی او نفلي لمونځونه مراد دي.

- (قبرونه ترې مه جوړوئ) یانې تاسې د مړو په څېر مه کېږئ، څنګه چې هغوی پخپلو کورونو (قبرونو) کې لمونځونه نه کوي.(الجامع بين الصحيحين(ج۲/ ۱۲ص))

﴿۳۰۳﴾ عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «إِذَا قَضَى أَحَدُكُمُ الصَّلَاةَ فِي مَسْجِدِهِ، فَلْيَجْعَلْ لِبَيْتِهِ نَصِيبًا مِنْ صَلَاتِهِ، فَإِنَّ اللهَ جَاعِلٌ فِي بَيْتِهِ مِنْ صَلَاتِهِ خَيْرًا».(صحيح مسلم(۷۷۸))

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ژباړه:** جابر رضي الله عنه د حدیث راوي دی:
رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي: کله چې ستاسې یو کس (فرضي) لمونځ په جومات کې ادا کړي؛ نو د خپل کور لپاره دې د (نفلي) لمانځه څه برخه وټاکي، بې شکه، الله عزوجل یې په کور کې د لمانځه له امله خیر او برکت اچوي.

## د استخارې لمونځ!

﴿۳۰۴﴾ عَنْ جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: كَانَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يُعَلِّمُنَا الِاسْتِخَارَةَ فِي الأُمُورِ كُلِّهَا، كَمَا يُعَلِّمُنَا السُّورَةَ مِنَ القُرْآنِ، يَقُولُ: " إِذَا هَمَّ أَحَدُكُمْ بِالأَمْرِ، فَلْيَرْكَعْ رَكْعَتَيْنِ مِنْ غَيْرِ الفَرِيضَةِ، ثُمَّ لِيَقُلْ: اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ العَظِيمِ، فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلاَ أَقْدِرُ، وَتَعْلَمُ وَلاَ أَعْلَمُ، وَأَنْتَ عَلَّامُ الغُيُوبِ، اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي - أَوْ قَالَ عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ - فَاقْدُرْهُ لِي وَيَسِّرْهُ لِي، ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ، وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي - أَوْ قَالَ فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ - فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ، وَاقْدُرْ لِي الخَيْرَ حَيْثُ كَانَ، ثُمَّ أَرْضِنِي " قَالَ: «وَيُسَمِّي حَاجَتَهُ». (صحيح البخاري (٦٣٨٢))

**ژباړه:** جابر د عبدالله ځوی رضي الله عنهما وایي:
محمد رسول الله صلی الله علیه وسلم به موږ ته په چارو کې د استخارې لمونځ او دعا داسې را ښودله؛ څنګه به یې چې د قرآن کریم یو سورت را ښوده، رسول الله صلی الله علیه وسلم به ویل: کله چې ستاسې یو کس

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يو كار قصد او اراده وكړي؛ نو له كاره مخكې دې دوه ركعاته نفلي لمونځ وكړي، بيا دې دا دعا ووايي:

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْتَخِيرُكَ بِعِلْمِكَ وَأَسْتَقْدِرُكَ بِقُدْرَتِكَ، وَأَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ العَظِيمِ، فَإِنَّكَ تَقْدِرُ وَلاَ أَقْدِرُ، وَتَعْلَمُ وَلاَ أَعْلَمُ، وَأَنْتَ عَلَّامُ الغُيُوبِ، اللَّهُمَّ إِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ خَيْرٌ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي - أَوْ قَالَ عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ - فَاقْدُرْهُ لِي وَيَسِّرْهُ لِي، ثُمَّ بَارِكْ لِي فِيهِ، وَإِنْ كُنْتَ تَعْلَمُ أَنَّ هَذَا الأَمْرَ شَرٌّ لِي فِي دِينِي وَمَعَاشِي وَعَاقِبَةِ أَمْرِي - أَوْ قَالَ فِي عَاجِلِ أَمْرِي وَآجِلِهِ - فَاصْرِفْهُ عَنِّي وَاصْرِفْنِي عَنْهُ، وَاقْدُرْ لِي الخَيْرَ حَيْثُ كَانَ، ثُمَّ أَرْضِنِي.

او خپل حاجت دې په (زړه کې) ونوموي.

﴿۳۰۵﴾ عَنْ جَابِرٍ، «أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَمَرَ بِلَعْقِ الصَّحْفَةِ وَلَعْقِ الْأَصَابِعِ، فَإِنَّهُ لَا يَدْرِي فِي أَيِّ ذَلِكَ الْبَرَكَةُ».(مسند أبي يعلى الموصلي، ۱۸۳٦)(بسند صحيح)

**ژباړه:** جابر رضي الله عنه ويلي: بې شكه نبي صلى الله عليه وسلم (د خوراک په مهال) د كاسې او گوتو د څټلو حكم كړی؛ ځكه دا معلومه نه ده، چې په كوم يو كې به يې بركت وي.

﴿۳۰٦﴾ عَنْ جَابِرٍ، أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «أَطْفِئُوا الْمَصَابِيحَ».(مسند أبي يعلى الموصلي، ۱۸۳۷)(بسند صحيح)

**ژباړه:** جابر رضي الله عنه د حديث راوي دی، رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي: ډيوې او څراغونه مو د خوب په مهال مړه كړئ!

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿٣٠٧﴾ وَعَنْ جَابِرٍ، سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ قَبْلَ مَوْتِهِ بِثَلَاثٍ: «لَا يَمُوتَنَّ أَحَدٌ مِنْكُمْ إِلَّا وَهُوَ يُحْسِنُ الظَّنَّ بِاللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ».(مسند أبي يعلى الموصلي، ١٩٠٧)(رجاله رجال الصحيح)

**ژباړه:** جابر رضي الله عنه وايي: له نبي صلى الله عليه وسلم نه مې اوريدلي: چې له مرگ نه درې ورځې مخکې يې داسې ويل: له تاسې نه يو كس دې نه مري؛ مگر په داسې حال کې، چې پر الله عزوجل ښه گومان كوونكى وي.

﴿٣٠٨﴾ وَعَنْ جَابِرٍ، سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «إِنَّ عَرْشَ إِبْلِيسَ عَلَى الْبَحْرِ فَيَبْعَثُ سَرَايَاهُ يَفْتِنُونَ النَّاسَ فَأَعْظَمُهُ عِنْدَهُ أَعْظَمُهُ فِتْنَةً».(مسند أبي يعلى الموصلي، ١٩٠٩)(رجاله رجال الصحيح)

**ژباړه:** جابر رضي الله عنه وايي: له نبي صلى الله عليه وسلم نه مې اوريدلي، چې ويل يې: د ابليس تخت د سمندر د پاسه دى، له همدغه ځاى نه خپلې ډلړې استوي، چې خلک په فتنو کې اچوي، د ابليس په وړاندې د ستر مقام خاوند هغه دي، چې فتنه يې ستره وي، يانې چې انسان يې په ستره فتنه اخته کړى وي.

﴿٣٠٩﴾ عَنْ جَابِرٍ قَالَ: وُلِدَ لِرَجُلٍ مِنَّا غُلَامٌ فَسَمَّاهُ مُحَمَّدًا فَقَالَ لَهُ قَوْمُهُ: لَا نَدَعُكَ تُسَمِّيهِ بِاسْمِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَانْطَلَقَ بِابْنِهِ حَامِلَهُ عَلَى ظَهْرِهِ فَأَتَى بِهِ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وُلِدَ لِي غُلَامٌ فَسَمَّيْتُهُ مُحَمَّدًا، فَقَالَ لِي قَوْمِي: لَا نَدَعُكَ تُسَمِّيهِ بِاسْمِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَقَالَ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«تَسَمَّوْا بِاسْمِي، وَلَا تَكْتَنُوا بِكُنْيَتِي، فَإِنَّمَا أَنَا قَاسِمٌ أَقْسِمُ بَيْنَكُمْ».(مسند أبي يعلى الموصلي، ۱۹۱۵)(إسناده صحيح)

**ژباړه:** جابر رضي الله عنه وايي: په موږ کې د يو سړي زوی شوی و او د (محمد) پر نوم يې نومولی و، قوم يې ورته وويل: موږ تا نه پرېږدو، تا د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر نوم خپل زوی نومولی دی! سړی خپل زوی په شا کړ او رسول الله صلی الله عليه وسلم ته يې وروړ، ويې ويل: د الله استازيه! زوی مې شوی او پر محمد مې نومولی، خوم مې راته وايي: موږ تا نه پرېږدو، تا زوی د رسول الله صلی الله عليه وسلم پر نوم نومولی؛ رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: اولادونه مو زما پر نوم ونوموئ او زما پر کنيه يې مه نوموئ.

﴿۳۱۰﴾ عَنْ جَابِرٍ، قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «سَلُوا اللَّهَ عِلْمًا نَافِعًا وَتَعَوَّذُوا بِاللَّهِ مِنْ عِلْمٍ لَا يَنْفَعُ».(مسند أبي يعلى الموصلي، ۱۹۲۷)(إسناده حسن)

**ژباړه:** جابر رضي الله عنه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم ويلي: د الله نه د ګټور علم سوال کوئ او د هغه علم نه پر الله پناه وغواړئ، چې انسان ته ګټه نه رسوي.

﴿۳۱۱﴾ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسلم أمرت أَن أقرأعليك الْقُرْآنَ قَالَ فَقُلْتُ وَسَمَّانِي لَكَ رَبُّكَ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَقَرَأَ عَلَيَّ {قُلْ بِفَضْلِ اللَّهِ وبرحمته فبذلك فليفرحوا هُوَ خير مِمَّا يجمعُونَ}.(الأحاديث المختارة، ۱۲۲٦)(إسناده حسن)

**ژباړه:** أبي بن کعب رضي الله عنه د حديث راوي دی، دا وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم راته وويل: ماته حکم شوی چې تاته قرآن ولولم! أبي بن کعب رضي الله عنه وايي: ما وويل: رب عزوجل درته زما نوم يادکړی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: هو، ته يې په نوم ياد کړی يې، أبي بن کعب رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم راته د قرآن کريم دا ايت ولوست: {قُلْ بِفَضْلِ اللَّهِ وبرحمته فبذلك فليفرحوا هُوَ خير مِمَّا يجمعُونَ}.

﴿۳۱۲﴾ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يُوتِرُ بِثَلاثِ رَكَعَاتٍ كَانَ يَقْرَأُ فِي الأُولَى بِ {سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الأَعْلَى} وَفِي الثَّانِيَة ب {قل يَا أَيها الْكَافِرُونَ} وَفِي الثَّالِثَةِ {قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ} ويقنت قبل الركبوع فَإِذَا فَرَغَ قَالَ عِنْدَ فَرَاغِهِ سُبْحَانَ الْمَلِكِ القدوس ثَلَاث مَرَّات يُطِيل فِي آخِرهنَّ.(الأحاديث المختارة،۱۲۲۱، اسناده صحيح)

**ژباړه:** أبي بن کعب رضي الله عنه وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم به درې رکعاته وتر کول، په لومړي رکعت کې به يې: {سَبِّحِ اسْمَ رَبِّكَ الأَعْلَى} په دويم رکعت کې {قل يَا أَيها الْكَافِرُونَ} او په دریم رکعت کې به يې {قُلْ هُوَ اللَّهُ أَحَدٌ} سورتونه لوستل، دعاء قنوت به يې له رکوع مخکې لوستل، د سلام نه وروسته، چې له وترو به خلاص شو، درې ځلې به يې (سُبْحَانَ الْمَلِكِ القدوس) ويل او په وروستي ځل کې به يې پرې غږ اوږدوه، ياني غږ به يې پرې لوړوه.

﴿۳۱۳﴾ عَنْ أُبَيِّ بْنِ كَعْبٍ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَنَّهُ قَالَ إِنَّ الدَّجَّالَ عَيْنُهُ خَضْرَاءُ كَزُجَاجَةٍ وَنَعُوذُ بِاللَّهِ من عَذَاب الْقَبْرِ.(الأحاديث المختارة،۱۲۰۳ (إسْناده صَحِيح)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: أبي بن كعب رضي الله عنه د حديث راوي دی، نبي صلى الله عليه وسلم ويلي: د دجال يوه سترګه د ښيښې په څېر شنه ده او پر الله عزوجل، د قبر له عذاب (کړاوه) پناه وغواړئ!

﴿۳۱۴﴾ عَنِ الْبَرَاءِ بْنِ عَازِبٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ لِجَعْفَرِ بْنِ أَبِي طَالِبٍ: أَشْبَهْتَ خَلْقِي وَخُلُقِي.

(سنن الترمذي،۳۷٦٥، معالم السنة النبوية، ۳۸۲۹)(حديث حسن صحيح)

ژباړه: براء بن عازب رضي الله عنه د حديث راوي دی دا وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم جعفر رضي الله عنه ته ويلي و: ته په جوړښت او خويونو کې زما په څېر يې.

﴿۳۱۵﴾ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، كَانَ عَلَى جَبَلِ حِرَاءٍ فَتَحَرَّكَ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اسْكُنْ حِرَاءُ فَمَا عَلَيْكَ إِلَّا نَبِيٌّ، أَوْ صِدِّيقٌ، أَوْ شَهِيدٌ» وَعَلَيْهِ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، وَأَبُو بَكْرٍ، وَعُمَرُ، وَعُثْمَانُ، وَعَلِيٌّ، وَطَلْحَةُ، وَالزُّبَيْرُ، وَسَعْدُ بْنُ أَبِي وَقَّاصٍ، رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ.(صحيح مسلم، ٥٠، معالم السنة النبوية، ۳۸۲۲)

ژباړه: ابو هريرة رضي الله عنه وايي: يو ځل رسول الله صلى الله عليه وسلم د حراء پر غر ولاړ و، غر وخوځېده، رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: حراء ودرېږه، ارام شه! پر تا نه دي؛ مګر پېغمبر، صديق او شهيدان دي، دغه مهال د حراء د غره د پاسه، له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره ابو بكر صديق، عمر، عثمان، علي، طلحة، زبير او سعد بن أبي وقاص رضي الله عنهم ملګري وو.

﴿۳۱٦﴾ عَنْ عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا: أَرِقَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاتَ لَيْلَةٍ، فَقَالَ: «لَيْتَ رَجُلًا صَالِحًا مِنْ أَصْحَابِي يَحْرُسُنِي اللَّيْلَةَ» إِذْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



سَمِعْنَا صَوْتَ السِّلَاحِ، قَالَ: «مَنْ هَذَا؟»، قَالَ سَعْدٌ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، جِئْتُ أَحْرُسُكَ، فَنَامَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حَتَّى سَمِعْنَا غَطِيطَهُ.(صحيح البخاري، ٧٢٣١، معالم السنة النبوية، ٣٨٣٦)

**ژباړه:** عائشه رضي الله عنها وايي: يوه شپه د رسول الله صلى الله عليه وسلم د سترګو نه خوب لاړ، ويي ويل: کاشکې له صحابه و نه مې يو نېک سړي نن شپه څوکۍ کړې وى: نا څاپه مو د وسلې غږ واورېد، رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: دا څوک دى؟ وسله وال وويل: سعد يم، د الله استازيه! راغلم چې ستاسې څوکۍ (پيره) وکړم! عائشه رضي الله عنها وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم (ارام) ويده شو، تر دې چې د هغه د خوب خُګېروى مو واورېده.

﴿٣١٧﴾ عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ الخَلاَءَ، فَوَضَعْتُ لَهُ وَضُوءًا قَالَ: «مَنْ وَضَعَ هَذَا فَأُخْبِرَ فَقَالَ اللَّهُمَّ فَقِّهْهُ فِي الدِّينِ»، وفي رواية: قال: ضَمَّنِي رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَالَ: «اللَّهُمَّ عَلِّمْهُ الكِتَابَ»، وفي رواية له: قال: «اللَّهُمَّ عَلِّمْهُ الحِكْمَةَ».(صحيح البخاري، ١٤٣، ٧٥، ٣٧٥٦، معالم السنة النبوية، ٣٨٤٦)

**ژباړه:** عبدالله بن عباس رضي الله عنهما وايي: يو ځل نبي صلى الله عليه وسلم بيت الخلاء ته ننوت، ما ورته اوداسه لپاره اوبه کېښودې ويې ويل: دا اوبه چا اېښې دي؟ ورته وويل شو (عبدالله اېښې دي) رسول الله صلى الله عليه وسلم داسې دعا وکړه (اللَّهُمَّ فَقِّهْهُ فِي الدِّينِ) اى الله! په دين کې پوهه ورکړې! د صحيح البخاري په روايت کې راغلي: رسول الله صلى الله عليه وسلم خپلې سينې ته نږدې کړم او ويې ويل: اى الله! د قران علم ورکړې او د ده په يو روايت کې داسې دعا راغلې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



«اللَّهُمَّ عَلِّمْهُ الكِتَابَ وَ الحِكْمَةَ» ای الله! د کتاب او حکمت علم ورکړي، یانې د قران او سنت علمونه ورکړې.

﴿۳۱۸﴾ عَنْ أَنَسٍ، عَنْ أُمِّ سُلَيْمٍ، أَنَّهَا قَالَتْ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، أَنَسٌ خَادِمُكَ، ادْعُ اللَّهَ لَهُ، قَالَ: «اللَّهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهُ، وَوَلَدَهُ، وَبَارِكْ لَهُ فِيمَا أَعْطَيْتَهُ».(صحيح البخاري، ٦٣٧٨، معالم السنه النبوية، ٣٨٦٦)

**ژباړه:** أنس رضي الله عنه د ام سلیم رضي الله عنه نه روایت کړی، ام سلیم رضي الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وویل: د الله پیغمبره! انس ستا خدمتگار دی، د الله تعالی نه ده لپاره دعا وغواړه! رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته داسې دعا وکړه،

«اللَّهُمَّ أَكْثِرْ مَالَهُ، وَوَلَدَهُ، وَبَارِكْ لَهُ فِيمَا أَعْطَيْتَهُ» ای الله! شته (مال) او اولاد یې زیات کړې او ستا د لوري ورکړل شوي یې برکتي کړې.

﴿۳۱۹﴾ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ «أَنَّ رَجُلَيْنِ مِنْ أَصْحَابِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خَرَجَا مِنْ عِنْدِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فِي لَيْلَةٍ مُظْلِمَةٍ، وَمَعَهُمَا مِثْلُ المِصْبَاحَيْنِ يُضِيئَانِ بَيْنَ أَيْدِيهِمَا، فَلَمَّا افْتَرَقَا صَارَ مَعَ كُلِّ وَاحِدٍ، مِنْهُمَا وَاحِدٌ حَتَّى أَتَى أَهْلَهُ» وفي رواية: كَانَ أُسَيْدُ بْنُ حُضَيْرٍ، وَعَبَّادُ بْنُ بِشْرٍ عِنْدَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ.(صحيح البخاري، ٤٦٥، ٣٨٠٥، معالم السنة النبوية، ٣٨٧١)

**ژباړه:** انس رضي الله عنه وایي: دوه کسان صحابه په توره شپه کې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د (کور یا دربار) نه ووتل، له دې دواړو سره د ډیوو په څیر د رڼا دوه وسیلي وې، چې د دوی مخه به یې رڼا او روښانوله، کله به چې دواړه جدا شو له هر یو سره به کورنۍ ته د رسېدا پورې، یوه رڼا ملگرې وه.

و صلی الله تعالی علی خیر خلقه محمد و علی اله و صحبه وسلم

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**